# داوسني ژورنالیزم نچوړ

## (له نويو زياتونو او سمونو سره )




Ketabton.com

ليکوال : استاد شيرشاه همدرد

## دليکوال لنډه پېژندنه



**زده کړه :** د پښتو ادبياتو ماسټر

شيرشاه همدرد د الحاج ګل جان زوی،په ۱۳۵۳ ل - کال د ننګرهار د بهسودو په ولسوالۍ کې وزيږيد،له ادب او فرهنګ سره يې مينه په فطرت کې اخښل شوی وه.

دی لا دمنځني ښوونځي زده کوونکي و،چې له شعر اوادب سره يې دژورې مينې له امله د ښوونځي په ځانګړو غونډو کې پر دريغ را ځرګند شو.

دده فطري جرءت او استعداد دي لا ډير وهڅاو او دويانديې په فن کې د ښوونځي ښوونکو او دده ټولګيوالو هڅوني دی د يو فعال او باجرته ويناند په توګه راوځلاوه.

په ۱۳۶۹ کال کې کله چې په ټول هيواد د ناپايه جګړې سيورې خپور و، دی د ننګرهار پوهنتون دادبياتو پوهنځي په پښتو څانګه کې د زده کړې لپاره کيناست او خپل فطري استعداد او ذوق ځروبوني ته يې لا ډيره مخه پرانيستل شوه.

Ketabton.com

په ۱۳۷۳ کال کله چې دی د ننګرهار پوهنتون څخه په اعلی درجه فارغ شو، نو پر هیواد د ویر، وحشت،ډار، وژنو، وهنو او تړنو یو سراسري سیوري خپور و، دخپل اسکیرلي،نتلي او ځپلې ټولنې د محرومو خو مقاومو خلکو د غږ اوچتولو په موخه یې ژورنالیزم ته مخه وکړه او ادبیات، فرهنګ او ژورنالیزم یې په یو وریښمین ادبي مزي سره وتړل او چې پر هیواد د یو ملي بدلون او اوښتون څپه راواوښته ، نو دی د ژورنالیزم په ډګر کې نومیالی شو.

په دغه ډګر کې دی هم د نورو غونډې دی هم وحشت او دهشت ، ویرې اوترهې په لاسونو او ګواښونو وویرول شو،وډار کړای شواو وځپل شو، خو دده ذهن ،فکر او قلم نه یوازې داچې پخ نه شو ، بلکې لا ډیر تیره شو او دریځ یې کلک او مقاوم شو.

نه یی د زندانونو پروا وساتله او نه یې د ویرې او ډار ... په ډاډه زړه یې د خپل ولس د غږ اوچتولو توغ په لاس کې رپانده وساته ، سره له دې چې ژورنالیزم دده ادبي فعالیتونو لږ څه ټکنې کړل،خو دادی د لویو او نویو ادبي زیږونو او پنځونو لپاره دده د خلاق فطرت یوازې دمه اوساه اخیستنه وه.

اوس چې لږ له ساه ډوبې چاپیریال نه راوتلی،نو دادی خپل اصلي رسالت او مسوولیت ته بیا هڅیدلی، دکتابونو په لیکنو ، د سفرنامو ،

خاطرو ،یادداښتونو په خوندي کولو او دخپل زړه غبږ د خپل ولس او خلکو سره په شریکولو خپل ادبي مسولیت سرته رسوي .

د (نوي ژورنالیزم نچوړ)دده د وروستیو پنځونو بیلګه ده، وایي چې زده کړه له کوره ترګوره پکار ده، ښاغلی همدرد اوس اوس د پښتو ژبې ا وادبیاتو دماستری زده کړې بشپړې کړي او د ماستر په سویه ټولنې د خدمت لپاره وړاندې شوی، زه یې دادب ، فرهنګ ، ژورنالیزم او کولتوري پراختیا په ډګر کې تر دي دسترو بریاوو هیله من یم.

په درنښت

په اسلام او پښتونولی مین

محمد داود وفا

Ketabton.com

## دکتاب ځانګړنې :

==========================

دکتاب نوم : د اوسني ژورناليزم نچوړ

ليکوال : استاد شيرشاه همدرد

کمپوز : ليکوال

ډيزاين : ډاکټر انتظاراحمد همدرد

اړيکې : ۰۷۰۰۶۰۱۵۰۹

Sh.hamdard@yahoo.com

چاپ شمير : ۱۰۰۰ ټوکه

انلاين خپرونکې : کتابتون

Ketabton.com

# لومړی څپرکی

(د ژورنالېزم لغوي او اصطلاحي څېړنه او تاريخي شاليد)

ژورنالېزم داسې يوه اشنا کلمه ده، چې هر څوک ورسره علاقه پوهېږي، خو کېدای شي، په لري، په دوديز ډول يې په معنی هم لغوي معنی کې ګڼ شمېر خلک يې په مختلفو ډولونو وکاروي. ځينې خلک دا لغت انګرېزي بولي، ځينې فرانسوي او ځينې يې هم لاتيني.

وډېر کتابونه مطالعه کړي، د همداسې ما چې د ژورنالېزم لږ يو حالت سره مخ شوی يم، هڅه مې کړې، چې د دې لغت ريښه ومومم.

ژورنال، ژورنالست او ژورنالېزم، له اره هماغه د لاتيني ژبې ژورنال لغت دی، چې ست او يزم د وروستاړي په ډول ورسره يوځای شوي. د ژورنالست او ژورنالېزم اشتقاقونه يې جوړ کړي دي.

دا لا تيني لغت د فرانسوي ژبې له لارې انګرېزۍ ته داخل شوی دی، انګليسي ژپه چون د (ژ) توری نه لري، جورنالېزم شوی دی. د هغه مهال ژورنال معنی ورځني يادښتونه وو، چې خلکو به د ورځني کاروبار يادښتونو په خاطر د کاغذ پرمخ ليکل، اوس هم د پلور او پېر په دوکانونو کې د يادښت يوه کتابچه موجوده وي، چې دوکانداران يې روزنامچه بولي.

دغه راز هغه يادښتونو ته هم ويل کېده، چې ځينو خلکو به د ځان يا د نورو د ژوند پېښو په اړه ليکل، يا د ځينو جنګونو خاطرې به يې ثبتولې.

په ۱۴۵۶ زېږديز کال کې د جرمني (المان) په لومړي چاپخې (ګويتمبرګ) کې په يو ځل د ډېرو پاڼو د چاپېدو استانتيا

Ketabton.com

برابره شوه، دې کار د پيغام رسولو په چاره کې اسانتيا رامنځته کړه.

وروسته بيا د شپاړسمې ميلادي پېړۍ په وروستيو ، د کولن په ښار کې د ژورنال په نوم د پيغامونو، دولتي فرامينو او نوور ليکنو مجموعه د کتاب په شکل چاپېده او بيا به پر خلکو ويشل کېده.

په ۱۶۶۵ زېږديز کې د اروپا د انګلستان هېواد اکسفورد ښار کې په لومړي ځل يوه خبري پاڼه چې اوسنۍ بڼې ته ورته وه، له چاپه راووته.

دا هغه مهال و، چې شاهي کورنۍ د طاعون (وبا) ناروغۍ له وېرې د لندن نه اکسفورډ ته کډه شوې وه او د حکومت چارې له هغه ځايه اداره کېدې. د دې خبري پاڼې نوم اکسفورډ ګزېټ و، په اوونۍ کې دوه ځلې چاپېدله او اکثراً د شاهي کورنۍ د فعاليتونو خبرونه، فرامين او نور پکې خپرېدل، چې وروسته بيا په لندن ګزېټ بدله شوه.

دا چې ژورنالېزم د يو مسلک په توګه کله او څنګه راڅرګند شو، دا به د ژورنالېزم په تاريخچه کې پرې بحث وکړو، رابه شو ار موضوع ته.

ژورنالېزم ته په پاکستان او عربي هېوادنو کې صحافت وايي او هغه چاته چې په دې مسلک کې کار کوي، صحافي وايي، صحافت هماغه له صيحفو څخه اخيستل شوی، چې پر پيغمبرانو نازلې شوي، يعنې سپېڅلې ليکنې.

اسلامي تاريخ موږ ته دا ښيي، چې ۱۰۰ صحيفې او څلور کتابونه چې ټول اسماني دي، د الله(ج) له لوري پر پيغمبرانو د جبرائيل امين په واسطه رانازل شوي دي.

صحيفه له کتاب نه وړوکې وي، په دې صحيفو او مقدسو کتابونو کې د الله(ج) اوامر، نواهي، پيغامونه، د تېرو خلکو کيسې او نورې مقدسې خبرې وې، چې الله(ج) د خپلو بنده ګانو د لارښوونې لپاره رالېږلې وې. د صحافت له کليمې دا ثابتېږي، چې صحافت او ژورنالېزم يو مقدس مسلک دی، او دا هم ثابتېږي، چې

Ketabton.com

صحافت په ژورنالېزم مقدم وي، د يو مسلک په توګه نه، بلکې د لغوي شتون له کبله.

په هر حال اوس ژورنالېزم د رښتيا ويلو او حقيقت بيانولو د يو مسلک په توګه په بېلابېل ډول تعريف شوی دی.

## د ژورنالېزم پېژاند:

هماغسې چې نور ټولنيز علوم ټولمنلی تعريف نه لري، دغسې ژورنالېزم هم کوم ټولمنلی تعريف نه لري، هر يوه يا هر مسلکي يې له خپله انده پېژندنه وړاندې کوي، څوک يې د رښتيا او حقيقت ويلو مسلک ګڼي او څوک يې هم د پيغام رسولو، خپرونې، تفريح او بوختولو وسيله. هغوی چې د رښتيا او حقيقت ويلو پر تعريف ټينګار کوي، کره کتونکي يې په دې اند دي، چې ډېری واقعيتونه او حقيقتونه شته، چې ژورنالېزم يې نه څېړي، لکه رازونه، د والدينو د اړيکو څرنګوالی او دې ته ورته نور، دوی ټينګار کوي، چې هر حقيقت د ويلو نه دی، بلکې هغه واقعيتونه او رښتيا چې خلکو ته پر زړه پورې وي، د خلکو په ژوند په مستقيم او يا هم غير مستقيم ډول اغېز ولري او ټولنه پرمختګ او سمون خواته بيايي ژورنالېزم دی.

که د ژورنال لغوي څېړنې ته ځير شو، راته جوتېږي، چې ژورنال د يادښتونو ټولګه او ييزم مکتب ته وايي، يادښتونو کې طبعاً اطلاعات او خبرونه وي، که ووايو، چې ژورنالېزم يعنې خبري مکتب، نو تعريف به يې هم لږ روښانه شي.

په هر حال دلته به لومړی ژورنالېزم د پوهانو له نظره وڅېړو او بيا به د خپلې تجربې په اساس د خپل فکر تعريف هم وړاندې کړم.

Ketabton.com

## د ژورنالېزم په اړه بېلابېل نظرونه:

هماغسې چې مخکې مو یادونه وکړه، تولنیز علوم ثابت تعریف نه لري، د وخت په تېرېدو، تغیر کوي او هر څوک یې له خپله انده تعریفوي، ژورنالېزم هم د ټولنیزو علومو د یوې څانګې په توګه له دې مستثنی نه دی، یو وخت ژورنالېزم یواځې په چاپ او صحافت تعبیرېده، د راډیو په رامنځته کېدو یې بڼه واوښته، د تلوېزیون او د انټرنېټ رامنځته کېدل د ژورنالېزم لمنه دومره پراخه کړه، چې د ژوند هره برخه رانغاړي او هرې غوښتنې ته ځواب وايي. دغه راز د نوي ټېکنالوژۍ پرمټ د نړۍ خلکو ترمنځ دومره نږدېوالی رامنځته کړی، چې نړۍ اوس د یوه کلي حیثیت لري، نن که په افغانستان کې څه پېښېږي، د تکنالوژۍ پرمټ د ژورنالېزم په واسطه په ټوله نړۍ کې یې خلک ګوري او حس کوي یې.

که په امریکا یا کوم بل پرمختللی هېواد کې کوم انکشاف کېږي، په افغانستان کې هم خلک تري اغېزمن کېږي، دا چې په راتلونکې کې به د ژورنالېزم بڼه څنګه وي، کوم نوي شیان به پکې داخلېږي، دا به وخت ځوابوي، خو د اوس لپاره ژورنالېزم د یو مسلک په توګه ددغو بېلابېلو تعریفونو په رڼا کې پېژندل کېږي.

د بي، بي، سي، خبریاله صفیه حلیم په خپل کتاب ژورنالېزم کې ژورنالېزم د رښتیا ویلو او واقعیت بیانولو مسلک ګڼي، رښتیا او حقیقت د ژورنالېزم بنسټ ګڼي، د خپلې ادعا د ثبوت لپاره د هغه پاچا کیسه بیانوي، چې د خپل خوب په تعبیر د یوه سر کټ کوي او بل مکافات کوي.

دا وايي: ((یو باچا د شپې خوب ولیدو، چې ټول غاښونه یې غورځېدلي دي، سهار یې خپل نجومي راوبللو او خوب یې ورته بیان کړو، نجومي ورته وویل: د باچا سلامت ټول خپلوان به دده په ژوندون مري.

باچا په قهر شو او د نجومي د وژلو امر یې وکړ، بیا یې بل نجومي راوبلو او هغه ته یې هم خپل خوب بیان کړو، دې نجومي

Ketabton.com

ورته وویل: باچا سلامت به تر ډېرو کلونو ژوندی وي، باچا خوشحاله شو او هغه ته یې انعام ورکړ، په ظاهره دواړو نجومیانو په خبرو کې توپیر شکاري، خو په اصل کې د خوب معنی یوه وه.))

له دې کیسې نه هدف دا دی، چې رښتیا خوبه وایو، خو څنګه به یې وایو، د همدې رښتیا ویلو هنر ته ژورنالېزم وایي.

دا تعریف تر ډېره د ژورنالېزم په بنسټ، چې هغه رښتیا ویل او د حقایقو بیانول دي صدق کوي، خو د اوسني ژورنالېزم بشپړه پېژندنه نه شي کولای.

مسعود مومن چې د سولې ژورنالېزم په نوم کوم کتاب لیکلی، د دې کتاب په پښتی کې رسنۍ حساسه وسیله ګڼلې، دی وایي:

((رسنۍ هغه حساسې وسیلې دي، چې کېدای شي، په بېلابېلو ان متعارضو موخو ترې کار واخیستل شي، هم کولای شي، د یوې وسلې په توګه د کړکېچ او جګړې په ګټه کړنې ترسره کړي او هم کولای شي، د کړکېچ د اوارولو او سولې ټینګښت او پایښت لپاره په مرستندویه وسیلو بدلې شي))

په دې تعریف کې رسنۍ ته د سولې او جنګ له زاویې کتل شوي، د سولې ژورنالیزم په کتاب کې دا تعریف جامع دی، خو په عام مفهوم د ژورنالېزم یا رسنیو پېژندنه نه شي کولای.

عبدالمالک عاصم په خپل کتاب (نوی راډیو خبریالي) کې ژورنالېزم داسې تعریفوي:

((ژورنالېزم د واقعیتونو نړۍ ده، ... ژورنالېزم د درغل کوونکو او سیاستوالو د مهار کولو او خلکو ته د مغوی د کړنو روښانولو دنده ده... داسې دنده، چې د عادي وګړو ترمنځ اړیکې ټینګوي))

دا تعریف هم تر ډېره د ژورنالېزم په رول رانغاړي، لیکوال د خپلو تجربو له مخې د ژورنالېزم ارزښت بیانوي، خو د ژورنالېزم جامع تعریف ورته نه شو ویلی.

Ketabton.com

پاکستاني ژورنالست او ليکوال افتخار عارف د کالم، فيچر او تبصرې نومې کتاب په سر خبرو کې ليکي:

((ژورناليزم ډېره مهمه ستن ګڼل کېږي، يوه داسې ستن چې د نړۍ د حکومتونو د شپې او ورځې په لوړو او ژورو کې ډېر مهم او اغېزمن رول ادا کوي، د اوسني پېر نوې تکنالوجۍ ابلاغياتو ته د يو اغېزمن او منظم علم درجه ورکړې ده))

د همدې کتاب په سريزه کې بل پاکستانی ليکوال او ژورنالېست محمد اسلم ډوګر ليکي:

((په اوسني پېر کې د ژورنالېزم رول دومره پراخه شوی دی، چې د ژوند هېڅ څانګه يې له اغيز څخه خوندي نه دی، دا مهال ژورنالېزم يوازې د پېښې خبرونه نه برابروي، بلکې ځينې وختونه پېښې داسې رپوټ کوي، لکه ژورنالېزم چې تاريخ تشکليوي))

ډاکټر عبدالرشيد خورشېد وايي، صحافت کليمه له صحيفې نه اخيستل شوی، چې معنی يې کتاب يا رساله ده.

لېزلي ستيفن په دې اند دی، چې ژورنالېزم د هغو چارو د ليکلو نوم دی، چې په اړه يې تاسو هېڅ نه پوهېږئ.

بيا په ژورنالېزم کې په هوښياری Erich Hodings اېريک هوډنګز او امانتداری ټينګار کوي او وايي:

ژورنالېزم په ديانتداری او هوښياری له يوځای څخه بل ځای ته د معلوماتو د رسولو هغه انداز دی، چې په هغه کې رښتينولي برلاسی وي او د پېښو، خبرتيا، ژر نه، بلکې په کراره مګر سمه څرګندوي.

ايف فريندز باند وايي، د خبرونو راټولول، پر خبرونو تبصرې کول او خلکو ته يې پر وخت رسول ژورنالېزم دی.

ژورنالېزم عموميت رامنځته کوي، ټولنه ځاري او پابلې يې بېرته ټولنې ته وړاندې کوي، چې په دې ډول سره يوه ټوليزه رښتينولي يا حقيقت راجوړوي.

د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي استاذ محمد داوود وفا په خپل اثر (د ژورنالېزم بنسټونه) کې وایي:

هغه ټول فعالیتونه چې د خلکو د خبروني او پوهونې لپاره، د عامه ډله ییزو ارتباطي او اطلاعاتي وسایلو له لارې خپرېږي، ژورنالېزم ګڼل کېږي.

زما په نظر ټول نظرونه په خپل ځای سم دي او ژورنالېزم د پېژندنې لپاره ممد واقع کېدلای شي، خو د استاذ محمد داوود وفا تعریف د اوسني ژورنالېزم رښتینی او بشپړه پېژندنه په ګوته کوي.

دلته باید د خبریال او ژورنالست توپیر وشي، خبریال هغه څوک دی، چې د پېښو خبرونه برابروي، راټولوي یې، سموي یې ترتیبوي یې او د ډله ییزو اطلاعاتي وسایلو له لارې یې نشر ته سپاري، خو که یو څوک په یوه راډیو او یا تلوېزیون کې تفریحي برنامه پرمخ وړي، یا د اخلي، پخلي برنامه تنظیموي، یا د ماشومانو او ځوانانو لپاره مطالب چمتو او بیا یې وړاندې کوي، یا دا چې د مېرمنو عادي او نورمال پروګرامونه د رسنیو له لارې تنظیموي، پرته له دې چې هغه خبري بڼه ولري، د پروګرام متصدي او وړاندې کوونکی وي او یا هم نور بېلابېل پروګرامونه د رسنیو له لارې خلکو ته وړاندې کوي، دی هم ژورنالست دی.

یعنې هر خبریال ژورنالست دی، خو هر ژورنالست خبریال نه دی، خبریال هغه څوک دی، چې د پېښو په اړه معلومات راټولوي، خبر ترې جوړوي او د رسنیو له لارې یې خپروي، ځکه زه وایم، چې د استاذ وفا تعریف په کچ مېچ برابر دی، کېدای شي، دا مهال لوستونکو ته پوښتنه راولاړه شي، چې خبر پروډیوسر څه معنی؟ نطاق څوک دی؟ تخنیککر چاته وایي؟ بیا دوی ژورنالستان دي، که خبریالان، که یو هم نه؟

د دې پوښتنو بشپړ ځوابونه به په پنځم څپرکي کې (د ژورنالستیکي ویونه او اصلاحګانې) سرلیک لاندې په مفصل ډول ولولی، دلته همدومره ویل اړین بولم، چې هوکې! دوی ژورنالستان دي، خو خبریالان نه دي، یو وخت چې د ژورنالېزم یا صحافت لمن ډېره پراخه نه وه.

Ketabton.com

د دې ویـیونو تـوپـیر هم چا دومره نـه کـاوه، خو اوسني ژورنـالـېزم تـه پـه کـتو دا هر څه څرګـنـد او ښکاره شوی دی.

## د ژورنـالـېزم بـنـسټونـه:

ژورنـالـېزم ر يـالـيزم دی، د رامنځته کېدو فـلسفـه يـې هم همدا ده، هغه څه چې واقع شوې وي، يـا واقع کېږي او يـا هم پـېښېدو نـکې وي، ژورنـالـېزم يـې څېړي.

د خبرونـو، رپـوټـونـو او د ژورنـالـېزم د نورو ژانـرونـو پـه بـڼـه يـې خلـکو تـه د رسنيو لـه لارې رسوي، معنی دا چې ژورنـالـېزم د رښتيا ويـلـو مسلک دی، نـو ويـلای شو، چې رښتـيـا او واقعيت د ژورنـالـېزم اصلي بـنـسټونـه دي، خبر، رپـوټ، پـکېج، فـيـچر، مرکـه، ګردی مېز ... او نـور يـې ډولـونـه يـا ژانـرونـه دي يـا هم د ژورنـالـېزم د بـنـسټونـو وړانـدې کولـو مسلکي چوکـاټـونـه دي، چې ژورنـالـسـتـان د همدې بـېلابـېلـو ژانـرو پـه کـارولـو دغه بـنـسټونـه لاپـيـاوړی کوي او خلـکو تـه واقعيـتونـه رسوي.

## د ژورنـالـېزم اړتـيـا او ارښت

لـه ادمه تر دې دمه کـه انـسانـي ژونـد مطالعه شي، معلـومـاتـو تـه انـسـانـي تـنـده تـرې جوتـېدلای شي، انـسـان پـه طبيعي ډول تـلـوسه لـري، چې لـه پـېښو، پـرمختګونـو، نـنګونـو د مسوولـيـنـو لـه کړنـو او حالاتـو نـه خبر شي.

ژورنـالـېزم دی، چې خلک د خپـل هېواد، سيمې او نړۍ لـه حالا تـو خبروي او د همدې معلـومـاتـو پـر بـنسټ ډېری خلک خپـل د ژونـد لـوری بـدلـوي، پـه تـصميمـونـو کې تـغير راولـي، د راتـلـونـکي لـپـاره تـدابـير نـيسي.

د بـېلـګې پـه ډول د هوا پـېژنـدنـې اداره وړانـدوينـه کوي، چې پـه دغو او هغو ورځو کې د بـاران اټـکل شوی دی، ځيـنـې خلـک خپـلـې بـرنـامې تـغيروي، کـه دواده نـېټـه ټـاکـي، د هوا حالات پـه نـظر کې نـيسي، کـه د غونـډو او نـورو مراسمو لـپـاره تـابـيـا نـيسي، ځای ورسره پـه پـام کې نـيسي، چې د بـاران لـه املـه خلک لامده نـه شي.



Ketabton.com

دغه راز که یو څوک کابل ته سفر ولري او معلومات ترلاسه کړي، چې په لاره کې جګړه ده، لاره بنده ده، خپل سفر ځنډوي.

که له دې لېږ وړاندي لاړ شو، د ملت او دولت لپاره د ژورنالېزم اړتیا ته پام وکړو، جوته به شي، چې خلک هره ورځ تمه لري، چارواکي د دوی د ژوند د پرمختګ لپاره څه کړي دي، څه کوي؟ او څه کول غواړي؟

دولت هم اړتیا لري، چې ملت ته د خپلو اجرااتو لپاره معلومات ورکړي، د هغوي ستونزې واوري او د حل لپاره یې اقدام وکړي، چاروکي تل هڅه کوي، چې خپل پیغام ترخلکو ورسوي او دا د ژورنالېزم په واسطه ډېره اغېزمنه ده، که ووایو، چې ژورنالېزم د ملت او دولت ترمنځ د پل حیثیت لري، مبالغه به مو نه وي کړی.

## ژورنالېزم د زورواکی او فساد کمولو د وسیلې په توګه:

د افغانستان تېرو جنګونو دا وښودله، چې د جګړې هر لوري، قتلونه وکړل، د خلکو مالونه یې لوټ کړل، زورواکو ځمکې غصب کړې، لنډه دا چې پر خلکو هر ډول ظلمونه ترسره شول، چې لا هم دوام لري.

د قانون پرځای روابط او زورواکي حاکمه شوه، د ازاد ژورنالېزم او بیان آزادۍ په رامنځته کېدو تر ډېره دا ناخوالې کمې شوې.

یوه زورواکي کیسه کوله، ویل: له ټانګه نه وېرېږم، خو له مطبوعاتو وېرېږم، دا په خپله د ژورنالېزم رول، اغېز او اړتیا ثابتوي.

## ژورنالېزم د تفریح او بوختونې د وسیلې په توګه:

پخوا چې مطبوعات عام نه و او ټولو خلکو ورته لاس رسی نه لرله، خلکو به خپل وزګار وخت په افسانو، کیسو، لوبو او غیبتونو تېرولە، خو کله چې تلوېزیونونه او راډیوګانې عامې شوې او بوختوونکي پروګرامونه یې وړاندې کړل، ډېری خلک خپل وزګار وخت همدې پروګرامونو ته وقف کړی. فلمونه، سریالونه، موسیقي، لوبې او دې ته ورته نور پروګرامونه د خلکو پام ځان ته اړولی دی.

لوستي خلک بیا په نننی عصر کې په انلاین ژورنالېزم که هغه فېسبوک دی، که تویټر دی، یا نور انټرنیټي سایټونه دي، ځان بوخت ساتي او د بوختونې تنده پرې خړوبوي.

## ښکېلو غاړو ته د تفاهم د وسیلو په توګه:

په جګړه کې ښکېلې غاړې ډېرې وختونه د مطبوعاتو له لارې یو بل ته په غیر مستقیم ډول پیغام رسوي، په یو ډول نه یو ډول مطبوعات د تفاهم د وسیلې په توګه کاروي. د بېلګې په ډول: اوس مهال د طالبانو ادرس معلوم نه دی، کله چې دوی غواړي خلکو او یا هم دولت ته مهم پیغام ورسوي، د رسنیو له لارې دا کار کوي، دولت هم کله چې غواړي طالبانو ته پیغام ورسوي، د مطبوعاتو له لارې یې رسوي.

د سولې د پروسې لپاره که څه هم یو ځل مخامخ مذاکرات و شول، خو د دواړو غاړو دریځونه معلوم نه شول، دولت وایي، چې سوله به د ۱۳ کلنو لاسته راوړنو په قیمت نه وي، د ښځو او بشري حقونو خوندیتوب به تضمین وي او دې ته ورته نور.

طالبان بیا وایي، ترڅو چې بهرني قواوې په افغانستان کې وي، سوله نشي کېدای.

څرګنده شوه، چې دا ټول پیغامونه د رسنیو له لارې یو بل ته رسول کېږي او یو ډول تفاهم رامنځته کوي.



Ketabton.com

## ژورنالیزم قدرت ته د رسېدو وسیلې په توګه:

سیاستوال تل هڅه کوي، رسنۍ د ځان په ګټه وکاروي، له دې لارې قدرت ته ځان ورسوي.

که موږ د ثور کودتا ته ځیر شو، ګورو، چې شهید داوود خان لا وژل شوی نه وو، کودتاچیانو رادیو تلوېزیون ونیوله او د رژیم د بدلون اعلانونه یې وکړل، په ټولو ولایتونو کې د همدې مطبوعاتو له لارې د کودتاچیانو واک ټینګ شو.

یا هڅه مهال چې د ډاکټر نجیب الله د واکمنۍ دفاع وزیر شهنواز تڼي پر نجیب د کودتا ناکامه هڅه وکړه، ډاکټر نجیب وکولای شو، د رسنۍ له لارې په ولایاتو کې حالت قابو کړي او د تڼي ملګري او کودتاچیان مایوسه کړي او د اقدام مخه یې ونیسي.

اوسمهال چې د ازادو ټاکنو له لارې څوک واک ته رسېدل غواړي، هم رسنۍ ډېر استعمالوي او د رسنیو له لارې، خپل پیغامونه، پروګرامونه او راتلونکي پلانونه خلکو ته رسوي، چې دا په خپله واک ته رسېدو لپاره مطبوعات بهترینې وسیلې دي.

## ژورنالیزم د ښوونې او روزنې د وسیلې په توګه:

پخوا به زده کړې یوازې په علمي او اکاډمیکو مرکزونو کې کېدلې، ښوونځي، پوهنتونونه، انستیتیونه، علمي کورسونه او نور علمي مراکز به د زده کړې وسیلې وې، خو اوس ګورو، چې ټولې رسنۍ ښوونیزې او روزنیزې برنامې لري، آن ځینې لا یوازې همدا چاره ترسره کوي، لکه (رادیوتلوېزیون تعلیمي او تربیتي) د پوهنې وزارت له لورې د هېواد بچیانو ته ښوونه او روزنه ورکوي.

د انګلیسي ژبې لوست خو په اکثرو رسنیو کې موجود وي، ذهني ازموینې پوښتنې او ځوابونه، د میلونر خپرونې ... ټول هڅه څه دي، چې ژورنالیزم د ښوونې او روزنې د یوې وسیلې په توګه ګڼل کېږي.

Ketabton.com

رسنۍ د خلکو د خبروني د وسيلې په توګه:

نن سبا د رسنيو له برکته نړۍ د يوه کلي بڼه غوره کړې ده، که په امريکا کې څه پېښېږي، په افغانستان کې خلک پرې هماغه شېبه خبرېږي، که په افغانستان کې څه پېښږي، د نړۍ خلک پرې خبرېږي.

د تجربو تبادله، د فرهنګونو پېژندنه، له حالاتو خبرېدنه، د هېوادونو پېژندنه، د ملتونو د ژوند سطحې معلومول او دې ته ورته نور مسايل هغه څه دي، چې رسنۍ د خبروني د وسيلې په توګه موږ ته راپېژني.

اوس خو لا د انټرنېټ پرمټ ټوله نړۍ د جال په بڼه يو بل سره نښتې، آن تر دې چې دغه وسيلې د انقلابونو او بدلونونو سبب ګرځېدلي دي.

د بېلګې په ډول بهار عرب يادولی شو، چې له سعودي پرته په ټولو عربي هېوادونو کې يې انقلابونه رامنځته کړل.

د ژورنالېزم په اړتيا او ارزښت که هر څومره بحث وکړو، پای ته به يې ونه شو رسولی، په همدې به بسنه وکړو.

د ژورنالېزم پېښليک:

د اسلام له نظره:

الله (ج) په خپل سپېڅلی کتاب قرآن عظيم الشان کې څوارلس کاله وړاندې فرمايلي دي:

يا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ ما أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ

ژباړه : ( ای د الله رسوله ! ورسوه هغه څه چې د الله له لوري دربانوې نازل شويدي )

اسلامي تاريخ موږ ته دا ښيي، چې ژورنالېزم د انسان د پيدا ښت سره سم د دعوت او تبليغ په بڼه رامنځته شوی، کله چې د انسانانو پلار ادم (ع) د الله (ج) له لورې د ځمکې خليفه وټاکل شو، نو د انساني ژوند د تنظيم او پرمختګ لپاره د الله (ج) له لورې پرې لس صحيفې نازلې شوې، په خپله د صحيفو نازلېدل او د هغه په رڼا کې د لله (ج) لارښوونې، اوامر، نواهي او پيغامونه د الله (ج) بنده ګانو ته رسول او د اشياوو پېژندنه يو ډول ژورنالېزم دی.

د پيغام رسول، خلکو ته اګاهي ورکول، يوه رسنيزه چاره ده.

دغه سپېڅلی رسالت د انبياوو عليهم السلام له لورې د انسان له پيدا ښته د اسلام د وروستي پيغمبر حضرت محمد (ص) ترمهاله او له هغه وروسته دا سلسله د صحابه وو، تابعينو، تبع تابعينو او علماء کرامو له خوا تر ننه د دعوت او الهي پيغام رسونې چارې ترسره کېږي.

که د نننۍ عصر ژورنالېزم رسالت ته وکتل شي، نو دا هم اطلاع رسول، پيغام رسول او اګاهي ورکول دي.

بله خبره دا ده، چې د ژورنالېزم بنسټ رښتيا او واقعيت تشکيلوي، د ادبياتو غوندې خيال پروازي او مبالغه پکې جواز نه لري، دروغ په دغه مسلک کې منع دی.

جيد عالم مولوي عطاءالله لودين د ژورنالېزم مسلک پيغمبري مسلک بولي او د قرآن کريم دا آيت شريف يې د مصداق په توګه نقل کوي چې:

يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ

ای د الله رسوله، ورسره هغه څه چې دربانديې نازل شوی د خپل رب لخوا نه

مولوي لودين وايي، که ژورنالستان خپل مقدس رسالت سم ترسره کړي، دروغ او بهتان نه ځان وساتي، حقايق او واقعيتونه منعکس کړي، يقيناً لوی اجر به ور په برخه شي.

دغه راز موږ په دې باور يو، چې اسماني کتابونه ۱۰۴ دي، په دې کې يې ۱۰۰ صحيفي او ۴ لوی لوی کتابونه دي، چې لومړني لس صحيفي پر آدم (ع)، پنځوس په ادريس(ع)، لس په نوح (ع)، شل په شيث(ع) او لس په ابراهيم (ع)، همدارنګه څلور لوی آسماني کتابونه تورات، ذبور، انجيل، او قرآن پاک دی، چې د الله(ج) له لوري د جبرائيل(ع) په واسطه په څلورو جليل القدره پيغمبرانو رانازل شوي دي، تورات په موسی(ع)، انجيل په عيسی(ع)، ذبور په داوود(ع) او قرآن په خاتم النبيين حضرت محمد مصطفی(ص) باندې نازل شوي دي.

له دې معلومېږي، چې صحافت او ژورنالېزم د انسان له پيدايښت سره برابره مخينه لري، خو دا چې د نني ژورنالېزم بڼه لږه بدله ده او يا تکنالوژۍ دومره پرمختګ کړی، چې ژورنالېزم ته يې اوسنی بڼه ورکړې، دا هم د دې مسلک ارزښت او اړتيا ثابتوي.

له ژورنالېزم صحافي او صحافت پرته پرمختګ شونی نه دی، ځکه خو ورځ تر بلې دا مسلک وده کوي، د پرمختګ پړاوونه طی کوي او د انسان ټول ژوند يې دا مهال تسخير کړی دی.

## ژورنالېزم د عصري علومو له نظره:

لکه مخکې چې وويل شول، ژورنالېزم د انسان د پيدايښت سره سم د اړتيا له مخې په يوه بڼه نه يوه بڼه موجوده وه، د يو مسلک په توګه چا نه پېژانده، که د پاپيروس پوستکي باندې ليکنې کېدلې، يا که انځوريز خط په ډول او يا وروسته د ليک رامنځته کېدو په ډول، خو ټول يو ډول نه يو ډول د پيغام وړاندې کوونکي وو، دا په خپله د ژورنالېزم يو اړخ دی.

صحافت د يو مسلک په توګه له ورځپاڼې ليکنې نه پيلېږي، د بي، بي، سي، خبرياله صفيه حليم په خپل کتاب ژورنالېزم کې د صحافت تاريخ ترسرليک لاندې ليکي:

((په ۱۴۵۶م کال کې د جرمني (المان) د لومړي چاپ ځای ګويټمبرګ، په لږ وخت کې د ډېرو پاڼو د چاپولو کار اسانه

Ketabton.com

کړ. د کولن په ښار کې یو ژورنال د شپاړسمې پېړی په وروستیو کلونو لکه د کتاب، په چاپي بڼه ویشل کېده، خو په اروپا کې لومړی خبري پاڼه چې اوسني شکل ته ورته وه، د انګلستان د اکسفورد په ښار کې په ۱۶۶۵ میلادي کې له چاپه راوتله، هغه وخت د برېتانیا شاهي کورنی د لندن د طاعون د اوبا نه اکسفورد ته کډه کړې وه او د حکومت کارونه له هغه ځایه کېدل. د اکسفورډ ګزټ نومې دې پاڼې ته چې په اوونی کې دوه واري خپرېده وروسته د لندن ګزټ نوم ورکړل شو.

د اتلسمې پېړی په سر کې د انګلستان یوې مېرمنې الیزبېټ مالیټ د یوې داسې پاڼې د چاپولو هوډ وکړو، چې خبرونه ولري. هغې د لندن ښار په مرکز فلیډ سټریټ کې د یو بېې (میخانې) دپاسه د خپل دفتر لپاره یوه کوټه په کرایه واخیسته او د مارچ په یوولسمه نېټه ۱۷۰۲ میلادي کې د ډیلي کورانټ نومې لومړی ورځپاڼه له چاپه راوویستله، د دوو ستنو (کالمونو) په یو مخ چاپ دې ورځپاڼې یوازې خبرونو ته ځای ورکاوه او تبصره یا نظر به یې نه چاپوه. د الیز بېټ تګلاره دا وه، چې لوستونکي دې په خپله دومره عقل ولري، چې د خبرونو نه مطلب ترلاسه کړي، ډیلي کورانټ په ۱۷۳۵ میلادي کې د ډیلي ګزټییر ورځپاڼې سره یوځای کړای شو.))

## په افغانستان کې د ژورنالېزم پېښلیک:

په افغانستان کې د ژورنالېزم پیل د امیر شېر علي خان د واکمنی له دوهمې دورې شوی دی.

شمس النهار لومړنی جریده وه، چې د امیر شېرعلی خان د واکمنی په دوهمه دوره (۱۲۴۲ - ۱۲۶۳) د افغان نابغه سید جمال الدین افغان لخوا یې بنسټ کېښودل شو، سید جمال الدین افغان امیر ته د دې جریدې وړاندیز وکړ، امیر هم چې د افغان نابغه سید جمال الدین په پوهې، ذکاوت او تدبیر باوري وو، دا جریده یې منظوره کړه او مدیر یې د افغان شاګرد مولوي عبدالرووف وو.

Ketabton.com

دا هغه مهال و، چې افغان دولت له هند نه د چاپ ماشینونه خریداري کړي و او په کابل کې فعالیت کاوه.

افغان نابغه او مفکر سید جمال الدین افغان چې له هېواده بهر ډېرو هېوادونو ته سفرونه کړي وو، په مختلفو ژبو هم پوهېده او د نورو هېوادونو د پرمختګ تجربې یې هم لرلې، د خلکو د عامه اذهانو د تنویرولو لپاره مطبوعات مهم ګڼله، همدا علت و، چې د افغان ولس د سیاسي شعور دلوړلو په موخه امیر ته د جریدې د فعالولو وړاندیز وکړ.

دا جریده په دوو مخونو کې چاپېدله، وروسته ۱۶ مخونو ته ورسېده، دا مهال د کابل په نوم یوه نشریه هم د سید جمال الدین افغان په مدیریت چاپېدله.

انګرېزان چې د مطبوعاتو پر ارزښت پوه و، له شمس النهار نه یې وېره لرله، ځکه ژورنالېزم د یرغلګرو او ښکېلاکګرو پرضد عامه افکار پاروي، ځکه خو پر افغانستان د برتانوي استعمار د دوهم یرغل پرمهال دا جریده له منځه لاړ، خو د ازادی غوښتنې هڅې په ټپه ونه درېدې، کلونه وروسته محمود طرزي په ۱۲۹۰ کال کې سراج الاخبار تاسیس کړ، اروانښاد طرزي مترقي ځوانان بیا سره منسجم کړل او د همدې جریدې له لارې یې په ځوانانو کې د پرمختګ، اطلاعاتو او آزادی فکر پیاوړی کړ.

سراج الاخبار په اوله کې په دري ژبه چاپېدله، خو په ۱۲۹۱ کال کې محمود طرزي د پښتو ژبې په اړه یو دري مضمون پکې نشر ته وسپاره، چې سرلیک یې و (زبان افغاني اجداد زبانهاست)

په دې مضمون کې د پښتو ژبې پر ارزښت او اړتیا رڼا اچول شوې وه، په ۱۲۹۳ کال په یوه ګڼه کې داسې لیکل شوي و:
(سراج الاخبار په زبان فارسي طبع و نشر میشود، چون همواره مساعی در نشر و اشاعت علوم و معارف است، باالسنه مروجه افغانستان، لهذا سراج الاخبار افغانیه این شماره و شماره بعدی خود را به زبان ملی خود تذئین میدهد))

له دې وروسته د دې ترڅنګ پښتو خپرونې هم پیل شوې، څو کاله وروسته کله چې غازي امان الله خان ننګرهار ته راغی او د هډې



Ketabton.com

په سيمه کې يې د مشرقي ولايتونو علماء، مخور، قومي مشران، متنفذين او ځوانان راټول کړل، له انګرېزي ښکېلاکه د افغانستان د سياسي خپلواکی اخيستلو په باب يې له خلکو سره مشورې وکړې او د خلکو ملاتړ يې ترلاسه کړ، په دې سفر کې محمود طرزي هم ورسره و، طرزي غازي امان الله خان ته د يوې جريدې د تاسيس مشوره ورکړه، چې دا مشوره د امان الله خان خوښه شوه او د اتحاد مشرقي په نوم جريده تاسيس شوه.

دې نه وروسته نورې جريدې هم رامنځته شوې، خو د لنډون په خاطر يې يادونه اړين نه بولم.

ژورناليزم په اکاډميک ډول د ظاهر شاه د واکمنی پرمهال رامنځته شو، په ۱۳۳۵ ل کال کې صباح الدين کشککي او محمد خالد روښان د مسلکي زده کړو لپاره امريکا ته ولېږل شول او هلته يې د مشيګان په پوهنتون کې خپلې لوړې زده کړې پای ته ورسولې.

په ۱۳۳۹ کال کې دوی بېرته افغانستان ته راغلل، سمدستي يې د عملي ژورنالستانو لپاره د يو امريکايي ژورنالست جالف په مرسته لنډمهاله کورسونه جوړ کړل او هغه ژورنالستان يې پکې وروزل، چې عملاً يې کار کاوه، خو مسلکي زده کړې يې نه وې کړې.

يو کال وروسته يعنې په ۱۳۴۰ کال کې د کابل پوهنتون د ادبياتو او انساني علومو پوهنځي کې د ژورنالېزم جلا ډيپارټمنټ ايجاد شو، چې صباح الدين کشککي يې مشري کوله، خو کله چې کشککي صاحب د موسی شفيق په کابينه کې د اطلاعاتو وزير وټاکل شو، بيا پوهنوال حبيب الرحمن هاله يې مشر وټاکل شو او په دې ډول په افغانستان کې په مسلکي ډول مطبوعاتو وده وکړه، راډيو رامنځته شوه او بيا تلوېزيون او تر ننه دا لړی د لامسلکيتوب خواته روانه ده.

Ketabton.com

# دويم څپرکی

## د اوسني ژورنالېزم کتګورۍ او ډولونه:

اوسنی ژورنالېزم په دريو کتګوريو ويشل کېږي، ۱- عادي ژورنالېزم، ۲- څار ژورنالېزم، ۳- څېړنيز ژورنالېزم، چې هره کتګوري يې ځان ته ډولونه لري.

۱: عادي ژورنالېزم: هغه ژورنالېزم ته وايي، چې رواني چارې په عادي ډول د ژورنالېزم د بېلابېلو ژانرونو په قالب کې خلکو ته وړاندې کوي.

۲: څار يا نظارتي ژورنالېزم: هغه ژورنالېزم ته وايي، چې رواني چارې هره ورځ تر څار لاندې نيسي او تر ډېره انتقادي بڼه لري يا په بله وينا هغه ژورنالېزم ته وايي، چې د دولت د درې ګونو قواوو اعمال هره ورځ تر څار او نظارت لاندې نيسي او په ورځنيو چارو څېړنيز بحثونه کوي، لکه طلوع نيوز، اريانا نيوز او کابل نيوز.

دغه رسنۍ هره ورځ په سيستماتيک ډول د دولت درې ګونې قواوې څاري، د هغوی پر وعدو، عملي کېدو، نه عملي کېدو، برنامو، پاليسيو او کړنو ژورناليستيکي نظارت کوي.

۳: څېړنيز ژورنالېزم: دا هغه ژورنالېزم دی، چې رسنۍ د ولس له سترګو نه پټ موضوعات څېړي او د پېښو ناڅرګندې خواوې په مستند ډول روښانه کوي او بيا يې خلکو ته وړاندې کوي.

اکثراً نړيوال خبري اژانسونه او ورځپاڼې دغسې مطالبو پسې ګرځي، دغسې څېړنيز رپوټونه کله کله په مياشتو مياشتو وخت نيسي، تر هغې چې ژورنالست د موضوع ژورو ته کېوتی نه وي او پټ حقايق يې رابرسېره کړي نه وي، خلکو ته نه وړاندې کېږي.

لکه د غصب مسايل، اداري فساد، اخلاقي فساد، پټې سياسي او نظامي معاملې، د جنګي اسيرانو د تبادلې پټې خواوې او دې ته ورته نور...

## د تخنيکي وسايلو له مخې د ژورنالېزم ډولونه:

د تخنيکي وسايلو له مخې ژورنالېزم په څلورو ډولونو ويشتل کېږي:

۱: پرنټ ژورنالېزم لکه ورځپاڼې، اوونيزې، مياشتنۍ، مجلې، بروشرې، خبرپاڼې او دې ته ورته نور.

۲: راډيويي ژورنالېزم: دا هغه ژورنالېزم دی، چې د بېلابېلو ژورنالستيکو ژانرونو په چوکاټ کې يوازې په غږيزه بڼه خلکو ته اطلاعات، ښوونه او روزنه، تفريح او پيغام وړاندې کوي.

۳: TV ژورنالېزم: هغه ژورنالېزم ته وايي، چې اطلاعات، ښوونه او روزنه، تفريح او پيغامونه په غږيز او انځوريزه بڼه وړاندې کوي.

۴: انلاين ژورنالېزم: د انلاين ژورنالېزم معنی پر کرښه يادېږي.

هغه ژورنالېزم ته وايي، چې هم په چاپي، غږيزه او انځوريزه بڼه مطالب، پيغامونه او د ژوند نورو اړخونو په باب برنامې وړاندې کوي، لکه فېسبوک، ټويټر، ګوګل پلس، انټرنيټي سايټونه، يعنې هغه څه چې د انټرنيټ د مزي پرمټ وړاندې کېږي، يعنې ټولنيزې رسنۍ.

Ketabton.com

د محتوا له مخې د ژورنالېزم ډولونه:

د محتوا له مخې ژورنالېزم د ژوند د ټولو اړخونو په نومونو هم يادېږي.

لکه د سولې ژورنالېزم، ټاکنيز ژورنالېزم، د جنګ ژورنالېزم، اقتصادي ژورنالېزم، ولسي ژورنالېزم، ورزشي ژورنالېزم، روغتيايي ژورنالېزم، خبري ژورنالېزم، تعليمي او تربيتي ژورنالېزم او دې ته ورته نور...

۱: د سولې ژورنالېزم: هغه ژورنالېزم ته وايي، چې محتوا يې سوله ييز مطالب وي، يعنې ژورنالېزم د بېلابېلو ژانرونو په داسې ډول وړاندې کول، چې د سولې د ټينګښت لپاره ممد واقع شي، په دې ژورنالېزم کې ژورنالست هڅه کوي، چې رپوټ يې پاروونکی او تشنج زېږوونکی نه وي.

د میدیوتیک لخوا چاپ شوي د مسعود مومن اثر (د سولې ژورنالېزم) په اخري پښتې کې لیکل شوي (رسنۍ هغه حساسې وسیلې دي، چې کېدای شي، په بېلابېلو، آن متعارضو موخو ترې کار واخیستل شي، هم کولای شي، د یوې وسلې په توګه د کړکېچ او جګړې په ګټه کړنې ترسره کړي او هم کولای شي، د کړکېچ د اوارولو او سولې ټینګښت او پایښت لپاره په مرستندویو وسیلو بدلې شي)

د سولې په ژورنالېزم کې د رسنیو مسوولین او خبریالان د سولې پرمختیا لپاره لرلید ټاکي، د سولې د نوښتونو څخه ملاتړ کوي او له مصلحینو سره په داسې ډول مرسته کوي، چې د ژورنالېزم ارونه تر پښو لاندې نه شي.

د ژورنالېزم دا ډول په ۱۹۶۰ م کال په لومړي ځل د سولې او جنګ د مطالعاتو د مرکز بنسټګر پروفیسور جان ګلتونګ لخوا وړاندې او بنسټ یې کېښودل شو او بیا وروسته د بي، بي، سي، دوو تنو خبریالانو (جیک لینچ او مېرمن ګولډریک) لخوا پرمختیا ورکړ شو.

د دې لپاره چې له موضوع ونه وځو، د سولې ژورنالېزم په اړه په همدې بسنه کوو، کولای شي، د زیاتو معلوماتو لپاره د سولې ژورنالېزم کتاب ولولئ.

۱: ټاکنیز ژورنالېزم: دا هغه ژورنالېزم ته وایي، چې یوازې ټاکنیز مسایل او مطالب وړاندې کوي، په دې ډول ژورنالېزم کې رسنۍ د ټاکنو په اړه عامه اذهان تنویروي، د ټاکنو په اړه معلومات ورکوي، د خلکو غږ او ټاکنیزې ستونزې تر بحث لاندې نیسي ، په دې ډول ژورنالېزم کې رسنۍ د ټولنې د خاموشه اکثریت غږوي، ټاکنیز قوانین، لوری ورکوونه ، کاندېدل، رایه ورکونه د کاندیدانو په اړه معلومات، ټاکنیز نظام او په مجموع کې ټاکنیزبهیر څېړي.

دا ډول ژورنالیزم په دریو دورو کې مسایل څېړي:

۱: له ټاکنو وړاندې دوره.

۲: د ټاکنو دوره.

Ketabton.com

۳: له ټاکنو وروسته دوره.

په هره دوره کې د اړتيا سره سم د ژورناليزم د بېلابېلو ژانرونو په چوکاټ کې مطالب وړاندې کيږي، د زياتو معلوماتو لپاره کولای شی، د ټاکنيز ژورناليزم کتاب چې د افغانستان ميديوتيک چاپ کړی، وګورئ.

د جنګ ژورناليزم:

د جنګ يا کړکيچ ژورناليزم، جګړه ييز مسايل څيړي، دا ژورناليزم په هغو کړکيچونو او شخړو باندې څرخي، چې تاوتريخوالی زيږوي او يا ورته تمايل لري.

دا ژورناليزم خپل مخاطبان دې لوري ته متوجه کوي، چې په شخړو کې ښکيلې خواوې بايد ځواب ووايي. د جنګ ژورناليزم د جګړې پر فزيکي اغېزو راڅرخي او د هغې له رواني اغېزو صرف نظر کوي.

اقتصادي ژورناليزم:

د ژورناليزم دا ډول هم اختصاصي بڼه لري، يعنې ټول وټه ييز مسايل څيړي او د ژورناليزم د بېلابېلو ژانرونو په چوکاټ کې اقتصادي کمزورتياوې، پرمختګونه، د خلکو اقتصادي وضعيت او ستونزې، پانګونې، د پانګونې شرايط، بانکي او دې ته ورته نورو مسايلو په باب مطالب وړاندې کوي. ځينې خلک يوازې اقتصادي مسايلو او سوداګريزو بحثونو سره علاقه لري.

د اسعارو، سرو زرو، نړيوالو مارکېټونو او بازار له حالت نه ځان خبرول غواړي، ځکه د دا ډول ژورناليزم سره علاقه مندي ښيي، رسنی هم د دې ډلې خلکو تمايل او غوښتنې په پام کې نيسی.

ولسي ژورناليزم:

په دې ډول ژورناليزم کې د رسنيو کارکوونکي تنظيمونکي چارې پر غاړه لري، خلک خپلې ستونزې او لاسته راوړنې په خپله ترتيبوي او د رسنيو په واک کې يې ورکوي، ټولنيزې او ټوليزې رسنی دواړه له دې ډول ژورناليزم نه ګټه اخلي، خلک

د پيغامونو له لارې خپلې ستونزې بيانوي، ازادی راډيو، بي، بي، سي، امريکا غږ او ځينې معتبرې غږيزې رسنۍ، د غږ ثبتونې ماشينونه فعال کړي او هره ورځ يې ورته ټاکلی وخت ورکړی وي، له تبصرې پرته يې خپروي.

همدارنګه ځينې معتبرې تصويري رسنۍ لکه الجزيره، هم له ټاکلو ادرسونو دغه چاره سرته رسوي، ځينې ويډيويي کلپونه خلک ورلېږي او دوی يې خپروي.

د دې ژورناليزم په رامنځته کېدو د ژورنالستانو کار هم اسانه او هم ګران شوی دی، اساني يې په دې کې ده، چې دوی وړيا له پېښو خبرېږي، ګراني يې په دې کې دی، چې که هغوی وغواړي، پرې ځېړنيز رپوټ جوړ کړي، بايد د تائيد لپاره يې منابع هم وپلټي.

دغه راز د دې ژورناليزم او سوشل مېډيا په رامنځته کېدو ډېر حقايق چې د ژورنالستانو له سترګو پټ وي، رابرسېره کېږي، نن سبا هر څوک د ژورنالست دنده سرته رسولای شي، هر څوک ټولنيزې مېډيا ته لاسرسی لري، هلته که مسلکي ژورنالست نه وي، د دوی وېډيوګانې، عکسونه او ثبت کړي غږونه حقايق رابرسېره کولای شي، د بېلګې په توګه:

د کابل په شادوشمشېره زيارت کې يوه مېرمن چې فرخنده نومېده، قرآن کريم ته د سپکاوي او سوځونې په تور د ۱۳۹۴ کال د وري مياشتې په لومړۍ لسيزه کې د يو شمېر کوڅه ډبو او ناپوهو خلکو لخوا په وهلو وهلو ووژل شوه او بيا وسوځول شوه. هلته هېڅ ژورنالست موجود نه و، رسنيو هم په لومړي سر کې داسې رپوټونه خپاره کړل، چې يوه مېرمن د د قرآن کريم سوځونې په تور د خلکو لخوا وسوځول شوه. وروسته د ټولنيزو رسنيو له لارې واضحه شوه، چې فرخنده بې ګناه وه، د دوی لخوا ثبت شوې وېډيوګانې د قضاء او څارنوالۍ سره مرسته وکړه، چې مجرمين وپېژني او مجازات يې کړي.

د ژورناليزم دغه ډول د دومره ګټو ترڅنګ زيانونه هم لري، هغه کاروونکي يې چې ژورنالستان نه دي او يا هم د ژورناليزم اخلاق او اصول نه پېژني، په مستعارو نومونو د

خلکو د شخصیتونو سپکاوی کوي، چې دا چاره ډېری خلک اندېښمن کړي هم دي، خو کتې یې تر زیانه زیات دي.

ورزشي ژورنالېزم:

ورزشي ژورنالېزم، د هر انسان د ژوند مهمه برخه او د علاقې نه بیلېدونکی جز دی، یو شمېر رسنی شته، چې یوازې د لوبو په اړه مسایل خپروي او تقریباً هره رسنی دې برخې ته ځانګړې پاملرنه کړې ده.

په ورزشي ژورنالېزم کې د لوبو، خبرونه، جریانونه، پرمختګونه، ننګوونې او دې ته ورته نور مسایل څېړل کېږي او هرې برخې نه یې مینه وال زیات دي، د کرکټ او فوټبال لوبې تقریباً د هر چا د ذوق لوبې دي. غېږ نیونه، سوک وهنه، والیبال، هاکي، ټینس، سکي هاکي ... او نور هغه لوبې دي، چې د دې ژورنالېزم د بحث موضوعات تشکیلوي. د نورو پروګرامونو په پرتله په دې کې د پرمختللو وسایلو او کمرو نه کار اخیستل کېږي، تر دې پورې خلکو ته دا لوبې جالبې دي، چې د راډیوګانو له لارې یې اورېدل هم خلک نه ستړي کوي، اخبارونه او مجلې هم ځانګړي مخونه ورته ځانګړې کوي. په دې ژورنالېزم کې هغه تخصصي ژورنالستان کار کوي، چې د ژورنالېزم ترڅنګ په لوبو هم وپوهېږي.

Ketabton.com

روغتیایي ژورنالېزم:

دا ژورنالېژم روغتیایي مسایل څېړي، د مختلفو ناروغیو په اړه د متخصصو ډاکټرانو نظرونه خپروي، دغه راز د ناروغیو هغه شکایتونه چې د بېلابېلو ناروغیو له امله یې لري، د ډاکټرانو سره یې شریکوي او ډاکټران ناروغانو ته یې خپلې روغتیایي توصیې وړاندې کوي.

په دې ډول ژورنالېزم کې د نړۍ په کچه د ناروغیو د درملنې د نویو لارو چارو په باب معلومات ورکول کېږي او هغه پرمختګونه هم تر بحث لاندې نیسي، چې په نړۍ کې رامنځته کېږي.

د ځینو روغتیایي افتونو، وبا او داسې نورو په اړه د ځان ساتنې مشورې یکې ورکول کېږي، اکثراً رسنۍ د دې لپاره ځانګړی وخت بیلوي. په دې ژورنالېزم کې ژورنالست باید په ژورنالېزم سربېره طبابت باندې هم وپوهېږي. دا هم یو ډول تخصصي ژورنالېزم دی.

خبري ژورنالېزم:

دا ژورنالېزم یوازې پېښې څېړي، ټولې رسنۍ د ژورنالېزم له دې ډول نه ګټه اخلي، خو ځینې رسنۍ همدې ته ځانګړې شوې وي، چې یوازې خبري مسایل وړاندې کوي، لکه خبري اژانسونه، طلوع نیوز، کابل نیوز، اریانا نیوز ...

په دې ژورنالېزم کې هغو ژورنالستانو ته د لومړیتوب حق ورکول کېږي، چې د مسلکي پوهې ترڅنګ په حقوقو او سیاسي علومو هم وپوهېږي،

ښوونیز او روزنیز ژورنالېزم:

دا د ژورنالېزم هغه ډول دی، چې یوازې تعلیمي او تربیتي مسایل څېړي او خلکو ته یې وړاندې کوي، اکثراً رسنۍ دې ژورنالېزم ته ځانګړې پاملرنه کوي او ځانګړی ځای او وخت ورته ټاکي، خو ځینې رسنۍ یوازې همدا ژورنالېزم کاروي او د نورو ډولونو سره یې کار نه لري، لکه د پوهنې وزارت تعلیمي او تربیتي راډیو تلوېزیون.

Ketabton.com

# درېيم څپرکی

## د ژرونالېزم نړيوال اصول او اخلاق

اصول دژرونالېزم په ډګرکې هر چېرته يو ډول وي خو اخلاق د هرې ټولنې دينې او ټولنيزو ارزښتونو ته په کتو فرق کوي. اصول الزامي بڼه لري چې په سرغړونې سره يې ژورنالست د عدلي او قضايي تعقيب وړګرځي، خو د اخلاقو په نه مراعاتولو سره ملامتي ده ، کوم الزامي بڼه نه لري.

په نولسمه پيړۍ کې کله چې ژرونالېزم په غړيزه بڼه رامنځته شوه يعنې راډيو منځته راغله، د ژرونالېزم ډګر لاپراخ اوپه ټولنه کې محبوبيت پيداکړ، معنی دا چې عام و خاص خلکو ژرونالېزم ته لاس رسي پيدا کړاو د ژرونالېزم اعتبار په ټولنه کې زيات او په ژورناليستانو د خلکو باورپه ډېرېدو شو.

دا محبوبيت د دې سبب شو چې د امريکا او ځينو اروپايي هېوادونو جاسوسان او استخباراتي کارکوونکي د ژرونالېزم نه په استفادې خپلواداروته جاسوسي وکړي او معلومات راټول کړي، د جاسوسانو د ا کار دژورنالستانو ژوند د خطر سره مخ کړاو دهغوي اعتبار ته يې زيان واړاوه، د ژرونالېزم مخکښان او د ژورنالستيکو ادارو مسوولين په دې فکر کې شول چې څنګه وکولی شي،دژورناليستانو ژوند خوندي کړي او دژرونالېزم اعتبارله زيانه وژغوري، همدا وو چې دوي ، ژورناليستکې ټولنې رامنځته کړې او د ټولنو له لارې يې هڅه وکړه چې د ژورناليستانو ژوند او حقونه خوندي کړي. دې ټولنو دژرونالېزم نړيوال اصول او ا خلاق وضعه کړل، چې ددې اصولو او اخلاقو په رعايت د ژورناليستانو ژوند خوندي او حقونه يې اعاده شي،يعنې کله چې ژورناليست له کومې ستونزې سره مخ کيږي هغه دهمدې اصولواو اخلاقوپه رڼا کې وڅيړي او د مسلکي ژورناليستانو او جاسوسانو توپير وکړي،دوي ته کاري اسانتياوي رامنځته شي،همدا علت دی چې کله هم ژورناليستان د ژورنالېزم اصول اواخلاق مراعات کړيدي،دستونزو سره يا هيڅ مخ شوي نه دي اويا هم ډېر کم مخ شويدي،خو هغوي چې د غه اصول او اخلاق تر پښولاندې کړي دګڼو تحديدونواوستونزو سره

مخ شويدي ،په دې فصل کې به لومړى نړيوال اصول تشريح کړو او وروسته به په اخلاقو وغږيږو چې هغه څه دي؟.

## دژرونالېزم نړيوال اصول:

ژرونالېزم د رښتيا ويلوعلم او فن دى،چې له همدې اصل او بنسټ نه بيانور اصول رامنځته شويدي.

۱ـــ رښتينولي: ژورناليست بايد رښتينى او رښتيا ويونکى واوسي، دروغ خپاره نه کړي،يعنې هغه څه چې په رښتيا واقع شوي وي،رپوټ کړي.

رپوټ بايد مستند او په اسنادواوشواهدو بناوي نه په شخصي احساساتواو دروغو .

۲ـــ توازن:په رپوټ کې بايد توازن مراعات شوى وي،هغه په دي معنى که په يوه پېښه کې څو ښکېلې غاړې لاس يا ونډه ولري،بايد دټولو خواونظرونه واخيستل شي او يو طرفه رپوټ بايد خپور نه شي.

يا که په يوه موضوع کې په يو چا تورپورې کيږي،بايد دتورن کس نظرهم واخيستل شي چې موازنه برابره شي،که احتمالن خبريال په دې ونه توانيږي چې د مقابل لوري نظر واخلي اويا مقابل لورى له نظر ورکولو ډډه وکړي،خبريال بايد داموضوع په رپوټ کې روښانه کړي او ووايي چې څه مو وکړه دمقابل لوري نظر هم واخلو ،خو بريالي نه شوو.يا ووايي چې مقابل لوري له خبرو اونظرورکولوډډه وکړه،دلته د خبريال مسئوليت رفع کيږي.

۳ـــ انصاف: ځينې خلک توازن او انصاف يو ډول بولي ،خودا دواړه فرق لري که په يو رپوټ کې څو ښکيلې غاړ ې وي دټولو خواونظرونه واخيستل شي اما که ديوې غاړې نظر لږ او دبل ډيرواخيستل شي، دا انصاف نه شو ،يا په بله ويناکه ديوې غاړې د نظر هغه برخه چې هغه پرې درنيږي او مسئوليت يې اداکيږي ،واخيستل شي،اودبلې غاړې دخبرو هغه برخه چې گو نګ وي يا بشپړه معنى ونه ښندي، يادده نيمګرتياپه ګوته کوي،واخيستل شي،بيا هم انصاف نه دى،بلکې پرته له تعصبه،

شخصي اړيکو اواحساساتو دواړه غاړوته پوره ونډه ورکول انصاف دی چې له بده مرغه زمونږ په ځينو رسنيو کې توازن په نظر کې نيول کيږي،خو انصاف له پامه غورځول کيږي.

۴ـــ کره والی : خبريال بايد خپل معلومات کره او ثقه کړي بيايي خپور کړي ،هسې نه چې په تشو افواهاتو اکتفاوکړي،داکار هم دخبريال او هم درسنۍ اعتبار ته زيان رسوي او دواړه د ستونزو سره مخ کوي.

۵ ـــ بې پريتوب : خبريال بايد تل بې پرې وي ،ديوې خوا ننګه هم ونه کړي،نه په رپوټ کې د خپلو شخصي احساساتو ،ګوندي تمايلا تو يامذهبي عقدې د شريکولو حق لري بلکې د يو بې طرفه واقع بين انسان په توګه هغه څه ووايي،چې دي يعنې حقايق تحريف نه کړي او نه هم رپوټ د يوې لورې په ګټه وڅرخوي،چې متاسفانه په ځينورسنيوکې داکارکيږي.

۶ـــ دقت: کله چې خبريال معلومات راټولوي بايد ډير دقيق واوسي، ارقام، د اشخاصو نومونه، موقفونه او دپيښې څرنګوالی په دقيق ډول خپاره کړي په ځينو رپوټونوکې اورو چې درپوټ د پيل او پای ارقام او معلومات سره په ټکر کې وي،يا موقفونه او نومونه په سمه توګه نه اخيستل کيږي،په يوې رسنۍ کې چې نوم اخيستل يي لازم نه بولم ،دامې وا وريدل چې يکې وويل شول،دعامې روغتيا په رياست کې دايډز نړيواله ورځ ونمانځل شوه.

ايډز يوه خطرناکه اولاعلاجه ناروغي ده، ناروغي خلک څنګه نمانځي بايد ويل شوي وای چې دايډز پروړاندې د مبارزې نړيواله ورځ ونمانځل شوه.

دوهم دليل چې په دي اړه موجود دی،هغه دادی چې لومړی دايډز ناروغي رامنځته شوې وروسته خلک يي زيانمن کړي،دمخنيوي اووقايې لپاره يې مبارزه پيل شويده او هر کال هماغه ورځ نمانځل کيږي چې پر وړاندې يي مبارزه پيل شويده.

بله بيلګه: د ننګرهار د سولې عالي شورا سره پنځلس(۱۵) تنه وسله وال مخالفين يوځای شول.

Ketabton.com

دسولې عالي شورا د افغانستان په کچه ددفترنوم دی،نه دولايت په کچه ،دولايت په کچه بايد داسې ويل شوي وای:
پنځلس(۱۵) تنه ددولت وسله وال مخالفين دننګرهار د سولې شورا سره يوځاي شول.

بله بېلګه: دننګرهار ولايت سکتوري رئيس احمدشاه سادات د نا معلومو وسله والو لخوا وتښتول شو.

خصوصي سکتور نادولتي اداروته وايي،خو په دولتي ادارو کې د سکتوري ادارو په را س کې اداري ته سکتوري رياست وايي،بله داچې سادات د يو قوم نوم دی چې پاچايانو ته منسوبيږي، خو سعادت د خوشبخت او نېکمرغه په معنی ده،يعنې که څوک له پاچايانو نه نه وي،حق نه لري، سادات تخلص کيږدي.

ديته ورته سلګونه نورې بيلګې هم شته خو دلنډون لپاره پر همدي بسنه کوم ـــ هدف مې دادی چې خبريال بايد ډير دقيق واوسي،په ځانګړي ډول د بهرنيو وګړو په نومونو او ځاي نومونو کې ،هرکله که تاسې په کومې کليمې ،نوم يا ځای نوم باندې شکمن وي،لطفا ديوچا سره پرې مشوره وکړی او کله چې د بهرنيا نو نومونه ليکی ،که ممکن وي په هماغوي يې وليکی،يا ترې بزنس کارت واخلئ. داکار ستاسو رپوټ دقيق کوي او له تېر وتنو مو ژغوري.

۷ـــ سرعت: سرعت هم يو نړيوال اصل دی ،ډيری خبري اژانسونه خپلوکې رقابت لري،دوی هڅه کوي چې د لومړي لاس خبرونه ترګوتو کړي،د لومړي لاس خبرونو خبري ارزښت او مينه وال ډير وي او امتياز هم لري،خو هيڅکله سرعت بايد دقت تر شعاع لاندې رانه ولي،بلکې،په دقيق ډول له سرعت نه کاراخيستل ،دمسلکي خبريال له خصوصيتونو نه دي،په چټکی سره خبر ورکونه په دي شرط چې له دقت نه مو کاراخيستی وي،تاسې په خبريالانو کې ممتاز کوي.

۸ـــ دحريم درناوی: ځينې خلک د خبريالانو سره د مرکې پرمهال اف د ريکارډ خبرې کوي چې هغه دنشر لپاره نه وي ،خبريال حق نه لري ،هغه خپاره کړي،يا يو خبريال ديوې ادارې له مشريا سيا سي ليډر ( مشر) نه د مرکې لپاره وخت اخلي،له مرکې وړاندې ،هغه خبريال ته ووايي،لومړی غواړم تاسې سره شخصي

خبرې وکړم وروسته مرکه وکړم،که چیرې هغه په دې ټینګاروکړي
چې له مرکې پرته زما نورې خبرې مه نشروی،باید نشر نه شي
.ان که یو څوک مرکه وکړي خو وروسته په دې وپوهیږي چې ددې
مرکې په خپریدو سره دهغه ژوند او دنده د خطرسره مخا مخ
کیږي ،او له تاسو هیله وکړي چې مرکه یي نشر نه کړئ،باید
نشر نه شي،ځیني استثنایي حالت موجود دي چې که خبریال په
دې وپوهیږي چې ددغسې خبرو خپریدل د فساد مخه نیسي یا ملي
ګټې خوندي کوي یا له داسې راز نه پرده پورته کوي چې ټولنې
ته په ګټه وي ،بیا نو خبریال باید ښه په جرئت هغه نشر
کړي،معنی داچې خبریال تل د ټولنې ننګه کوونکي ا و دخلکو
استاځی وي نه د شخصي اغراضو ګوندي سلیقو او مذهبي
تعصبونو.

۹ـــ د حقایقو معلومول: په وروسته پاتې هېوادونو کې حکومتي
چارواکي تل هڅه کوي چې په معلوماتو کې مبالغه وکړي،یا
خلکو ته دروغ ووایي،هر څه سم وښیي،غرونه غوښه کړي،سیند
ښوروا،خبریال باید د حقایقو په لټه کې شي،ننګونکي پوښتنې
وکړي ،او یاکه ادعا ورته سمه نه ښکاري،له نورو منابعو نه
یې هم وپلټي ،تر څو حقیقت ته ځان ورسوي.

۱۰ـــ د پټو خبري سرچینوخوندیتوب: د یوې ادارې د کړنو په
اړه تاسې هغه مهال ریپورټ برابروی چې وپوهیږی
نیمګړتیاشته، که دا ستونزې او نیمګړتیاوې تاسوته هغه څوک
ووایي چې دویلو صلاحیت یي نه لري،ټیټ رتبه کارکونکې وي
،خو حقایق ورته معلوم وي،دغسې خلک نسبت چارواکو ته
واقعیتونه وایي،ددغسې سرچینو د هویت پټ ساتل پرتاسو لازمي
ده،تاسې دنوم پر ځای ووایي د ( ) اداري یو تن چارواکي
وویل ،یا هیڅ ترې یادونه ونه کړئ خو دهغه د معلوماتو
پربنسټ د مسوولینو سره په خبرو کولو ځانونه حقیقتونو ته
ورسوئ،که تاسې دغه پټه سرچینې افشا کړئ،کیداي شي دهغه
ژوند او دندې ته خطر وي په دې صورت کې به خلک په تاسو بې
باوره شي او په راتلونکې بیا تاسو سره همکاري و نه کړي ،د
قانون له مخې هیڅوک حق نه لري ،له خبریال نه د هغه د پټې
سرچینې هویت وغواړي پرته له واکمني محکمې نه.

Ketabton.com

١١ـــ دچا دشخصيت سپکاوي نه کول: دا ماده يواځې نړيوال اصل نه بلکې درسنيود قانون ماده هم ده،ژورناليست حق نه لري ،دچا دشخصيت سپکاوي وکړئ،ياورته سپکې سپورې ووايي،دلته برداشتونه او انګيرنې توپير لري،د ځينو په باور که په چا دفساد تور پورې شو ،فکر کوي د هغه د شخصيت سپکاوي شويدي،هغه کوي چې خبريالانو ته ګواښونه وکړي،په داسې حال کې چې ژورنالست له خپلې خيټې نه څه نه وايي،بلکې چا به ويلي وي چې خبريال يې دسند په توګه اخلي،که داتور ثابت نه شي چاچې تور پورې کړي ،هغه ته بويه چې د ځان سپيناوي وکړي،نه ژورنالست . تورن هم بايد له هغه چا دحيثيت داعادي غوښتنه وکړي چې دي يې په فساد تورن کړيدي،ژورنالست يوازي د رسونې دنده ترسره کړې،که خبريال وپوهيږي چې څوک د چا سره وران دي،يا شخصي عقده ورسره لري،او هغه بې اسناده تورنوي د خبريال اخلاقي مسئوليت دا جوړيږي چې هغه خپور نه کړي ځکه د حقايقو معلومول بل نړيوال اصل دي،بيا هم الزامي بڼه نه لري.

خبريالان تل بايد دغه قانوني اصل ته پاملرنه وکړي بري الزمه دشخص اصلي حالت دي،له واکمنې محکمې پرته هيڅوک حق نه لري ، چاته مجرم ووايي،په ځينو رسنيوکې اوس هم اورو او وينو چې تورنو ته مجرم ويل کيږي،دبيلګې په ډول: له يوې رسنۍ نه مې واوريدل چې دامنيې قوماندانۍ موظفينو څلورتنه سړي تښتونکي ونيول، د پوليسو نيونه دچا دجرم او مجرموالي ثبوت نه شي کيدلي،پوليس دشک په بنياد يو څوک نيسي،له لومړنيو پلټنو وروسته دزياتي څيړنې لپاره څارنوالۍ ته پيژندل کيږي،وروسته يې دوسيه تکميليږي،محکمې ته د محاکمې او قضاوت لپاره ليږل کيږي،داقاضي دي چې يو څوک مجرم پيژني يا هم بې ګناه ،نو ژورنالست څه حق لري چې دغسې کسانو ته سړي تښتونکي ووايي،بلکې داسې ويلي شي چې:

دننګرهار د امنيې قوماندانۍ پوليسو څلورتنه د سړي تښتونې په تور ونيول.

دمجاهدينو په لومړۍ دوره کې پوليس يو تن د غلا په تور ونيو ،زمونږ د تلويزيون خبريال هغه د يو غل په توګه معرفي کړ،او دهغه څيره يې په تلويزون کې وښوده،څو ورځې وروسته

سړي خوشي شو،درادیو تلویزون په رئیس یي عریضه وکړه،چې په کوم اساس او د کومو اسنادو له مخې دي زه د غله په توګه ټولنې ته وروپیژندلم زه خو دغه دي ،خلاص ګرځم او بې ګناهې مې هم ثابته ده،زمونږ رئیس سره ددې پوښتنې هیڅ ډول ځواب نه وو، دبخښنې په غوښتلو یي ترې ځان خلاص کړ،یعنې رسنۍ حق نه لري چې تر څو محکمې په چاپریکړه نه وي کړي،دتورن د مخ عکس اوویډیووښیې،کیدلي شي،دشاه نه یي تصویر یا فلم واخلي چې ونه پیژندل شي.

او یا هم د خبردمستند کولو لپاره دهغه زولنې وښیي.

۱۲ــــ ژورنالیستیک اخلاق: هماغسې چې مخکې وویل شول، اخلاق الزامي بڼه نه لري بلکې په نه مراعات سره یي ژورنالیست ملامتیږي او ځان د ستونزوسره مخ کوي،نو ځکه یو کامیاب ژورنالیست تل هڅه کوي چې ژورنالیستیک اخلاق مراعات کړي.

په هر هېواد کې اخلاق خپلې پولې او بریدونه لري ،کیداي شي په اروپا او امریکا کې د ښځو بربنډ ګرځیدل دتهذیب یوه برخه او دټولنې اخلاق وي خو په افغاني ټولنه کي دا لویه بد اخلاقي ده،ځکه نو ژورنالیستیک اخلاق ثابت ا و ټولمنلې تعریف نه لري.

زما په اند هر هغه حرکت ،کړنه او چاره چې د خلکو د باورونو ،ارزښتونو ،دودونو او دیوي ټولنې (جمعیت) د ټاکل شویو قواعدو سره په ټکر کې نه وي،اخلاق دي، چې مراعاتول یي ژورنالیست له ستونزو او ننګونونه ساتي.

اخلاقي موارد ډیر دي خو هغه موارد چې ماته دژورنالیستیکې فعالیتونو پرمهال تر سترګو شوي،په لاندي ډول دي،خبریال باید ځان د ټولنې له عادي وګړو نه پورته ونه ګڼي ځکه چې خبریال د ټولنې اودټولنې د خلکو استاځی او خدمتګاردی،خبریال د قانون دحاکمیت لپاره هلې ځلې کوي،قانون شکني او د اصولونه مراعات د خبریال دشان سره ښه نه ښکاري،کله کله خبریالان د امنیتي مسوولینو په تلاشۍ غوصه کیږي،دعسکرو سره لانجې کوي،داکار د خبریال په بد اخلاقۍ دلالت کوي،ځکه امنیتي مسوولین دهمدې کار لپاره توظیف شویدي،ځني خبریالان له امنیتي چارواکو نه ځان اوچت ګڼي،

د خبرو پر مهال هغه ته ځان داسې ښرګند وي ،لکه امر يې چې وي، داکار د خبريال او دامنيتي چارواکو دلفظي شخړې سبب ګرځي چې په پايله کې ژورنالست له ستونزو سره مخ کيږي او خپل کاري هدف نه شي تر لاسه کولی،بايد خبريال له فاضل فروشۍ او ځان غوښتنې ډډه وکړي.

۱۳ـــ دندې ته په وخت حاضريدل: داکار خبريال د ملامتيا نه ژغوري او دهغه څه په لټه کې چې دی ،هغه په اسانۍ سره لاسته راوړلی شي دبيلګې په ډول که خبريال يوې غونډې يا مطبوعاتي کنفرانس ته بلل کيږي،بايد له وخت نه هم لس دقيقې مخکې غونډې يا کنفرانس ته ورشي ځکه چې دغونډې ياکنفرانس نه وړاندې خبريال کولی شي د غونډې او مطبوعاتي کنفرانس له هغو جزياتو ځان خبر کړي چې ورسره د خبر په چمتوکولو کې مرسته کوي.

ډيری وخت داسې کيږي چې خبريال غونډې يا مطبوعاتي کنفرانس ته ناوخته ورشي،دی هڅه کوي

چې ميک او لوګو پرستېج کيږدي ،داکار دويناوالو او مسوولينو د خبرو داخلال او د غونډې دبې نظمۍ سبب کيږي،که مطبوعاتي کنفرانس ته ناوخته لاړشي،دپوښتنې پرمهال خبريال دمعلوماتو د نه درلودلو له کبله تکراري پوښتنې کوي چې هم وخت ضايع کېږي اوهم دژورنالست معنويات ترپوښتنې لاندې راځي.

۱۴ـــ دنوبت مراعاتول: کله کله په مطبوعاتي کنفرانسونو کې ځينې خبريالان د نورو په خبرو او پوښتنو کې رالويږي چې داکار هم اخلاقي جنبه نه لري ،اصولا په يوه مطبوعاتي کنفرانس کې دوخت کموالي له امله ټولو خبريالانو ته دپوښتنې فرصت نه محياکيږي،او داهم حتمي نه ده ،چې دځواب شوې پوښتنې تکراري بڼه دې دخبريال په پوښتنه کې تکرار شي،که ستاسو پوښتنه دبل خبريال په پوښتنه کې حل شوې وي، له تکراري پوښتنو ډډه وکړئ ،ښه لاره يې داده چې له مطبوعاتي کنفرانس نه وړاندې خپلو کې همغيږي ولرئ.

کله کله خبريالان فکر کوي چې که ديوې رسنۍ خبريال پوښتنه مطرح کړې وي ،دناسالمې سيالۍ په اساس دی هم بايد پوښتنه

وکړي ولو که تکراري هم وي،فکر کوي په دې کار سره خبریال زړور یا لایق ځان څرګندوي،په داسې حال کې چې داسې نه ده، که موضوع روښانه نه وي پوښتنه دې وشي،که موضوع روښانه وي ، بې مورده پوښتنه کول د خبریال اخلاق تر پوښتنې لاندې راولي

- ښه خبریال هیڅکله هم نه تطمېع کیږي ،هغه په دې معنی ځنې پلټونکي خبریالان تل د مقتدرو چارواکو او درغلي کوونکو لخوا ، دشخصي یانورو مادي امتیازاتو په بڼه هڅه کیږي چې تطمع کړي،خبریال باید دغسې ډالۍ قبولې نه کړي،ځکه دا دده رپوټ تر سیوري لاندې راولي او خبریال نه شي کولی چې حقایق ووایي.
- دچا دشخصیت سپکاوی نه کول ،ځینې خبریالان د شخصي عقدو په اساس د ځینو خلکو د شخصیت ژوبلولو هڅه کوي ،یا دشخصي ژوندانه غچ درسنې له لارې اخلي،چې داکارهم دژورنالست په بد اخلاقۍ دلالت کوي.دبیلګې په ډول ،خبریالان هم دټولنې دنورو وګړو په څېر کله کله اړکیږي چې په ځینو ادروکې د ځینو دوستانو واسطه شي،که دهغوي کار غیر قانوني وي او کار یې ونه شي،خبریال باید ددې عقدې په اساس هغه ته زیان ونه رسوي،بلکې په دې ځان قانع کړي ، ښه دی چې غیر قانوني عمل ترې صادر شوی نه دی.

کله کله د جنګي او امنیتي پېښو پرمهال امنیتي مسوولین هڅه کوي چې دخلکو او خبریالانو ژوند خوندېتوب لپاره هغوي د لنډ مهال لپاره د پېښې له ځای نه منع کړي ،ځینې خبریالان هڅه کوي په نورو غلچکیو لارو دپیښې ځاي ته داخل شي ، داهم ژورنالیستیک اخلاق نه دي،ځکه دخبریال ژوند د خطر سره مخ کیږي او کیدای شي د امنیتي کسانو لخوا تهدید شي ،که خبریال په دې پوهیده چې امنیتي موظفین د خود سانسورۍ له امله ددوی دکار مخه نیسي ،په هغه صورت کې خبریال باید مشروع مبارزه وکړي ،مشرانو سره تماس ونیسي ،اویا هم مسوولین په استدلال اومنطق قانع کړي،په دې برخه کې غواړم خپله یوه تجربه شریکه کړم،کله چې په لومړي ځل پر کابل بانک برید وشو او لسګونو خلکو ته مرګ ژوبله واوښته، امنیتي مسوولینو هڅه کوله چې خبریالان سیمې ته پرینږدي ،زما یو شمیر خبریالان ملګري راټول شول ، ما ته یې

وویل،مونږ امنیه قوماندان سیمې ته نه پریږدي،ماسرزوري وکړه او موظف کس ته مې وویل ،چې مونږ د پیښې ځاي ته ورځو،که ته مو نه پریږدې کولی شې چې مونږ په مرمۍ وولې ،خو مونږ مجبور یو چې دپیښې له ځای نه فلم واخلو ، هغه راته په عذر وویل،لږ صبر وکړه چې قوماندان سره خبرې وکړمه،وروسته یي ماته وویل ،یواځې ته راشه او دقوماندان سره ستونزه حل کړه.

زه چې ورغلم د پیښې ځاي ته نارسیده قوماندان مې مخې ته راغي مالا خبرې نه وي پیل کړې چې په هماغه ځای کې بله زوروره چاودنه وشوه او دامنیې قوماندانۍ د مرستیال قاري امیرخان لیوال په ګډون لسګونه خلک شهیدان او ټپیان شول ،ملګروته بیرته راغلم ماویل د خداي (ج) شکر دی چې مونږ اوتاسې تللي نه وو که نه اوس به یوهم ژوندي نه وو.

همدارنګه یوه ورځ عیدګاه ته څیرمه چاودنه وشوه ،ما هڅه کوله چې د پیښې ځاي ته ځان ورسوم امنیتي مسوولینو راته مشوره راکړه چې سیمه خوندي نه ده لږ صبر وکړه ،ده دا خبرې خلاصې کړې نه وې چې بله چاودنه وشوه .

دې تجربوته په پام خبریالان باید له دغسې سرزوریو ډډه وکړي ،څکه هیڅ رپوټ د ژورنالیست دژوندنه مهم نه دی.

دخلکو له پارونې ډډه کول : کله نا کله داسې هم شوي دي چې په یو ځاي کې خلکو مظاهر ه کړې ،مظاهره خلاصه شوې ،کله چې خبریالان سیمې ته رسیدلي خلک یي مظاهرو ته هڅولي چې رپوټ یې مستند شي، وروسته مظاهره په تاوتریخوالي اوښتې او خلکو او پولیسو ته مرګ ژوبله اوښتې.

) وکړي یا خلک وپاروي **Set up**خبریالان حق نه لري چې سیټیپ ( اویا هم دټولنې امنیت ته زیان ورسوي،که په وخت سیمې ته ورسیدل ،خپل کار دې وکړي،که ناوخته ورسیدل کیدای شي د بل ملګري له موادو نه ګټه واخلي خبریال باید ژرونالېزم دسولې په ګټه وکاروي نه دتاوتریخوالي په ګټه .

کله کله نامسلکي خبریالان داسې هم کوي چې یوه سولیزه غونډه ،ددې لپاره چې له غونډې نه دمظاهرو خبر مظاهروته تشویق کړي

Ketabton.com

په رسنيو کې ژرخپريږي،دخپل رپوټ په خاطر داکار کوي په داسې حال کې چې دا دخبريال حق نه دی،خبريال بايد حقايق بيان کړي،داحقايق که دغونډې په بڼه وي،دغونډې په بڼه او که دمظاهرې په بڼه وي د مظاهرې په بڼه . دخبريال اصلي رسالت دحقايقو رسول دي،نه دخلکو تحريکول.

- پراخه اړيکې: ښه خبريال دداسې لوړو اخلاقو لرونکی وي چې دټولنې ټول وګړي ورسره همکاري وکړي،يعنې که د خلکو سره پراخې اړيکې ولري ،داکار ددې سبب کيږي چې خلک له هرې سيمې نه خبريال ته دپېښو په اړه معلومات ورکړي ،نن سبا خلک په حکومت او وکيلانو دومره باور نه کوي چې په خبريالانو کوي او هر ه خبره تر خبريالانو رسوي ،دا په خبريالانو پورې اړه لري چې دخلکو له دغه باورنه څومره مثبته ګټه اخلي ،دلته هم يوټکی ديادونې وړبولم ،هغه داچې کله کله د خلکو لخوا معلومات کره نه وي ،خبريال بايد پلټنه وکړي،حقايق رابرسيره او د حقايقو په رڼا کې رپوټ خپورکړي نه تش افواهات.

زه چې يووخت دازادی راډيو خبريال وم ،دننګرهار په دو ه ويشت(۲۲) ولسواليو کې مې لسګونه رضاکار همکاران درلودل ،همدا علت و چې اول لاس خبرونه به مې ترلاسه کول.

- ښه خبريال تل پاکې جامې اغوندي او خپل وجدان هم پاک ساتي.
- ښه خبريال له خپل مسلک او ميک نه ناوړه ګټه نه پورته کوي.
- ښه خبريال تل په لوړو ژورناليستکو اخلاقو د خلکو همکاري جلبوي.
- لنډه داچې که مونږ ژورنالستيک اخلاق مراعات کړو،ډاډه يم چې ډير کم به د ستونزواوننګونو سره مخ شو،ځينې خبريالان دپوښتنو پرمهال داسې جدي چلند کوي چې يو څارنوال يې دمجرم اوتورن سره نه کوي،اخلاقا ژورنالست حق نه لري چې په تنده لهجه د چاسره مرکه او پوښتنه وکړي بلکې په صميمي لهجه خپل هدف ته ځان رسوي، که چيرې تاسې عقده يې پوښتنې او چارچلند وکړئ ،خلک پرتاسو منفي قضاوت کوي،



Ketabton.com

ژورنالیستان باید تل د نړیوالو ژورنالیستیکو اصولو او ټولنیزو اخلاقو پابند او مراعات کوونکي واوسي.

Ketabton.com

# څلورم څپرکی

ژورنالستیک ژانرونه:

مخکې له دې، چې پر ژورنالستیکو ژانرونو رڼا واچوو، لازمه ده، ژانر وپېژنو. ژانر په لغت کې ځېل، صنف، ډول، نوع او قسم ته وايي او په اصطلاح کې مختلف پیغامونه، اطلاعات او مطالب چې د لیکنې یا ژورنالېزم په یوه اډانه کې ځای پر ځای شوې وي او د دې اډانې یا چوکاټ اصول پرې تطبیق شي، ژانر بلل کېږي.

موږ د رسنیو له لارې اطلاعات، پیغام، ښوونه او روزنه او تفریح په بېلابېلو ژورنالستیکي چوکاټونو کې خلکو ته وړاندې کوو، لکه خبر، رپوټ، پکېج، فیچر، ګردې میز، مرکه او دې ته ورته نور چوکاټونه، په هر چوکاټ کې چې موږ مطالب وړاندې کوو، یو ژورنالستیک ډول یا ژانر دی، چې دې څپرکي کې به یې په تفصیل د بېلګو سره پرې بحث وشي.

۱: خبر:

دا یوه عربي کلیمه ده، چې د پوهې، ځیرکتیا، خبرونې او خبرې معنې لري، د ژورنالېزم په اصطلاح کې د پېښو په اړه هغه لنډو معلوماتو ته چې خلکو ته په زړه پورې وي او د خلکو پر ژوند، منفي یا مثبت اغېز ولري، خبر ګڼل کېږي، دا پېښه کېدای شي، ښه وي او یا بد.

New وايي، نیوز د نیو Newsخبر ته په انګلیسي ژبه کې نیوز نوي شي ته وايي.Newجمع ده،

د خبر په اړه بېلابېل تعریفونه موجود دي، هر یوه او د نظر خاوند له خپله انده او د خپلو تجربو پر بنسټ یې پېژندنه کړې ده.

په دې پېژندنو کې ځینې داسې دي، چې د لوستونکي قناعت پرې نه حاصلېږي.

Ketabton.com

استاذ محمد داوود وفا په خپل کتاب (د نوي ژورنالېزم بنسټونه) کې دغه نظريات داسې راټول کړي دي.

د خبر ليکنې د کتاب ليکوال وايي: هغه رښتينې Lyle Spensoer عمل او فکر چې د لوستوالو لپاره زړه راښکونکی او جالب وي، خبر بلل کېږي.

په خپل (ورځپاڼه ليکنه) کتاب کې W.G. Blaire امريکايي خبريال وايي، چې ټولې ورځنۍ پېښې خبرونه دي، چې د زړه راښکون له امله په خپرونو او خبري سرويسونو کې خپرېږي.

بيا ورځينی رښتينې يا پام وړ S. Moullyد خبرموندنې ليکوال او عينې پېښې خبر بولي.

–Mitegell – vد امريکا د مينه سوتای پوهنتون د خبريالۍ استاذ د خبر ليکنې په کتاب کې وايي: charnley

خبر د يوې پېښې وړ، لنډ او روغ راپورتاژ دی، نه په خپله پېښه.

ځينې نظريې چې په خپل ځای د ارزښت وړ دي، په عين زمان کې ځينې پوښتنې هم راولاړوي، چې کېدای شي، ډېری ژو رنالستان ورسره توافق ونه لري.

لکه: خبر د واقعيتونو راپورتاژ دی.

خبر يو پيغام دی، چې هم رښتيا وي هم دروغ.

خبر يوه پېښه ده، چې پېښېږي.

د پېښې ټول اطلاعات خبر ګڼل کېږي.

خبر د يو لړ لغتونو ټولګه ده، چې د يوه کار د سرته رسېدو اطلاعات ورکوي.

زما په اند خبر د يوې پېښې (هغه که ښه وي او يا بد) هغه لومړني معلومات دي، چې د شپږو لومړنيو پوښتنو ځوابونکی وي.

Ketabton.com

پېښه کله رامنځته شوې ده؟ چېرته رامنځته شوې. څنګه رامنځته شوې؟ چا رامنځته کړې؟ ولې رامنځته شوې؟ څومره زیان چا ته اوښتی دی؟ دا یو بشپړ خبر دی.

د بېلګې په ډول که په یوه ځای کې خلک سره راټول وي، شروشور وي یا یوه ډله خلک د آسمان لوري ته ګوري او یا هم یوې خوا ته منډې وهي، په طبیعي ډول تاسو ته ځینې پوښتنې راولاړېږي، څه خبره به وي؟ څه پېښ شوي؟ چا پېښ کړي؟ ولې به پېښ شوي وي؟ خلک ولې اوتر دي؟ خلک ولې منډې وهي؟ دا تلوسه ییزې پوښتنې دي، چې ستاسو ذهن ته به خطور کوي.

بله بېلګه: که چېرې تاسې په یو ټولګي یا یو ځای کې ناست یاست، یو څوک ناڅاپه په وارخطا یی، ستاسو مجلس ته رانوځي، ساه یې بنده بنده کېږي، اوتر وي، رنګ یې الوتی وي، حتماً تاسو هر یوه ته پورته ذکر شوې پوښتنې په ذهن کې ګرځي او ځان پوهول غواړئ، دې ته هوسېږئ، چې وپوښتئ، څه خبره ده؟ ولې وارخطا یې؟ چا په منډو کړی یې؟ که نوموړی شخص تاسو ته د یوې پېښې کیسه کوي. طبعاً تاسې د پېښې له جذباتو نه ځان خبرول غواړئ او پوښتنه ترې کول غواړي، چې چا کړي؟ ولې یې کړي؟ تا څه کړي وو، چې داسې درپېښ شول؟ دا ټولې خبري پوښتنې دي ، چې تاسې یې ځان ته معلومول غواړئ، کله چې دا ټولې پوښتنې مو ځواب شوې، هله تسکېنېږئ او تلوسه مو خړوبېږي. بش همدا خبردی.

Ketabton.com

دا قضاوت وروسته کوئ، چې دا یو په زړه پورې خبرو او که نه؟ که چېرې تاسو ته پر زړه پورې و، ستاسو عاطفه او احساسات یې راوپارول. په طبیعي ډول غواړئ، د موضوع له عمق او شالید نه هم خبر شئ او که چېرې پېښه تکراري وه، پر زړه پورې نه وه، تاسې پرې تیېره ږدئ او نور یې نه پلټئ، د پېښې په زړه پورې والی، نوی والی او اغېزمنتیا تاسې پلټنې او لازیاتو معلوماتو ته هڅوي، ستاسو دغه تجسس څېړنیزه خبریالي تشکیلوي، چې طبعاً لازیات معلومات څه نا څه وخت نیسي، اما ساده خبر زمانګیر نه وي.

خبر د ژورنالېزم لومړنی بنسټ دی، چې له امله یې مسلکي ژورنالېزم رامنځته شوی او بنسټ یې ایښودل شوی دی. وروسته

د موضوع د روښانيا او ژر پوهېدنې په موخه د ژورنالېزم د مسلک د نظر خاوندان خبر په بېلابېلو ډولونو ويشلی، چې هر يوه يې د خبر په عمومي چوکاټ کې ځان ته پېژندنې لري. اما د ټولو سکښت او چوکاټ يو دی.

د خبر چوکاټ يا سکښت:

هر خبر له دغه چوکاټ يا سکښت نه دباندې نه وي، دا چوکاټ څلور برخې لري.

۱- سرليک:

دا د خبر تر ټولو مهمه او اشتهاري برخه وي، چې تلوسه زېږوي، ليدونکي، اورېدونکي او يا هم لوستونکي د خبر اورېدو، ليدلو او لوستلو ته اړ باسي.

دا په تاسو پورې اړه لري، چې سرليک څومره هڅونکی جوړولای شئ، ستاسو ظرفيت، توانايي او مسلکي پوهه په سرليک کې معلومېږي، که چېرې يوه مهمه پېښه وي او تاسې يې سرليک هيښونکی، تلوسه زېږونکی او لنډ جوړ نه کړئ، تاسې په دې نه توانېږئ، چې د خبر تر پايه مو مخاطبان ځان سره وساتئ. سر ليک د خبر سرنوشت ټاکي. سرليک په چاپي، غږيزو او تصويري رسنيو کې په توپير سره جوړېږي. په چاپي رسنيو کې سرليک کېدای شي، يوه بشپړه خو لنډه جمله وي، اما په راديو او تلوېزيون کې يوه تلوسه زېږونکې عبارت.

۲- ليډ:

ليډ د خبر پيل ته وايي، چې د ټول خبر شيره يا نچوړ هم ګڼل کېدلای شي، معمولاً يو پاراګراف چې له څو لنډو جملو نه جوړوي، لرونکی وي، کله کله د موضوع د حساسيت او مهموالي په اساس دوه پراګرافه هم کېدلای شي. په ليډ کې معمولاً څلور پوښتنې، څه؟ کله؟ چا؟ چېرته؟ ځوابېږي. ځينې خبريالان ولې؟ او څنګه هم په ليډ کې ځوابوي. دا برخه هم ډېره هڅونکې بايد جوړه شي، ځينې خبريالان بيا ولې؟ او څنګه؟ پوښتنې هم په همدې ليډ کې ځوابوي او تشريح يې په متن کې کوي.

۳- متن يا تشريح:



Ketabton.com

دا د خبر بدنه ده، دا هغه برخه ده، چې ټوله موضوع تشریح کوي او د بېلابېلو خواوو نقل قولونه د سند په توګه وړاندي کوي. د ټولو خواوو لنډ نظرونه پکې اخیستل کېږي او لوستونکي، اورېدونکي او یا لیدونکي ته نوره پوښتنه په ذهن کې نه پرېږدي.

۴- پای یا شالید:

وایي، په دې برخه کې د خبر Background په انګلیسي کې ورته تېر تاریخ ته نظر اچول کېږي، که له دې وړاندې دې ته ورته پېښه شوې وي، په لنډ ډول ورته اشاره کېږي، که نه وي، په داسې جملو خبر پای ته رسول کېږي، چې د موضوع په بشپړېدو دلالت وکړي . ځینې موضوعات او یا هم پېښې تعقیب او پلټنې ته اړتیا لري، کېدای شي، د خبر په پای کې داسې جملې وکارول شي، چې ستاسې مخاطبان د هغه د تعقیب او یا ژورو ته کېوتو په موخه وخت ته انتظار وکړي او په یو ډول لاهم په تلوسه کې پاتې شي. اوس به په عملي ډول د یو بشپړ خبر برخه ولیکو:

سرلیک:

په جلال آباد کې ځانمرګي بریدګر، لسګونو خلکو ته مرګ ژوبله واړوله.

د راډیو تلویزیون لپاره همدا سرلیک:

په جلال اباد کې د ځانمرګي برید له امله لسګونو خلکو ته مرګ ژوبله ...

د دې سرلیک په اورېدو او یا هم لوستلو تاسو ته ډېرې پوښتنې راولاړېږي، کله؟ د ښار په کوم ځای کې؟ چاته مرګ ژوبله واوښته؟ زیان یې څومره و؟

هغه لومړنې پوښتنې چې ستاسو د مخاطبانو ذهن یې ژر ځواب غواړي، په لیډ کې ځوابېږي.

لیډ:

Ketabton.com

د شنبې سهار اته بجې د جلال آباد کابل بانک مخې ته د ځانمرګي برید له امله لسګونه تنو ته مرګ ژوبله واوښته، چې ډېری قربانیان یې ملکي وګړي وو.

د دې لیږ نه وروسته ستاسو مخاطبانو ته نورې پوښتنې هم راولاړېږي. آیا قربانیان یوازې ملکي وګړي دي؟ د پېښې نور قربانیان څوک دي؟ اوښتی زیان به څومره وي؟

د دې پوښتنو ترڅنګ، ستاسو مخاطبان تمه لري، چې ټوله کیسه واوري. ځانمرګی څنګه راغی؟ څنګه یې ځان ته چاودنه ورکړه؟ ټپیان څنګه شول؟ په ټپیانو کې څوک شامل دي؟ روغتیایي حالت یې څنګه دی؟ کومې ډلې دا پېښه رامنځته کړې ده؟ پولیسو یې ولې مخنیوی ونه کړ؟ د دغسې پېښو د مخنیوي لپاره تدابیر څه دي؟ وضعیت اوس څنګه دی؟ او دې ته ورته نورې پوښتنې چې کېدای شي، په یو تفصیلي رپوټ کې ځواب شي، خو د خبر په اډانه کې همدا پوښتنې په لنډ ډول ځوابېږي او هغه په متن کې تشریح کېږي. په رپوټ وروسته خبرې کوو.

متن:

چارواکي وايي، ځانمرګي بریدګر هغه وخت د خلکو په ګڼه ګوڼه کې ځان ته چاودنه ورکړه، چې پولیس او خلک د خپلو معاشونو اخیستنې په موخه کابل بانک مخې ته را ټول شوي وو.

د جلال آباد روغتون مسوولین وايي، دوی ته د پېښې له ځای نه ۳۶ تنه مړي او ۱۵۰ تنه ټپیان راوړل شوي، چې ډېری یې ښځې، ماشومان او ملکي وګړي دي.

د چاودنې له امله د شاوخوا دوکانونو، ودانیو او کابل بانک شیښې ماتې شوي او مالي زیان یې خلکو ته اړولی دی.

ډاکټرانو د یو شمېر ټپیانو روغتیایي وضعیت د اندېښنې وړ ښودلی دی.

د دې پېښې مسوولیت داعش ډلې په غاړه اخیستی.

شالید:

Ketabton.com

دوه کاله وړاندې هم ځانمرګو بریدګرو پر دغه کابل بانک برید کړی و، چې ګڼو پولیسو او عامو خلکو ته مرګ ژوبله اړولې وه.

د خبر پای که شالید ونه لري، په داسې جملو باید پای ته ورسول شي، چې د لیدونکو، اوریدونکو او یا هم لوستونکو په ذهن کې د پېښې په اړه جدي پوښتنې پاتې نه شي . او کیسه پای ته رسېدلې وښیي.

لکه دا جمله چې د پېښې مسوولیت داعش ډلې پر غاړه اخیستې.

که جزیات په بشپړ ډول د خبریال لاسته نه وي ورغلي، کېدای شي، خبر په داسې جملو پای ته ورسول شي، چې مخاطبان مو په راتلونکي خبرې سرویسونو کې د بشپړو جزیاتو په تمه پاتې شي او پاتې خبري سرویسونه هم تعقیب کړي.

لکه: د پېښې نور جزیات زموږ په راتلونکو خبري سرویسونو کې وړاندې کېږي.

د بشپړ خبر بله بېلګه:

د شپږو سوو نجونو زده کوونکو د سر پناه ستونزه حل شوه.

د بهسودو ولسوالی د تعمیراتو په کلي کې د شپږو سوو نجونو زده کوونکو د سرپناه ستونزه د یوې ودانۍ په جوړولو حل شوه.

د ښوونځي دغه ودانۍ د جاپان هېواد د جای کا موسسې د دوه سوه زره امریکایي ډالرو په مرسته په یوه پوړ کې په پاخه او اساسي ډول جوړه شوې ده.

د پوهنې رئیس الله داد اسماعیل زي وویل: دا ودانۍ د غازي امان الله خان لېسې په انګړ کې جوړه شوې ده، چې په دوو شفټونو کې شپږ سوه نجونې پکې زده کړې کوي.

د پوهنې رئیس زیاته کړه، په نوموړې لېسه کې وړې نجونې د هلکانو سره یوځای زده کړې کولې او د لوړو ټولګیو لپاره د سرپناه ستونزه د دې سبب شوې وه، چې خلک خپلې نجونې ښوونځي

Ketabton.com

ته پرېنېږدي، چې د دې ودانۍ په جوړولو سره ياده ستونزه حل شوه.

ده د ودانۍ د څرنګوالي په اړه وويل، دغه ودانۍ لس درسي خونې، تشنابونه او نور ضروري ملحقات لري.

د سيمې خلکو هم د دې ودانۍ په جوړېدو خوښي وښوده.

د لنډ خبر لپاره همدومره جزئيات هم کافي دي.

که له همدې خبر نه اوږود خبر جوړوی، کېدای شي، د پوهنې د رئيس خبر وغزوئ او د ودانۍ د جوړېدو د پيل او پای نېټه هم ياده کړئ. دغه راز د زده کوونکو نظر هم پکې شامل کړئ.

د خبر ډولونه:

خبر په مختلفو حالاتو کې په مختلفو ډولونو ويشل کېږي.

د حجم له پلوه خبر په دوه ډوله دی.

الف: لنډ خبر، ب: اوږد خبر.

د لنډ خبر بېلګې مخکې وړاندې شوې، که ذکر شوي خبرونه په تفصيل سره وليکل شي، اوږد خبر ګڼل کېدای شي.

د کيفيت له پلوه د خبر ډولونه:

د کيفيت له پلوه خبر په پنځو ډولونو وېشل کېږي، يا په رسنيو کې کارول کېږی.

١: سخت خبر

٢: نرم خبر

٣: تازه خبر

٤: سوړ خبر

٥: تود خبر

Ketabton.com

۱: سخت خبر: د هغو بوږنوونکو پېښو خبرونو ته سخت خبر ويل کېږي، چې اورېدل، لوستل او ليدل يې مخاطبان وبوږنوي.لکه د کابل بانک د پېښې خبر چې مخکې يې بېلګه وړاندې شوه.

بله بېلګه:

يوې ترافيکي پېښې څلوېښتو کسانو ته مرګ ژوبله واړوله.

د تورخم-جلال آباد د لوی لارې ډکې په سيمه کې د دوو کاستر موټرو د ټکر له امله څلوېښتو کسانو ته مرګ ژوبله واوښته.

د ننګرهار ترافيکو مدير... وويل: دا پېښه هغه مهال رامنځته شوه، چې يو کاستر موټر له تورخم نه جلال آباد او بل يې له جلال اباد نه تورخم ته روان و، چې د ډېر سرعت له امله نن سهار لس بجې د ډکې په سيمه کې ټکر شول.

د ترافيکو مدير زياته کړه، په دواړو موټرو کې لس تنه چې ډېری يې ښځې او ماشومان دي مړه او دېرش تنه نور ټپيان شوي دي.

د عامې روغتيا رئيس ... وايي، ټپيانو کې ښځې، ماشومان او سپين ږيري شامل دي، چې د لسو تنو روغتيايي حالت د اندېښنې وړ دي.

د يادونې وړ ده، چې تېره مياشت هم د تورخم-جلال آباد سړک د دغسې خونړيو ترافيکي پېښو شاهد وو.

خلک وايي، که د تورخم-جلال آباد دوهم سړک جوړ نه شي، په راتلونکې کې هم د دغسې پېښو اټکل کېدای شي.

هغه خبريالان چې په خصوصي رسنيو کې کار کوي، هڅه کوي، چې خپل خبر په ننګوونکو جملو پای ته ورسوي.

يادونه: له دې وروسته چې د هر ډول خبر پېژندنه او بېلګه وړاندې کوو، په ياد ولرئ، چې هغه به د لنډ خبر يا اوږد خبر په چوکاټ کې وي، که ستاسو رسنی په خبري سرويس کې کافي وخت ولري، د پېښې خبري ارزښت ته په کتو هماغسې خبر ليکئ. يعنې که وخت ډېر و او پېښه مهمه وه، اوږد خبر او که وخت کم و، لنډ خبر وليکئ.

Ketabton.com

دغه راز، کله چې د خبر ټول جزیات په لاس کې ونه لرئ، هم تاسې مجبوراً لنډ خبر لیکی.

دا هم په یاد ولرئ، چې په چاپي او انټرنيټي رسنيو کې تصویر، ویډیو، په تلویزیون کې ویډیو او په غږیزو رسنیو کې د پېښې غږونه ستاسې خبر په زړه پورې کوي او اغېز یې زیاتوي، وچ په وچه د پېښې کیسه ستاسو خبر بې خونده کوي او ستاسو تنبلي ښيي. د پېښې سیمې ته د خبریال ورتګ، خبر قوي او اغېزمن کوي او ستاسو اعتبار هم زياتېږي.

**۲:** نرم خبر:

نرم خبر د سخت خبر برعکس دی، هغه مسایل او ورځنی پېښې چې اغېز یې سملاسي محسوس نه وي، بوختوونکي او دوامداره مسایل رانغاړي. استاذ محمد داوود وفا په خپل کتاب (د نوي ژورنالېزم بستونه) کې کاږي.

((که تاسې د تودې جګړې د یوه لوري د بري خبر خپروئ، دا سخت خبر دی، خو که د جګړې، زیانونو او اوږد مهاله اقتصادي تاوانونو په باب خبر لیکئ، ښايي نرم خبر وي.))

کله کله رسنۍ د خبري فقر سره مخ شي، تود او سخت خبرونه لږ وي، خبریال په ځینو عادي ورځنیو بوختوونکو مسالو مواد راټولوي او د خبري سرویس د ډکولو او بشپړولو لپاره ترې کار اخلي.

کله کله د یو چا د مرګې له نچوړ نه هم نرم خبر جوړېدلی شي.

د دې خبر نه د خبریال یا رسنیو موخه د خلکو بوخت ساتل او له ورځني ژوندانه نه د خلکو خبرول دي.

په نرم خبر کې وخت مهم نه وي، دې ته نه زړېدونکي یا تولیدي خبرونه هم وایي، کېدای شي، خبریال یوې سیمې ته سفر کړی وي او هلته د هماغه سیمې له خلکو نه د هغوی د سیمه ییزو ستونزو او بریاوو په اړه پوښتنې کړې وي، د خلکو د ستونزو او بریاوو منعکسول او چارواکو تر غوږونو رسول یې موخه وي، د دې ډول خبرونو ګټه په دې کې وي، چې خلک د خپلو



Ketabton.com

هېوادوالو د عادي ژوند له څرنګوالي خبرېږي، د خلکو ستونزې تر چارواکو رسول کېږي، کېدای شي چارواکي پرې غور وکړي او ورحل يې کړي، د يوې سيمې د خلکو له بريا وو او لاسته راوړنو نور خلک هم زده کړه وکړي هغه په خپلو سيمو کې عملي کړي ، په يو ډول خلک د رسنيو سره علاقمند او په اړيکو کې پاتې کېږي.

د بېلګې په ډول، که خبريال داسې لرې سيمې ته تللی وي، چې هلته د زعفرانو حاصلات ډېر وي او بزګران يې د حاصلاتو له عوايدو خوښ وي، کېدای شي، يو نرم خبر ترې جوړ کړي، يا په دره نور کې د ګلابو له حاصلاتو نه د عطرو په جوړونه کې ګټه اخيستل کېږي، خبريال پرې نرم خبر جوړ کړي.

بېلګه: د دره نور ولسوالۍ هغه بنوال چې ګلاب کري، له خپلو حاصلا تو خوښ دي.

دوی وايي، د ګلابو له حاصلاتو نه عطر جوړوي او ښه ګټه ترې پورته کوي.

يو تن بنوال حضرت ګل د خپلو حاصلاتو په باب وايي، د ګلابو دوه بڼونه لري، چې د يوې موسسې پرمټ ورته د عطرو کارخانه جوړه شوې ده او هر کال د دغو ګلابو د حاصلاتو له امله دومره ګټه ترلاسه کوي، چې په کوکنارو کې يې هېڅکله هم نه ده حاصله کړې.

حضرت ګل زياتوي، خوښ دی، چې له دې لارې حلاله نفقه ګټي او د خپلې ټولنې د خدمت مصدر ګرځېدلی دی.

دی په نورو بزګرانو هم غږ کوي، چې د کوکنارو له کر نه لاس واخلي او پر نورو بديلو کښتونو غور وکړي، چې ښه ګټه ترلاسه کړي.

ده د امريکا متحده ايالتونو د پراختيايي ادارې د بديلو کښتونو څانګې له مسوولينو نه مننه وکړه، چې د دوی ګلابو ته يې ښه بازار پيدا کړی او د عطرو کارخانه يې فعاله کړې ده.

دا خبر نور هم غزېدلی شي، کېدای شي، بزګر يا بنوال له کرنې رياست نه شکايت کړی وي، کېدای شي، خبريال د کرنې

Ketabton.com

نظر هم USAIDریاست د مسوول ځواب هم پکې ځای کړي، یا د واخلي او ښه یې اوږد کړي.

د خبر لنډوالي او اږدوالي د موضوع په ارزښت او څرنګوالي پورې اړه لري، خبریال پکې خلاص مټ لري، کېدای شي د خپلې رسنۍ اړتیا ته په پام د خبر حجم وټاکي.

دغه راز دا خبر په وخت پورې اړه نه لري او هر وخت ترې کار اخيستل کېدلای شي، آن که اوونۍ او میاشت وروسته یې هم خپور کړي، نه زړېږي، خو سخت خبر برعکس کېدای شي، ۲۴ ساعته وروسته د خپراوي وړ نه وي ژر زړېږي .

بله بېلګه:

د سره رود ولسوالی کې د نعنا یلني کرکېله زیاته شوې ده، بزګران وايي، د دوی د نعنا حاصلات خورا ښه بازار لري او ښه ګټه ترې ترلاسه کوي.

محمد هاشم چې د سره رود ولسوالی په چهارباغ صفا سیمه کې جریبونه ځمکه کې نعنا کرلي وايي، دلته د دوی د حاصلاتو لپاره د نعنا د مقطرو اوبو فابریکه جوړه شوې ده او د دوی حاصلات په لوړه بیه پلورل کېږي.

دی وايي، څو تنو بزګرانو په ګډه د نعنا د اوبو یوه کارخانه فعاله کړې ده، چې هره ورځ لسګونه بوتله د نعنا اوبه بازار ته وړاندې کوي او ډېر اخیستونکي لري. دی وايي د نعنا له پروسس وروسته د نعنا مقطرې اوبه دواخانو او یوناني درمل ځایونو ته وړل کېږي او په ښه بیه پلورل کېږي.

جاوید د جلال اباد په ښار کې درملتون لري او د نعنا اوبه هم خرڅوي، وايي: د نعنا اوبه د معدې لپاره ګټوره او د هاضمې سیستم په فعال ساتلو کې ډېره اغېزمنه ده او خلک یې ډېره استعمالوي.

احمد شاه چې د نعنا اوبه له درملتون نه پېرلې، د نعنا اوبو له کیفیت نه خوښ دی. دی وايي، کله چې د معدې تکلیف ورته پیدا شي، دی د نعنا له اوبو ګټه اخلي.



Ketabton.com

د کرنې کارپوهان وايي، که زموږ بزګران دغسې کښتونو ته مخ واړوي لري نه ده، چې د کوکنارو د کښت مخنيوی به وشي او هم به د بزګرانو اقتصاد پياوړي شي.

دا خبر هم کېدای شي، په لنډ ډول وړاندې شي او هم کېدای شي، په اوږد ډول جوړ شي،دا په خبريال پورې اړه لري، چې اړونده رسنۍ ورته څه ډول خبر غواړي.

هغه خبريالان چې مسلکي نه دي، تل په دې فکر کې وي، چې چېرته پېښه رامنځته شي او دوی ترې خبر جوړ کړي، خو کله چې کومه پېښه نه وي، لاس تر زنې حيران ناست وي، چې څه وکړي، مسلکي خبريالان د نرم خبر په جوړولو ډېر برلاسي وي.

په دې ډول خبر ډېرې نورې خبرې هم کېدلای شي، خو د موضوع د لنډون لپاره به همدومره بس وي

۳: تازه خبر: تازه خبر هغه خبر ته وايي، چې سم لاسي پېښ شوی وي، دا که نرم خبر وي او که سخت، نوی والی يې مهم دی، په ځانګړي ډول هغو رسنيو ته چې په لومړي لاس رسېږي او نورې رسنۍ ترې خبرې نه وي، که هم مهاله څو رسنۍ ترې خبرېږي، ټولو ته تازه خبر وي، کله کله موږ په رسنيو کې اورو تازه معلومات دا دي چې ... معنی دا چې نوي معلومات دادي. يا تازه دم ځواکونه د جګړې لومړۍ کرښې ته رسېدلي دي. معنی دا چې نوي ځواکونه رسېدلي دي.

د خبر نور ډولونه کېدای شي، د موضوع له پلوه تکراري وي، مثلاً پېښه شوې وي، نوي معلومات ورکول کېږي، دې ته تازه خبر نه ويل کېږي ،بلکې چې د موضوع له پلوه هم تازه وي، هغه خبر ته تازه ويل کېږي، د بېلګې په ډول:

څو شېبې وړاندې څو تنو وسلو والو بريدګرو د ننګرهار پر هوايي ډګر بريد پيل کړی او د درنو چاودنو غږونه هم اورېدل شوي دي.

د سيمې يو شمېر عيني شاهدان وايي، چې دواړو لوريو لخوا پر يو بل د سپکو او درنو وسلو ډزې کېږي او توده جګړه روانه ده.

Ketabton.com

د دغسې خبرونو بشپړ جزیات نه وي څرګند او د رسنیو ماد ر یتوران خپل مخاطبان د نورو جزیاتو لپاره په تمه ساتي.

کله کله داسې هم پېښېږي، چې تازه خبر بشپړ وي، خو د تازه خبر یو خصوصیت او مهم والی په دې کې دی، چې د مادریشن نورکریوال یا ویاند لخوا په مقدمه کې ویل کېږي

پام وکړئ، یو تازه خبر ته چې همدا اوس راورسېده.

دې ټکي ته مو هم باید پام وي، چې کله کله په ملي رسنیو کې د لوړو مقاماتو خبرونه خبري سرویس ته وروسته رسېږي. د دې لپاره چې مشران خپه نه شي، نطاق له مجبوریت نه وایي، چې پام وکړئ، یو خبر ته چې همدا اوس زموږ لاسته راورسېد.

مسلکي نطاق دې ته تازه خبر نه وایي، یوازې وایي، (یو خبر ته چې همدا اوس راورسېد) ځکه په تازه خبر کې نوی والی او مهموالی مهم وي، خو په ملي رسنیو، کې تشریفات په نظر کې نیول کېږي، نه خبري ارزښت، د مقاماتو موقفونو ته پام کېږي ،اول د ولسمشر، دوهم د مرستیال ... همداسې سلسله وار. خو دا ټول خبرونه په نورو رسنیو کې د خبري ارزښت له مخې ډلبندي کېږي.

۴: سوړ خبر:

دغه ډول خبر ته ځینې ژورنالستان فیچري خبر یا نرم خبر هم وایي، د تود خبر سره یې توپیر په دې کې دی، چې سخت خبر یا تود خبر د وخت په لومو کې نښتی وي، خو سوړ خبر د وخت له قیده خلاص وي او طبق معمول د ژوندانه د ځینو اړخونو د څرګندولو لپاره لیکل کېږي، چې لکه د نرم خبر بوختوونکی وي، د بېلګې په ډول:

د شینوارو د علي شېرخېلو او سه پای قومونو ترمنځ د یوې دښتې پر سر شدیده جګړه ونښته.

دا یو سخت خبر دی، خو که خبریال میاشت یا له هغې هم وروسته سیمې ته ځي، چې جګړه کراره شوې وي، د جګړې پر اغېزو خبر جوړوي، دې ته نرم خبر ویل کېږي.

د بېلګې په ډول:

د شينوارو د سه پای او علي شېرخېلو د قومي جګړې له امله ګڼ شمېر خلکو ته رواني او روغتيايي ستونزې پيدا شوي دي.

د غني خېلو روغتون مسوولين وايي، دوی ته داسي ناروغان هره ورځ راځي، چې په جګړه کې يې خپل اولادونه له لاسه ورکړي او رواني ستونزو سره مخ شوي دي...

۵: تود خبر:

ځينې خلک دې ته سخت خبر هم وايي، خو د تود خبر او سخت خبر ترمنځ يوه باريکي شته، هغه دا چې تود خبر هغه خبر ته وايي، چې يوه توده موضوع وي او د هر چا په خولو کې وي، يعني بحث زېږونکې وي، دغسې خبرونه ډېر په وخت پورې تړلې نه وي، لکه سخت خبر، بلکه دا چې دا خبر بوړنوونکې نه وي، لکه سخت خبر، د بېلګې په ډول:

د افغانستان او پاکستان ترمنځ د استخباراتي تفاهمليک موضوع ډېر بحثونه او خبرونه وزېږول.

په هره رسنۍ کې ګردي ميزونه جوړ شول، د عام و خاص په خولو کې همدا بحث و، په ولسي جرګه، مشرانو جرګه، سياسي کړيو او مدني نهادونو کې پرې بحثونه وشول، قابو مياشت پرې تېرېږي، اوس هم پرې بحثونه کېږي او په اړه يې خبرونه خپرېږي، دغو خبرونو ته تاوده خبرونه ويل کېږي.

بېلګه:

ولسي جرګې د ملي امنيت شورا پر هغې پرېکړې نيوکه وکړه، چې له مخې يې د پاکستان استخباراتي شبکې سره استخباراتي تفاهمليک لاسليک کېږي.

د ولسي جرګې غړي وايي، پاکستان په تېرو دېرشو کلونو کې افغانان وژلي، زموږ هېواد يې وران کړی او تراوسه پورې زموږ په هېواد کې جګړه توده ساتلې ...

له بشپړ خبر نه د لندون په موخه تېرېږم، ځکه د خبر سکښت او جوړښت مخکې تشريح شوی، جزيات په هماغه سکښت کې بايد ځای شي.

د محتوا له مخې د خبر ډولونه:

د محتوا له مخې خبر ډېر ډولونه لري، کېدای شي، د ژوندانه له بېلابېلو اړخونو نه جوړ شوي خبرونه په هماغه نوم ونومول شي، خو بايد په ياد ولرو، چې په جوړښت کې يې کوم ځانګړی بدلون نه راځي، دغه نومونه يادولی شو.

ورزشي خبر:

دې ته د لوبو خبرونه هم ويل کېږي، چې د لوبو په سياليو، پرمختګونو ننګونو او جريانونو باندې ليکل کېږي، ځينې رسنۍ يوازې همدې برخې ته ځانګړې شوې وي، خو اکثراً رسنۍ دې برخې ته ځانګړی ځای ورکوي او د يو جلا سکنل په واسطه د لوبو خبرونه وړاندې کېږي.

بېلګه:

د پاکستان او افغانستان د کرکټ ملي لوبډلو ترمنځ پنځوس اوريزې سيالۍ پيل شوې.

په دې سياليو کې چې د اسلام آباد، په کرکټ لوبغالي کې د دوشنبې په ورځ پيل شوې د بټينګ پچه افغانستان وګټله او لوبه يې پيل کړه...

په ياد ولرئ، چې دغسې خبورنو ته تخصصي خبرونه هم وايي، يعنې خبريال د خبريالۍ زده کړې ترڅنګ په کرکټ يا نورو لوبو هم بايد وپوهېږي.

هغه خبريالان چې په لوبو نه پوهېږي، بشپړ خبر نه شي جوړولای، لکه څنګه چې په لوبو پوه خبريال يې ليکلی شي.

اقتصادي خبر:

دا ډول خبرونه اقتصادي پېښې، پرمختګونه او ننګوونې رانغاړي، دې ته وټه ييز خبر هم ويل کېږي، په دې کې د مهمو



Ketabton.com

اقتصادي پروژو پرانستل، د مهمو اقتصادي پروژو پروړاندې ستونزې او ننګونې اونور په بر کې نيسي.

بېلګه :

د سلما بند د جوړولو چارې پيل شوې.

د هرات ولايت د سلما بند چې درې کاله وړاندې يې تخنيکي سروې بشپړه شوې وه، د هند په ... مليارده ډالرو بلاعوضه مرسته په لسو کلونو کې جوړېږي... ادامه

روغتيايي خبر:

دا ډول خبرونه روغتيايي پرمختکونه، ننګونې، لوى او بې ساري عملياتو نه او روغتيايي چارې رانغاړي، د دې ډول خبر جوړوونکي خبريالان هم بايد لږ تر لږه د روغتيايي اصطلاحګانو سره اشنايي ولري.

بېلګه:

د ننګرهار په حوزوي روغتون کې په لومړي ځل د زړه عمليات ترسره شول، دغه عمليات د ننګرهار د حوزوي روغتون د جراحانو لخوا په برياليتوب ترسره شوي دي.

د عامې روغتيا رئيس ... وايي، موږ له دې وروسته دې ته اړتيا نه لرو، چې ناروغان پاکستان او يا نورو هېوادونو ته د زړه د عملياتو په موخه ولېږو... نور د خبر د اصولو او سکښت له مخې بايد خبر بشپړ شي.

امنيتي خبر:

دا ډول خبرونه د معمول له مخې هغه پېښې رانغاړي، چې په امنيت پورې تړلې وي، لکه جګړې، انسان تښتوونه، جنايي کيسونه ...

بېلګه:

د شېرزادو په ولسوالۍ کې د طالبانو او حکومتي ځواکونو د نښتې له امله سلو تنو ته مرګ ژوبله واوښته.

د امنيې قوماندانۍ ويانډ ... وويل: ...

کېداى شي، پوښتنه درته پيدا شي، چې د خبرونو په ځينو بېلګو کې ولې سرليک نشته، دې ته بايد ځير اوسئ، چې کله خبر بشپړ شي، سرليک ورته ليکل کېږي، د دې لپاره چې د خبر مهم جزيات پکې ځاى شي او تلوسه ولري او هم د خبر جملې، په سرليک کې تکرار نه شي، کېداى شي، په نويو کلماتو د تکرار مخه ونيول شي.

څېړنيز خبر:

دا ډول خبر په څېړنيز ژورنالېزم پورې تړاو لري، په دې ډول خبر کې خبريال د موضوع ژورو ته ځان رسوي، نا څرګندې او پټې خواوې يې رابرسېره کوي، خبريال ته د رپوټ يوازې يو سند په لاس ورځي، وروسته خبريال په خپله پلټنه کوي او د پېښې په تړاو د ولې او څنګه پوښتنو د ځواب په لټه کې کېږي.

په دې ډول خبر کې څه نا څه وخت ډېر مصرفېږي، ځکه پلټنه کافي وخت غواړي، دغسې موضوعات نه زړېدونکي وي، بله ځانګړنه يې دا ده، چې دغسې خبرونه د يوې رسنۍ امتياز وي. کېداى شي، اسناد يوې رسنۍ ته رسېدلي وي، نورې رسنۍ که دا خبر خپروي، د هماغه رسنۍ په امتياز به يې خپروي او يا هم له هغې نه په الهام، به خپله پلټنې کوي او هماغسې اسناد تر ګوتو کېږي، د بېلګې په ډول، د ۱۳۹۴ کال د غبرګولي په لسمه شپه يک تلوېزيون د کابل د پوليسو د دوو حوزو د امرينو ترمنځ پر يوې مېرمنې چې دواړو ورسره نامشروع اړيکې درلودې پرده پورته کړه، د دې دواړو حوزو امرينو دا کيسه دمياشتو او کلونو کيسه وه، خو يک تلوېزيون يوازې هغه راپور ترلاسه کړى و، چې يو آمر پر بل آمر عمليات تر سره کړي وو او په نتيجه کې د ښځې پښه زيانمنه شوې وه، هغه خبر داسې وو:

د کابل د درېيمې او ديارلسمې امنيتي حوزو د امرينو ترمنځ د يوې ښځې پرسر جنجال رامنځته شو.

دا پېښه هغه وخت رامنځته شوه، چې د درېيمې امنيتي حوزې آمر د يوې موضوع پر سر له يوې مېرمنې د هم بستره کېدو غوښتنه کړې وه او نامشروع اړيکې يې ورسره ټينګې کړې وې، د شواهدو پر بنسټ کله چې د درېيمې امنيتي حوزې امر راپور ترلاسه کوي، چې هغه مېرمن د دیارلسمې امنيتي حوزې د آمر سره په يوه اپارتمان کې يوځای دی. د درېيمې امنيتي حوزې آمر پر اپارتمان عمليات کوي، چې په پايله کې مېرمن له اپارتمان نه ځان غورځوي او پښه يې زيانمنېږي.

د درېيمې حوزې آمر دا پېښه ردوي او دا افترا بولي، خو د ديارلسمې حوزې آمر له خبرو ډډه کوي.

په دې خبر کې يک تلوېزيون هغه مکتوبونه هم د تلوېزيون پر پرده ښيي، چې د پوليسو په آمريت کې د دې ښځې په اړه تبادله شوي او آن د کابل تر امنيې قوماندانی هم رسېدلي وو.

دا خبر دومره په زړه پورې و، چې ما تر پايه تعقيب کړ، چې د پوليسو د يونيفورم نه چې د خلکو د پت او عزت ساتنې سمبول دی، څنګه ناوړه ګټه اخيستل کېږی، که څه هم دا خبر لا هم بشپړ نه دی، لا پلټنو ته اړتيا لري او کېدای شي، نور تعقيبي خبرونه هم وزېږوي، ځکه د ډېرو خواوو نظرونه پکې نه و، خو په ياد ولرئ چې دغسې خبرونه که څه هم د موضوع له پلوه ډېر جدي نه دي خو د په زړه پورې کيسې په درلودلو د خلکو پام ځانته اړوي ځکه چې د پټو رازونو څېړل په طبيعي ډول د هر چا خوښېږي.

سيمه ييز خبر:

هغه خبر ته ويل کېږي، چې يوازې د يوې سيمې خلک ترې اغېزمن کېږي، که د نورو سيمو خلک يې واوري يا وګوري، هغسې ترې نه اغېزمن کېږی، چې د هماغې سيمې خلک ترې اغېزمن شوی وي.

د بېلګې په ډول:

په خوګيانو ولسوالی کې د ړلی له امله د خلکو شته فصلونه له منځه تللي دي

تېره شپه د ننګرهار ولايت لويديځ ته د خوګيانو ولسوالۍ شنه فصلونه د تېزې ږلۍ له امله له منځه تللي او کروندګرو ته مالي زيانونه اوښتي دي.

د خوګيانو يو تن بزګر ... وويل: تېره شپه اسمان په غورېدو شو، لومړی باران وشو او بيا شديده ږلۍ وورېده، چې له امله يې زموږ د کوکنارو، شولو، غنمو او مېوو شنه فصلونه ټول تباه شول...

د خوګيانو ولسوال ... بزګرو ته د اوښتي زيان پخلی کوي او وايي: بزګران له دولت نه د مرستې غوښتنه کوي...

کولای شئ خبر ته ادامه ورکړئ او نور جزيات يې هم وړاندې کړئ، خو په ياد ولرئ، چې د دې خبر مستقيم اغيز د خوګيانو پر سيمه پرېوځي.

د نورو سيمو يا ولايتونو خلکو باندې له خواخوږۍ پرته بل خاص اغېز نه لري، دا ډول خبرونه سيمه ييزې رسنۍ ډېر خپروي.

ملي خبر:

د دې ډول خبر اغيز د هېواد په کچه وي، يعنې داسې موضوعات رانغاړي، چې د افغانستان ټولو خلکو ته يو ډول وي يا لږ تر لږه ډېرو خلکو باندې منفي او يا هم مثبته اغېز ولري، دغسې پېښې هم منفي او هم مثبت کېدای شي، لکه:

د افغانستان ولسي جرګې د ۱۳۹۴ کال ملي بوديجه تصويب کړه.

يا د جمهوري رياست له څلورو کانديدانو څخه دوه تنه يې يو د بل په ګټه تېر شول.

يا دا چې افغان ولسمشر د الکترونيکي تذکرو قانون توشيح نه کړ

يا د مخابراتو وزارت د هېواد په۳۴ ولايتونو کې د نوري فايبر دستګاه فعاله کړه او دې ته ورته نور موضوعات چې هر

Ketabton.com

يوه يې د خبر ليکنې د اصولو له مخې په تفصيل ليکل کېدلای شي.

نړيوال خبر:

دا هغه خبرونه دي، چې دننه په هېواد او يا هم په نورو هېوادونو کې پېښ شوي وي، خو اغېز يې منحصر د يو هېواد پر خلکو نه وي يا لږ تر لږه د نړۍ خلکو ته په زړه پورې وي او هغوی اغېزمن کړي. معنی دا چې نړيوال ارزښت ولري لکه:

د امريکې ولسمشر پر خپلې نړيوالې پاليسی له سره غور کوي

يا دا چې: ملګري ملتونه داسې طرحه تصويب کړه، چې له مخې به يې په نړيواله کچه د بېوزلۍ مخه نيول کېدلای شي. يا په جاګارتا کې د زلزلې له امله شل زره کورونه ونړېدل.

په ياد ولرئ، د بل هېواد هر خبر نړيوال نه وي، هغه خبر ته نړيوال ويل کېږي، چې نړيوال ارزښت ولري.

کله کله په خبري سرويسونو کې داسې خبرونو ته نړيوال ويل کېږي، چې اصلاً نړيوال نه وي، د بل هېواد ملي يا سيمه ييز خبر وي خو مادريتران په غلطۍ هغه نړيوال بولي، کېدای شي، دغسې خبرونو ته چې نړيوال ارزښت ونه لري، بهرني خبرونه او يا له هېواده بهر خبرونه ووايو لکه:

د پاکستان پيپل ګوند صوبايي وزير له خپلې دندې استعفا وکړه.

يا په کراچۍ کې د ترافيکي پېښې له امله پنځو کسانو ته مرګ ژوبله واوښته.

يا جرمنانو د خپلو حقوقو دغو نښتې په خاطر مظاهره وکړه.

موږ بايد د دغسې خبرونو او نړيوالو خبرونو توپير وکړو.

معلوماتي خبر:

دا خبر دوه برخې لري.

Ketabton.com

د عادي مسايلو په اړه د معلوماتو راټولول

د يوې پېښې تعقيبي معلومات وړاندې کول

که موږ د يوې صنعتي، زراعتي او يا بلې پديدې په اړه سروې او يا هم نرم خبر ليکو او خلکو ته يکې معلومات وړاندې کوو، موخه مو د هغې په اړه د خلکو د معلوماتو زياتول وي، دغسې خبر ته هم معلوماتي خبر وايي لکه:

د کابل سيلو هره ورځ زرګونه سرتېرو ته ډوډۍ پخوي

دغه فابريکه چې ۲۴ ساعته فعاليت کوي، د ورځې ( ) ټنه غنم اوړه کوي، د ماشين الاتو په وسيله وړه لمدوي او بيا د همدې ماشينونو په واسطه د سيلو ډوډۍ پخوي...

کله کله داسې وي، چې موضوع يوه وي، خو هره ورځ نوې پېښې زېږوي.

دلته خبريال د موضوع او پېښې د جالبيت پر بنسټ هره ورځ او ان کله کله هر ساعت نوي معلومات وړاندې کوي.

د بېلګې په ډول په ۱۳۹۰ کال کې د شينوارو د دوو خېلونو ترمنځ د يوې دښتې پر سر شخړه رامنځته شوه، چې يو کال يې دوام وکړ.

هره ورځ به نوې پېښې او زيانونه رامنځته کېدل او خبريالان به په تعقيبي ډول نوي خبرونه ترې جوړول او د اوښتو مالي او ځاني زيانونو په اړه نوي معلومات خپرول.

يا کله چې پر کابل بانک ځانمرګي بريد کوونکي ورننوتل او جګړه پيل شوه.

له سهار نه تر مازيګره يې دوام وکړ، ما په هغه ورځ شپږ خبرونه ازادۍ راډيو ته ورکړي وو، پېښه يوه وه، خو په تعقيبي ډول نوي معلومات مې ترلاسه کول او خلکو ته مې وړاندې کول.

ناڅاپي خبر:

Ketabton.com

دا هم د خبر يو ډول دی چې په رسنيو کې وړاندې کېږي

په دې ډول خبرونو کې ټول هغه موضوعات او پېښې رانغاړل کېږي، چې د توقع خلاف وي.

د ځينو پېښو په باب خلک له پخوا نه ذهني چمتووالی لري، که د جګړې پرمهال چاودنې کېږي او يا هم بمبار کېږي، دا ناڅاپي خبر نه دی، ځکه چې معمولاً په جګړو کې داسې پېښېږي.

او يا هم يو ولسمشر د يو پلان او برنامې له مخې بل هېواد ته سفر کوي، هم ناڅاپي نه وي، خو که پرته له پلان او مخکې اعلان شوې برنامې ، ناڅاپه يوځای ته ځي، ناڅاپي خبر دی.

بېلګه: د امريکې ولسمشر بارک اوباما په ناڅاپي سفر افغانستان ته راغی،

نوموړی په بګرام کې د خپلو سرتېرو سره خبرې وکړې او پرته له دې، چې افغان ولسمشر سره ورګوي، بېرته واشنګټن ته ستون شو...

د اټکل وړ خبر:

ځينې داسې پېښې هم وي، چې اټکل يې کېدلای شي، لکه د هوا حالاتو اټکل، يا د پسرلي په موسم کې د سېلابونو راوتل، يا د ځينو طبيعي پېښو لکه زلزلې د نورو ټکانونو اټکل:

لکه: د هوا پېژندنې اداري اټکل کوي، چې د پنجشنبې په ورځ به په سالنګونو کې ډېره واوره وشي او له امله به يې د سالنګونو لاره تړلې وي...

توضيحي خبر:

دا هغه خبر ته ويل کېږي، چې د يو سياسي يا حقيقي شخص خبرې مبهمې خپرې شي، يا تحريف شي او يا هم بل ډول وانګېرل شي، هغه شخص مطبوعاتي کنفرانس ورکړي او يا د هغې خبرې وضاحت وکړي.

د بېلګې په ډول: د ننګرهار والي د پاکستان په اړه خپلې خبرې توضيح کړې.

Ketabton.com

ننګرهار والي... چې تېره ورځ یې د دوربابا قومي مشرانو سره خبرې کولې، ویلي وو، چې دوی نور دې ته اړ شوي، چې پاکستاني کارګران له ننګرهاره وباسي.

د والي دې خبرو د پاکستان سخت غبرګون وپاراوه او دغسې څرګندونې یې د دواړو هېوادونو په زیان وبللې، خو ننګرهار والي د خپلو خبرو چې تېره ورځ یې قومي مشرانو ته کړې وه، وضاحت وکړ، ده وویل: رسنیو د ده په خبرو کې تحریف کړی دی.

ده زیاته کړه، په پاکستان کې افغان کارګران په ډول ډول پلمو ځورول کېږي، کار ته نه پرېښودل کېږي، زنداني کېږي او وروسته له ډیورنډ کرښې افغانستان لوري ته اړول کېږي، ده وویل: زما هدف دا و، چې پاکستان باید د افغان کارګرانو لپاره ستونزې جوړې نه کړي، که نه موږ هم کولای شو، هغه سلګونه پاکستاني کارګران، چې په ننګرهار کې کار کوي، له ننګرهاره وباسو...

له دغسې خبرونو نه موخه د شویو خبرو، ابهاماتو،او تحریفاتو واضع کول وي.

تائیدي او تردیدي خبر:

هغه خبر ته ویل کېږي، چې کله د دوو سیاسي ډلو د یوځای کېدو یا ایتلاف نه د وتو راپورونه ورکړل شي، مسوولین خپل دریځ څرګندوي یا یې تائیدوي او یا هم که دروغ وي ردوي یې، که تائید یې کړي تائید ي او که رد یې کړي، تردیدي خبر بلل کېږي.

کله کله په ځینو سیاسي او مطرحو شخصیتونو او ادارو تورونه هم پورې کېږي، چې وروسته د مسوولینو لخوا ردېږي، دا هم تردیدي خبر ګڼل کېږي.

کله کله د یوې ادارې د اجراتو، یا د ځینو سیاسي شخصیتونو یا هېوادونو ترمنځ، تفاهمنامې لاسلیک کېږي، خو جزیات یې نه وي څرګند، یا پټ سفرونه او لیدنې کتنې ترسره شوې وي، چې وروسته د پټو سرچینو لخوا افشاء کېږي، رسنیو ته راوځي او د مسوولینو لخوا تائیدېږي یا ردېږي، که تائید شول، تائید

ي خبر او كه رد شول ترديدي خبر ګڼل كېږي، لكه راپورونه وايي، چې ولسمشر غني د پاكستان سره د ډيورنډ كرښې په اړه خبرې پيل كړي دي...

خو د ولمسشرۍ ويااند... دغه ډول راپورونه بې بنسټه بولي او ردوي يې.

تشريفاتي خبر:

دا هغه ډول خبرونه وي، چې د هرم ډوله سبك له مخې ليكل كېږي او د لوړپوړو چاروكو كړنې د كيسې په ډول خپرېږي.

د خبر په چوكاټ كې وي، خو يو طرفه وي، موقفونو ته ارزښت وركول كېږي، نه خبري ارزښت ته.

په ملي رسنيو كې اكثراً دغسې خبرونه وي، مثلاً كه د شپږ مليون ډالرو په ارزښت يو مهم بند افتتاح شوى وي او په هغې كې والي يا وزير برخه اخيستې وي. د دې پرځاى چې د خبر ليډ د شپږ ميليون ډالرو په رقم پيل شي، په والي يا وزير پيلېږي.

لكه؛ د كرنې وزير ... د ... والي ... سره وكتل.

په دې كتنه كې چې فلانى، فلانى، فلانى هم برخه اخيستې وه. وزير .... خبرې وكړې، ويې ويل: نن په جلال آباد كې د اوبو لګولو يو بند پرانست، چې د جاپان هېواد لخوا پرې شپږ ميلونه ډالره لګښت شوى و...

خو په ازادو رسنيو كې د خبر ليډ د سرچپه هرم ډوله سبك له مخې جوړېږي.

بېلګه:

په ننګرهار كې د شپږ مليون ډالرو په لګښت د اوبو لګولو بند جوړ او ګټې اخيستنې ته وسپارل شو.

دا بند چې پنځه زره جريبه ځمكه خړوبوي، د جاپان هېواد په مالي مرسته د يوه كال په موده كې جوړ شوى دى.

Ketabton.com

د کرنې وزیر... د دې بند په پرانستغونډه کې د ننګرهار خلکو ته ډاډ ورکړ، چې په راتلونکې کې به هم دې ته ورته بندونه جوړ کړي...

ننګرهار والي... د جاپان هېواد له مرستو مننه وکړه...

او په دې ډول خبر بشپړېږي.

تبلیغاتي خبر:

دا هغه ډول خبر دی، چې سیاسي ډلې، سازمانونه یا حاکم نظام د دغسې خبرونو په خپرولو سره غواړي، د ټولنې عامه ذهنیت د ځان په ګټه واړوي.

په دې ډول خبر کې له مبالغې نه کار اخیستل کېږي او د تشریفاتي خبر په څېر موقفونه غوړ غوړ پکې یادېږي.

که څه هم چې ژورنالېزم ریالیزم دی او مبالغه نه مني، خو، کله کله سیاسي ډلې او سازمانونه دا کارد سیاسي ګټو او پر نظام یا سیاسي ډلې د خلکو د باوري کولو په موخه ترسره کوي، چې دا د پروپاګندا یوه برخه ګڼلی شو. د پروپاګندا بحث جلا بحث دی.

د موضوع د لنډون په خاطر ترې تېرېږم.

کله کله د یوې موضوع د تبلیغولو او د خلکو توجه اړولو لپاره هم دغسې خبرونه لیکل کېږي، دغسې خبرونه اکثراً په ټولنیزو رسنیو ،دولتي ،ګوندي او تنظیمي رسنیو کې خپرېږي، ازادې رسنۍ له دې ډول خبرونو ډډه کوي، که خپاره یې هم کړي، په پای کې یوه ننګونه هم ورکوي، چې چلینج یې بولي.

بېلګه:

د عامې روغتیا وزارت وایي، چې د ۱۳۹۵ کال تر پایه به زموږ هېڅ هېوادوال اړ نه وي، چې بهرنیو هېوادونو ته د درملنې لپاره سفرونه وکړي.

Ketabton.com

د عامې روغتیا وزیر... وایي، داسې روغتیایي خدمات به وړاندې کړي، چې د سیمې هېوادونو په کچه به سارى ونه لري...

دولتي رسنۍ دا خبر همداسې خپروي، خو که ازاده رسنۍ دا خبر خپروي، شایي له دغسې ننګوونې سره یې مل خپور کړي.

خو خلک وایي، په تېرو دیارلسو کلونو کې دغه وزارت په دې ونه توانېده، چې لږ تر لږه معیاري روغتون جوړ کړي، نو دغسې خدمات به څنګه وړاندې کړي، وخت به دا ثابته کړي، چې دغه وزارت به په رښتیا خپله ژمنه پوره کړي او که نه؟

د تخنیکي وسایلو له مخې د خبر ډولونه:

د تخنیکي وسایلو له مخې خبر په څلورو ډولونو ویشل کېږي.

۳: چاپي خبر ۲: راډیویي خبر ۱: تلوېزیوني خبر

د انټرنېټي سایټونو خبر:

تلوېزیوني خبر:

په تلوېزیوني خبر کې سرلیک بشپړه جمله نه وي، بلکې د یو عبارت په بڼه وي، چې اشتهاري بڼه لري. تلوسه ولري اود خبر مهمه برخه وي.

لکه: په سره رود ولسوالۍ کې د تصفیوي عملیاتو پیلېدل...

دغه راز په تلوېزیوني خبر کې تصویر ډېر مهم دى، یعنې د تلوېزیون په خبري سرویس کې بې تصویره خبر باید نه وي. که د پېښې وېډیو نه وي، کېداى شي له ارشیف نه ګټه واخیستل شي.

پرمختللي تلوېزیونونه داسې هم کوي، چې د کومې پېښې وېډیو تر لاسه نه کړاى شي، د پېښې په تړاو کارتون جوړوي، لکه د غزني کندهار په لویه لاره کې چې **۴۰ تنه** مساپروتښتول شول، طلوع تلوېزیون د پېښې کارتون جوړ کړ او په خبر کې ترې ګټه

Ketabton.com

واخيسته، دا کار خبر ډېر جالبه کوي او د راډيويي خبر سره يې توپيروي.

۲: راډيويي خبر: په دې ډول خبر کې له غږونو نه استفاده کېږي، د راډيو خبريالان هڅه کوي، چې د پېښې له غږونو په کټې اخيستنې خبر په زړه پورې کړي، مثلاً د جګړې خبر کې د ډزو غږونه، د اورلګېدنې په پېښه کې د اطفايې غږونه.

دغه راز په راډيويي او تلوېزيوني خبرونو کې هڅه کېږي، چې اوږدې جملې ونه کارول شي، ساده او مانوسو کلماتو نه استفاده وشي، په ساده او عام فهمه ژبه خبر وړاندې شي.

۳: چاپي خبر: په دې ډول خبر کې د ليک نښو مراعاتول، ګرامري قواعد په پام کې نيول او تفصيل يې ځانګړنه ده، ځکه د اخبار لوستونکي د فکر کولو او پوهېدو لپاره کافي وخت لري، خو په راډيو او تلوېزيون کې دا وخت محدود وي، د همدې لپاره په راډيو او تلوېزيون کې د خبرونو سرټکي يا لنډ خبرونه بيا بيا تکرارېږي.

انلاين خبر: په دې ډول خبرونو کې ذکر شوې سپارښتنې ټولې په نظر کې نيول کېږي، ځکه چې هم ليکل پکې وي، هم عکسونه او هم وېډيوګانو نه پکې ګټه اخيستل کېږي.

د انلاين او چاپي رسنيو په خبرونو کې طبق معمول سرليک بشپړه جمله وي، چې د خبر شيره يې هم بولي، تلوسه زېږوونه او اشتهاري بودن يې بل صفت دي.

رپوټ:

رپوټ انګليسي کلمه ده، ګزارش ته وايي، دا ژانر د خبر تفصيلي بڼې ته وايي.

په رپوټ کې نقل قولونه او د پېښې په تړاو د ټولو اړخونو نظرونه موجود وي، په رپوټ کې د خلکو د نظرونو برخه کټ مټ اخيستل کېږي. د لنډون په موخه له يادونې يې تېرېږم. ځکه د خبر په ژانر کې مې په ټولو ډولونو په تفصيل بحث کړی او بېلګې مې هم وړاندې کړي دي.

د اوږد خبر سره یې توپیر په دې کې دی، چې په رپوټ کې خبریال د خبر په نسبت خلاص لاس لري او کولای شي، د یو چا د نظر له څو برخو نه ګټه واخلي، خو په خبر کې دا چاره محدوده وي.

خبر کېدای شي، تر یوې یا یوې نیمې دقیقې پورې وخت واخلي، خو رپوټ تر څلورو دقیقو هم غزېدلی شي.

نور نو څه چې په خبر کې مراعاتېږي، په رپوټ کې هم مراعاتېږي، که په لنډ ډول ووایو، رپوټ د خبر نسبتاً پراخ او تفصیلي چوکاټ دی، چې په بېلابېلو غږونو سره مستنده بڼه غوره کوي. رپوټ له خبر نه اوږد او له پکېج نه لنډ وي.

د رپوټ بیلګه

د غه رپوټ فرض کړئ، د ټلویزیون یا هم د راډیو لپاره لیکل شوی دی:

سرلیک:

د جلال آبا د- تورخم دوهم لین سړک د کار بیا پیلېدل
......

د مادریتور لپاره سریزه:

د جلال آبا د- تورخم دوهم سړک جوړولو کار چې د تېرو شپږو کلونو راهیسې په ټپه ولاړو، نن بیا پیل شو.

دغه سړک د پاکستان په مالي مرسته دیوې پاکستانی پوځي کمپنی له لوري جوړېږي چې (۷۰۰) میلیونه کروړه پاکستانی کلداري لګښت پرې کېږي.

په دې اړه پام وکړئ، زموږ د همکار(...) رپوټ ته.

لیډ:

له شپږ کلن ځنډ او افغاني چارواکو مکررو غوښتنو وروسته د جلال آباد تورخم دوهم سړک د جوړولو چارې د فواید عامې د

وزير او پاکستاني سفير له لورې د پټۍ په پرېکولو سره پيل شوې.

متن:

د فوايد عامې وزير ... د پټۍ پرېکولو پر مهال رسنيوته وويل: دا يوازې د ننګرهار سړک نه، بلکې د ټول هېواد او منځنۍ آسيا لپاره يو ترانزيټي سړک دی، چې د جوړېدو چارې به يې د يوه کال په موده کې پای ته ورسېږي. (د وزير د خبرو کلپ)

د پاکستان سفير .... وويل، پاکستان هوډ لري، چې په افغانستان کې خپلې ټولې نيمګړې پروژې بشپړې کړي، چې دا يې پيل دی .(د سفير کلپ)

د جلال آبا د- تورخم موټر چلونکي د سړک جوړونې چارو په بيا پيلېدو خوښ دي، خو لا هم اندېښمن دي، چې کيدای شي د سياسي ملحوظاتو له امله يې چارې بيا ودريږي.

(ددوو تنو ډريورانو لنډ لنډ کلپونه)

د فوايد عامې چارواکي وايي، دغه سړک (۱۷۰) کيلومتره اوږدوالی (۸) متره سور او دواړو خواوو ته يې (۲) شولډر لري، چې د چارو په بشپړېدو سره به دې لاره کې به د مسافرو تګ راتګ او ترافيکي پېښو ستونزه هواره شي.

پای:

شي او که نه، وخت سړک په بشپړ ډول جوړخوداچې داخل به دا به ورته ځواب ووايي.

يادونه:

په ياد ولرئ، که په دې رپوټ کې تخنيکي جزيات نه وي څرګند شوي، هغه به په کلپونو کې روښانه شوي وي.

دې ته مو پام وي چې کلپ ټاکی، هغه برخه يې استعمال کړئ چې ستاسو په متن کې نه وي، که چيري ستاسې متن او کليپ يو

ډول وي، له يوي خوا د وخت ضايع ده، له بله پلوه تکراري خبرې ستاسو رپوټ بې خونده کوي.

دغه راز دې ته مو هم پام وي، چې ستاسو کليپونه له يوي دقيقې نه کم وي، کيداى شي (30)، (40) ثانيې کليپ وټاکئ، په استثنايي حالاتو کې تر يوې د قيقې هم کلپ ټاکلى شئ.

پکيج (Package) :

له راډيو وروسته کله چې ټلويزيون رامنځته شو، د راډيو مسولين او کارکونکي د تلويزون سره د يو ډول ننګونکي سيالۍ سره مخ شول، د تلويزيون مينه وال ډيرشول، راډيوګانو ورو ورو خپل مينه وال له لاسه ورکول . دې چارې پر ورځپاڼو هم خپل اغېز ښندلې و.

د راډيو مسوولين او چلوونکي پر داسې لارو چارو فکر ته اړ شول چې څنګه وکولاى شي، خپل مينه وال وساتي او په يو ډول داسې انځوريز رپوټونه وړاندې کړي، چې د سينما د پردې په شان اورېدونکي هرڅه ووينې، يعنې په الفاظو او کليماتو پېښې او مسايل ترسيم کړي، نو په دوو جلا ژورناليستيکو ژانرونو پکيج او فيچر ليکنې يې پيل وکړ، د ژورناليزم دا ژانرونه د راډيو مينه وال ډېر کړل، وروسته ټلوېزيونونه هم دغه ځيلونه خپل کړل او اوس د رسنيو په ټولو ډولونو کې دغه ځيلونه شته دي.

پکيچ انګليسي کليمه ده، بستې ته وايي، کله چې د يو شي اړوند توکي بشپړې شي، هغه سرغوچ شي، يا پيک شي، دغې بستې ته پکېج وايي.

په ژورناليستيکه اصطلاح کې پکېج د رپورت نسبتا پراخې اوږدې او تفصيلي بڼې ته وايي، چې د مختلفو نقل قولونو غږونو او لنډو مرکو په کارونې سره مسايل او پېښې رانغاړي او رپوټ ته انځوريزه بڼه ورکوي.

پکېج د رپوټ په پرتله نسبتا پر زړه پورې ژانر دى، چې د بيلابيلو بڼو او روشونو له کبله خپل مينه وال لري، د ښه

Ketabton.com

پکېچ په پيل سره اوريدونکي اړکېږي چې هغه ترپايه واوري ،وي ګوري اويا يې هم ولولي.

د پکېچ لپاره له درې نيمو تر (7) دقيقو وخت ټاکل شويدی،خو ځيني بيا دا وخت تر دې هم ډيروي.

ما په خپله پر کونړ د پاکستاني پوځيانو د توغندېزو بريدونو په اړه د آزادی راډيو لپاره يو پکېچ جوړ کړی وو ،چې(21) دقيقې وو،دا پکېچ زموږ د همکارانو دومره خوښ شوی و چې بيا بيا يې خپور کړ،په داسې حال کې چې درپوټونو د چمتو کولو پرمهال مونږ ته سپارښتنه کيدله چې له دوه نيمو تر درې نيمو دقيقو مو بايد رپوټونه اوږده نه وي.

د پکېچ په زړه پورې والې په دې کې دی ،چې خبريال اړ کېږي چې دپيښې سيمې ته لاړ شي،او خپل دسترګو ليدلی حال وړاندې کړي.

رپوټ دومره مستند شي چې اوريدونکي احساس وکړي چې په خپله هم په هماغه سيمه کې دي ،هر څه ويني او حس کوي يې.

په راډيوګانو او ورځپاڼو کې د پکيچونو او فيچرونو برکت دی چې تراوسه په رسنيز ډګر کې سيالی کوي او لاد سقوط سره مخ شوي نه دې.

پکيچ په راډيو کې د استعمال موارد ډير لري خو فيچر په ورځپاڼو او مجلو کې .تلويزوني خبريالان اوس هم له دې ژانر نه کله کله کار اخلي.

کله کله د پکېجونو پيل د موضوع په تړاو په پر زړه پورې غږونو کېږي  وروسته د همدې غږ پيژندنه وړاندې کېږي ،د موضوع په تړاو لومړني معلومات وړاندې کېږي ورپسې له ځينو نقل قولونو نه استفاده کېږي،په يوه برخه کې خبريال د خپلو سترګو ليدلی حال بيانوي په راډيواو ټلويزيون کې د هماغه مطلوب ځاي له پيژندنې وروسته د مرکې په ډول خبرې اترې ترسره کېږي او کټ مټ  په پکېچ کې ترې ګټه پورته کېږي،همداسې موضوع ته ادامه ورکول کېږي،پاي ته نژدې کېږي ،تجربه کاره خبريالان  پکېچ په يوې پر زړه پورې موسيقی ،يا

دموضوع اړوند کوم بل غږ چې انګليسي کې ورته افکت وايې دلالت وکړي يا داسي جملي پاي ته رسوي چې د موضوع پر بشپړتيا

بېلګه :

پيل: ( د مرغيو شور ماشور او غږونه(۳۰) ثانيو لپاره)

دا دمغو قيمتي مرغانو شر اوشور دی چې د خپلو ښايسته غږونو، ډول ډول رنګونو او ښايسته بڼو له امله هره ورځ د سلګونو خلکو پام ځانته اړوي .

په دې مرغانو کې داسي مرغان هم شته چې له لس زرو تر سل زرو افغانيو هم خرڅيږي.

زه همدا شيبه د جلال آباد ښار د وچ ډنډ مالکې کوڅې لوېديځه څنډه کې ولاړ يم ،د لته ګورم چې دمرغانو قفسونه کتار کتار ځوړند دي او بيلا بيل ډوله واړه مرغان د خرڅلاو لپاره په قفسونو کې اچول شويدي چې د غږونو شورماشور يې د هر لاروي پام ځانته اړوي.

همدا شيبه يوتن د مرغۍ خرڅونکي سره د کنري مرغۍ د خرڅلاو پر سر چنې وهي .

( داخيستونکي او پلورونکي د مکالمې (۳۰) ثانيې چي دمرغانو شور ماشورپکې هم ګډوي.)

کاکا نوم دې څه دی؟

محمد ګل.

څه کاروبار کوې؟

د مرغانو کاروبار کوم.

څه ډول مرغان درسره دي ؟

ډير ډولونه يې دي ، کنري،ګل سر،ساءيره.....

کوم ډول يې ډير اخيستونکي او مينه وال لري؟

Ketabton.com

ساءیره خلک ډیر اخلي.

ولې؟

ځکه چې خوږ غږ ،ښکلې بڼه او ښایسته بڼکې لري.

د ورځې څومره مرغان خرڅوی؟

لس ـ شل ـ

څومره پکې ګټې؟

پنځه ـ لس ، کله کله ان شل زره ، برابري ده نو.

مننه ـ

له تاهم مننه .

ګورم چې یو تن یوه جوړه مرغۍ اخیستې ،غواړم دی وپوښتم چې په دې مرغیو څه کوي؟

کاکا ستړی مه شې .

خیر یوسې.

څو مرغۍ دې واخیستې او جوړه دې په څو واخیستې ؟

شل زره.

ډیرې پیسې دې پرې بندې کړې، څه پرې کوې؟

والله شوق دی نو،کور کې یې ساتم،له غږونو یې خوند اخلم.

نور مرغان هم لرې که همدا دي؟

نه. لوی قفس مې پري ډک کړی دی،دورځې دزرو روپو یواځې دانې پرې خورم.

بیا څه ګټه هم درته کوي که دا ټول مصارف یواځې د خپل شوق لپاره کوې؟

Ketabton.com

نه دا بچي کوي،بچې يې بيا خرڅوم ګټه هم لري ،خو زه يې د ګټې لپاره يې نه ساتم ، دشوق لپاره يې ساتم .

مننه ـ

له تاسې هم مننه .

د جلال آباد په ښار کې يوائې د مالګې کوڅه نه ده چي دا ډول مرغان پکې پلورل کېږي،بلکې د غسې بازارونه د ښار په ختيځ او ځينې نورو برخو کې هم شتون لري.

دکرهڼې او مالدارۍ کار پوهان انديښنه لري چې په افغانستان کې د ښکار قانون نه تطبيقيږي.

دا کار دځينو مرغانو او وحشي حيواناتو د نسل دورکيدو ويره زياته کړيده.

( که پکېچ غزول غواړۍ د کارپوهانو نظر هم پکې واچوئ. او بيا اړوند ارګان وپوښتۍ چي ولې ،د خپل سرو ښکاريانو مخه نه نيول کېږي ،که نه همدلته په څو جملو پکېچ پاي ته نژدې کړۍ )

کارپوهان وايې ،که حکومت د خپلسرو ښکاريانو مخه ونه نيسي کيدای شي د ځينو مرغانو نسل ورک شي . ( د مرغانو په غږونو پکيچ پاي ته ورسوئ.)

**(Feature)فيچر :**

دادب او ژورناليزم هغه ګډ ژانر دی چي معمولاً په چاپي ژورناليزم کې ډير کارول کېږي،هماغسې چې دراډيو مسولين د ټلويزيون هغو سره سيالۍ لپاره پکېچ شه ژانر ګاڼه او راډيو يې ددې جوګه کړه چې په رسنيز ډګر کې سيالي وکړي،دغسې دورځپاڼو او مجلو چلوونکي هم دغسې ننګونو سره مخ وو،دوی هم غوښتل پر داسې ژانر کار وکړي چې تفريحي او ذوقي بڼه ولري او په دې ډول خپل لوستونکي زيات کړي.

ددې چارې د سرته رسولو لپاره دوی فيچر ليکنې ته مخه وکړه.

(Feature)

) کليمه د فيشن يا د(Featur په پخوانۍ فرانسوی ژبه کې د کوم شي د جوړښت په ماناکارول کېده .

فيچر په لغت کې د يوشې څرګندونښو نښانو ،ظاهري بڼې خد وخال ته ويل کېږي او د ژورناليزم په اصطلاح کې د پېښو او مسايلو ډراماتيک يا لفظي تصويري بڼې وړاندې کولو ته فيچر وايي . کلارنس ــ ري سکونفېلډ په خپل کتاب Effective Feature Writing کې ليکي:

(( فيچر يوه داسې منځنۍ ليکنه ده چې يو ه خوا يې وچ خبر وي اوبل لورته يې تصويري کيسه او يا خيالي مضمون ،دا په بنسټيزه توګه د حقيقي ريپورټنګ پايله ده،په دې کې د ليکنې خيالي او وضاحتي عنصر هم شاميليږي.))

ځينې ليکوال بيا فيچر او پکېج يوشان بولي،دوی فکر کوي چې دپکېج تفصيلي بڼې ته فيچر وايي.يواځې توپير يې په دې کې ګڼې چې پکېج په راډيو او تلويزيون کې ډير کارول کېږي او فيچر په ورځپاڼو او مجلو کې .

مشهور فيچر ليکوال رياض بټالوي وايي: (( فيچر زموږ د ژورناليزم داسې يو صنف دی چې پر مټ يې انساني مسايل، دردونه او سيمه ايزې چارې دولس او حکومت پروړاندې په اغيزمنه توګه وړاندې کېږي لږه تر لږه زه له خپل فيچر څخه د غه کار اخلم .))

فيچر بيلابيل ډولونه لري .هماغسې چې خبر او ريپوټ د موضوع له پلوه بيلا بيلو نومونولرونکي و،فيچر هم د همدغو ډولونو لرونکی دی ، خو په کلي ډول فيچر ليکونکي دا په دوو ډولونو ويشي :

١ . خبري فيچر

٢.غير خبري فيچر

کله چي يو رپوټ په ادبي او شاعرانه اندازه کې وړاندې شي او لفظي تصوير ولري خبري فيچر بلل کېږي خو که کله له توليدي موضوعاتو او د ژوند په بيلا بيلو اړخونو فيچر ليکل کېږي نو غير خبري فيچر بلل کېږي.

په غير خبري فيچر کي بيا دغه ډولونه هم پيژنو:

۱-ټولنيز فيچر:

په دې ډول فيچر کي هغه ټولنيزي ناخوالې، دودونه او مسايل ، په ادبي او فيچري انداز کې وړاندې کېږي چې د ټولنې د اصلاح لپاره پيغام ولري، لکه د طلاق مسايل، د بدو ورکول پر ښځو زور زياتی....

۲-شخصي يا سوانحي فيچر:

له نوم نه يې ځرګندېږي چې د يو چا پر ژوند او فن ليکل کېږي، کيداي شي د مهمو شخصيتونو ژوند پکې انځور کړای شي. د شخصيت مهموالی د موقف په لحاظ نه بلکې خلکو ته د دلچسپی په لحاظ ټاکل کېږي،کيدای شي د يوې سوالګرې مور د ژوند انځورول له يو وزير نه ډير په زړه پوري وي.

۳-تاريخي فيچر :

د ا ډول فيچرونه په تاريخي مسايلو ليکل کېږي يا هغو ودانيو چې تاريخي وي . دبيلګي په توګه که يوه تاريخي ودانی او يا يو تاريخي ځاي چا غصب کړی وي، د ا ډول فيچر پري ليکل کيداي شي.

انسان په فطري ډول د تاريخ سره مينه لر ي ، تاريخ د تيرې زمانې کيسه کوي، خلک علاقه لري په دې وپوهيږي چې له دوي نه وړاندې څه تېر شوي او څنګه تېر شوي دي. ځکه په کيسو او تاريخونو کې پند وي او د راتلونکي لپاره د تصميم نيولو په پروسه کې د يو چا مرستندويه واقع کيدلی شي.

روزنيز فيچر:

د ټولنې د وګړو دروزنې لپاره پيغام ورکول کېږي.

ساينسي فيچر:

په بيلا بيلو ساينسي مسايلو ليکل کېږي.

Ketabton.com

فيچر ليکنه په افغاني ټولنه کې ډېر دود نه ده،خو د پاکستان ورځپاڼې د فيچر لپاره جلا ځای لري.

په فيچر کې تلوسه،ادبي ذوق،نرمه ژبه ،انځور ګري هغه څه دي چې دا ژانر د ادبياتو سره ګډ وي.

په ډېرو پر تيراژه ورځپاڼو کې د فيچر داشتهار لپاره په لومړي مخ کې جذاب سرليکونه او زړه راښکونکي عکسونه خپريږي،لوستونکو ته نغوته کوي چې دا په زړه پورې فيچر په فلاني مخ کې لوستلی شي.

**Round table** (ګردی ميز)

ګردي ميزونه معمولا په راډيوګانو او تلويزونونو کې وي،هغه داسې چې ددلچسپۍ وړ موضوع داداري لخوا ټاکل کيږي ،له مختلفو جهتونو څخه مېلمانه او د نظر خاوندان ورته بلل کېږي، دګول يا ګرد مېز ترشاه کېنول کېږي ،پرموضوع بحث کېږي.د مېز چلونکی لومړی په يوه سريزه کې د موضوع په اړه رڼا اچوي وروسته په ترتيب د ميلمنو نظر پرې اخلې .

ګردی مېز د نيم ساعت نه تر يو ساعت پورې وي.د مېلمنو تعداد يکې ثابت نه دی،مسول مدير هڅه کوي چې د موضوع د ټولو خواو د رڼاوي لپاره په فکري ډول متزاد ميلمانه ورته را وغواړي چې د بحث د ټکر په نتيجه کې دمېز بحث ډېر خوندور کېږي. کيدای شي ۲ـ۳ـ۴ـ۵ تنه ميلمانه ورته دعوت شي ،خو له يو تن نه به زيات وي،که يوتن وي هغه بيا مرکه ده.
په ګردي مېز کې د ضرورت په اساس د مېلمنو تعينول او رابلل،ميز دلچسپه کوي،دفرمايشي خلکو غوښتل ستاسې مينه وال کموي.

په مېز کې ټکرد مېز مالګه ده،هرکله که تاسې کوم ګردی مېز پرمخ بيايې، هڅه وکړئ چې د مېلمنو ترمنځ فکري ټکر رامنځته کړئ.

پرموضوع حاکميت ،د هر ګډوانوال خبرواو حرکتونوته ځير کيدل د ګردي ميز د چلونکي له مهارتونو څخه دي.

Ketabton.com

د ګردي مېز ډولونه:

په مجموع کې درې ډوله ګردي مېزونه پېژنو:

۱.ثبتي عادي ګردي مېزونه:

چې يوه موضوع مخکې له مخکې د مېلمنو سره د بحث په نتيجه کې ثبتيږي ،ايډيټ کېږي ،بيا خپريږي.

۲.لايف ګردې ميزونه:

چې موضوع په مخامخ او ژوندی بڼه نشرېږي ،کله کله پکې له خلکو نه د تيليفون پر ليکه هم پوښتنې اخيستل کېږي ،دغسې ګردي ميزونه ډېر اغيزناک وي،ځکه چې تاسې ليدونکي او اوريدونکي هم په موضوع کې شريکوئ، له يوې خوا خپل مينه وال ساتئ ، له بل پلوه کيدای شي داسې پوښتنې مطرح شي چې تاسې يې په اړه فکر هم نه وي کړئ.

په دغسې ګردي ميزونو کې په ژوندۍ بڼه د سکايپ له لارې هم د موضوع په تړاو دکارپوهانو نظر اخيستل کېږي.

جرګه يې‌ز ګردي مېزو نه :

ځوتنه ميلمانه ،دنظر خاوندان ، شنونکي اود قضاياوو خواوې په ګردي مېز کې کينوئ،په تالار کې دبيلابيلو طبقو اړوندو خلکو ته وخت ورکوئ چې پوښتنې وکړي.

ددغسې ګردي ميزونو جالبيت په دې کې وي چې د چلوونکو له کليشه يې پوښتنو نه خلک ستړي کېږي دتالار د مېلمنو پوښتنې ميز ډير جالبه کوي.

د يادونې وړ دی ، په ګردي مېزونو کې چې څومره ګډونوال لږ وي ، په هماغه اندازه يې خلک په ځير سره ګوري اواوري ،خو که د فکري ټکر مېلمانه زيات هم وي،ب حث نه خسته کن کېږي.

د بيلګې په ډول کله چې تاسې غواړئ د ټاکنو په اړه ګردی مېز ولرئ، ښايې ګډونوال مو دغه کسان وي .

۱.دټاکنو کميسون استاځی

۲.دولسمشريزوټاکنو د يو ټيم استاځی

۳. دولسمشريزوټاکنو د بل ټيم استاځی

۴.مدني فعال

ددا ډول خلکو دعوتول په ګردي مېز کې حتما فکري ټکر رامنځته کوي،يو پر بل تورونه لګوي او په دې ډول مېز مو ډېر جالبه کېږي.

(مرکه ) Interview

په انګليسي ژبه کې ورته انټرويو وايي،په لغت کې ګډې ناستې ،خبرواترواو اکاړې ته وايي،په اصطلاح کې هغه ژورنالستيک ژانر دی،چې د هدف د ترلاسه کولو په موخه د هدف وړ تن سره د پوښتنو او ځوابونو په حالت کې ترسره کېږي.

مانا داچې ژورنالستيکه مرکه د يوه ټاکلي هدف په اړه معلومات ترلاسه کولو،سوال او ځواب ،ډيالوګ او تفاهم ته وايي.

کيدای شي چې دغه سوال او ځواب او تفاهم د يو کس او يا له ډيرو کسانو سره وي.

له عادي خبرواترو او سوال او ځواب سره يې توپير په دې کې دی ،چې په ژورنالستيکه مرکه کې هدف مشخص وي خو په ورځينو خبرواترو کې هدف مشخص نه وي،دا په دې مانا چې ژورنالستيکه مرکه هدفمنده او منظم سوال او ځواب وي چې د يوې مشخصې موضوع په اړه ترسره کېږي.

مرکه هم مختلف ډولونه لري دبيلګې په ډول : تلويزيوني مرکه،راډيوي مرکه،لايف مرکه ،ثبتي مرکه،ټېلفوني مرکه،د سکايپ له لارې مرکه،خبري مرکه ،سياسي مرکه ،اقتصادي مرکه ،روغتيايي مرکه،ځانګړې مرکه،معلوماتي مرکه......او داسې نور چې هر يوه يې خپلې ځانګړنې لري.

Ketabton.com

۱.تلويزوني مرکه:

هغې مرکې ته وايې چې د تلويزيون له لارې خپرېږي،په دغسې مرکو کې ځای،دغږ خونډېتوب ،شا څمکه په پام کې نيول ـــ نور،سيوری، لمر، ورېځ، بگرونډ، زمان او مکان په پام کې نيول اړين وي.

په دغسې مرکو کې د غږ کيفيت سره د تصوير کيفيت اومنظرې ته هم جدې پاملرنه کېږي،ذکر شوي موارد په خاصو حالاتوکې په پام کې نيول کېږي.

۲.راډيوي مرکه:

په دې ډول مرکو کې يوازې د غږ کيفيت په نظر کې نيول کېږي،په داسې ځای کې مرکه ترسره کېږي چې غږ خونديوي،د بيلگې په توگه که مونږ غواړو مرکه انځوريزه بڼه غوره کړي،لوکېشن يا موقعيت ته پاملرنه په کار ده،د بيلگې په ډول که مونږ د يو بزگر سره مرکه کوو،په داسې يوځاې کې يې بايد وکړو چې د قلبې دغوايانو او زنگونو شور او غږونه وي،اويا که د کوم شپونکي سره مرکه کوو د رمې او جرس غږونه وي ،زمونږ مرکه مستند او په زړه پورې کوي،که مونږ د بزگر او شپونکي سره د کوټې په کونج کې مرکه وکړو،وچه مرکه راځي چې خلک به يې ډېر خوښ نه کړي. يعنې په راډيوي مرکه کې بايد هڅه وشي چې مستند سازي وشي.

۳.اخباري مرکه:

په دغسې مرکه کې يوازې يادداشت اخيستل کافي دي،او يا که ثبتيږي د غږ کيفيت هم مهم نه وي،دغسې مرکې په تصويرونو مستند کيداي شي اوهم کله کله په الفاظو مرکې تصويروړاندې کول مرکه خوندوره کوي.

۴.لايف يا ژوندۍ مرکه:

دا ډول مرکې د معمول په څېر باتجربه ژورنالېستان پرمخ بيايي چې په موضوع حاکميت ولري ،دالفاظو او کليماتو ښه ذخيره ولري،اخلاقي جرءت ولري ،د تخنيکي وسايلوميک

،کمرې.... سره آشنایې ولري ،دستونزې د رامنځته کېدو پرمهال د مرکې کنترول اویا هم لیدونکو او اوریدونکو د بوختولو توانایې ولري. مبتدي ژورنالیستان باید له لایف مرکونه ډډه وکړي.

۵.ثبتي مرکه :

دغسې مرکې دمعمول په څېر مبتدي ژورنالستان هم کولای شي،مخکې له مخکې په یوې مشخصې موضوع تمرین کوی،پوښتنې یادداشت کوئ او د مرکې پرمهال له خبرو باید ضمنې پوښتنې هم وکړئ. دغسې مرکې طبق معمول په راډیو او تلویزیون کې وي او داخبار لپاره ټولې مرکې ثبتي بڼه لري.

۶.تیلیفوني مرکه:

داډول مرکه د اړتیا پرمهال ترسره کېږي،ژورنالستان باید تل هڅه وکړي چې د مرکه کوونکي ځاي ته لاړ شي او مرکه وکړي ځکه چاپیریال پر مرکې خپل اغیز لري ،خو د وخت د کموالي ،خبر د بشپړولو او یا ګردي مېزونود تنوع لپاره تیلیفوني مرکې ترسره کېږي ،یا هغه مهال دا ډول مرکه ترسره کېږي چې خبریال نه شي کولای چې د وخت د کموالي یا د وخت د نشتوالي اویا هم فاصلې دزیاتوالي له امله سیمې ته لاړشي ،په دې ډول مرکه کې د مرکې اخلاق باید مراعات شي،خبریال باید لومړی ځان مرکه کیدونکي ته وروپیژني،موضوع ورسره شریک کړي،خپله رسنۍ ورته معرفي کړي او دا ورته ووایي چې ستاسې غږ ثبتیږي،د مرکه کیدونکي له شخصي اجازې وروسته ترسره کېږي .

۷.دسکایپ له لارې مرکه:

ننی تکنالوژی فاصلې لنډې کړي ،وختونه یې سپمولي ،د انټرنیټ او کمپیوټر د سکرین له لارې خبرې اترې په داسې ډول ترسره کېږي چې خبریال او مرکه کیدونکي یوبل سره ویني،دمرکې ټول اړونه په پام کې نیول کېږي او دسکایپ له لارې مرکه هم ترسره کیدلی شي.

Ketabton.com

۸.خبري مرکه:

دا هغه ډول مرکه ده،چې خبريال د خبر دبشپړولو لپاره د يوې خبري منبع سره مرکه کوي او يواځې دهغه له خبرو نه استفاده کوي ،خبريال له خپلو پوښتنو نه تېرېږي ،دا ډول مرکه خبريالان يواځې د خبر د تکميلولو په موخه ترسره کوي،خوکله کله دېو خبري موضوع په اړه شوې مرکه په مستقل ډول هم خپرېدلی شي،دېته هم خبري مرکه وايې.

۹.معلوماتي مرکه:

دمرکې داډول هم د اکچو پلټنې په توګه کارېږي ،اوهم د بشپړې مرکې په بڼه هم خپرېدلی شي ،موخه يې د يوې ځانګړې موضوع په هکله معلومات اخيستل ،پلټل او وړاندې کول وي.

۱۰.ځانګړې مرکه :

دا ډول مرکه د مشخصو حالاتو او اړتياوو پر بنسټ ترسره کېږي ،يوه حاده موضوع پکې څېړل کېږي.

د ځانګړو خلکو سره د ځانګړو مسايلو د سپړنې ،شننې او معلوماتو په خاطر ترسره کېږي او په ځانګړې بڼه خپرېږي.

۱۱.سياسي مرکه:

دسياسي خلکو سره د سياسي مسايلو د څېړنې ،شننې او معلوماتو په خاطر ترسره کېږي.

۱۲.اقتصادي مرکه :

د اقتصادي مسايلو په باب د ټولنې د هرې طبقې په ځانګړي ډول داقتصاد دانانو ،دفابريکو خاوندانو او دزيربطو ادارو د مسولينو سره ترسره کېږي.

۱۲.روغتيايې مرکه:

د مختلفو ناروغيو په باب د ناروغانو ،ډاکټرانو او روغتيايې چاورله مسولينو سره ترسره کېږي.

Ketabton.com

۱۳.ورزشي مرکه:

د لوبو مختلفو ډولونو په اړه،د لوبو دبریاوو نـنګوونو،ستونزو او جریانونو په اړه د اړوندو لوبغاړو ،لوب ځارو او دلوبې مینه والواو مسولینو سره ترسره کېږي.

د موضوع له مخې د ژوند هر اړخ د مرکې یو ډول کیدلی شي ،د موضوع دلنډوون په خاطر به د مرکې په ډولونو کې پر همدې بسنه وکړو.

د مرکې پړاوونه:

هره مرکه درې پړاوه لري.

۱.له مرکې وړاندې پړاو

۲.د مرکې پړاو

۳.له مرکې وروسته پړاو

۱. د مرکې وړاندې پړاو:

په دې پړاو کې دغه ټکي باید په پام کې ونیسو.

I. موضوع وټاکو
II. د مرکې لپاره شخص مشخص کړو
III. د مرکې له کېدونکي سره اړیکه ټینګه کړو،دپوښتنو لست یادداشت کړو
IV. وخت ترې واخلو اوپه خپل هدف یې وپوهوو
V. خپل وسایل چک او چمتو کړو مثلا میک،بطری،دثبت ماشین ،کمره او داسې نور د ضرورت وړ شیان لکه لایت .... ورته برابر کړو .
I. مرکه کېدونکي سره لومړني ما لو ما تي خبرې او پيژندګلوي وکړو

۲.د مرکې پړاو

I. د مرکه کیدونکي خواته له ټاکلي وخت نه لس دقیقې وړاندې لاړ شو
II. دصمیمیت فضاء رامنځته او د پیژندګلوی پړاو ترسره کړو.

Ketabton.com

III. آسانې پوښتنې په سرکې او سختې پوښتنې په پای کې وکړو
IV. کوښښ وکړو چې دمرکې پرمهال مرکه کیدونکي ته مخامخ وګورو او په روانې ډول هم یو د بل له خبرو څه واخلواو ځان عیار کړو.
V. په پای کې د هغه پیغام واخلو او له هغه څخه مننه وکړو.
VI. دهغه تیلیفون شمیره ،ایمیل آدرس ،بزنس کارت،او دکارکولو د ځاي پته واخلو.
VII. که مرکه کیدونکی بهرنی وي دهمغه نوم د هغه پر قلم پرې ولیکو او سپل یې سم ولیکو. دا کار تاسو سره مرسته کوي چې دقیق اوصحیح او داړتیا پرمهال اضافي معلومات هم ترې ترلاسه کړئ.

۳.له مرکې وروسته پړاو

I. مرکه ایډیټ کړو ،که ټوخیدلي یو،یاکوم ځای کې غلط شوي یو هغه سم کړو.
II. دمرکې لپاره سریزه چمتو کړو په سریزه کې د مرکې اړتیا باید روښانه شي.
III. که اړتیا وي ځینې غږونه پکې واچوو او یا هم د مستند سازی لپاره اضافي شیان پکې زیات کړو.
IV. نشر ته یې اماده او مسولینوته یې وسپارو
V. له نشر نه یې ډاډ ترلاسه کړو ،بیایې واورو،وې ارزوو او په راتلونکي کې خپلې نیمګړتیاوې پکې پوره کړو.
VI. د مرکې پر ژانر کتابونه لیکل کیدلی شي خو د او لیکل شوي هم دي ،د نچوړ لپاره به همدومره بس وي.

د مرکې پرمهال دغه ټکي په پام کې ونیسئ:

I. که مرکه تلویزوني وي، داسې ځای ورته وټاکئ چې بګروند مو تیاره یا آسماني رنګه وي،داسې فیشني شیان مه استعمالوئ چې شور ولري لکه د مېرمنو لپاره پاولی اویاهم داسې لباس مه اغوندئ چې نور منعکس کړي.
II. که د میرمنو سره مرکه کوئ،سپارښتنه ورته وکړئ چې داسې زیورات وانه غوندي چې شورماشور جوړ کړي.که مرکه هنري وي،باک نه لري.
III. هڅه وکړئ چې د ثبت وسیله یو ځل چک کړئ،کله کله داسې هم پېښیږي چې خبریال مرکه خلاصه کړي ،هغه ثبت شوې نه وي ،دا ډول تېروتنه ستاسو مسلکي وقار ټیټوي.
IV. که مو له چا سره مرکه وکړه او هغه پیښیمانه شو ،وې ویل چې زه نه غواړم زما مرکه خپره شي ، تاسې حق نه لری

هغه مرکه خپره کړی ،کیدای شي د مرکې په خپرېدو دهغه ژوند د خطر سره مخ شي.

راپورتاژ:

دا ژورنالیستیک ژانر له رپوټ نه لوی او د پراخ چوکاټ دپېښو اومسایلو په باب تفصیلي معلومات په ځان لرونکی دیچې کې رانغاړي .په دوه ډوله دی.

1. ادبي راپورتاژ
2. ژورنالیستیک راپورتاژ

ادبي راپورتاژ:

دغه ډول راپورتاژونه له ادبي غونډو ،ادبي او علمي سیمنارونو ،مشاعرو ،ادبي خوځښتونو ،ادبي بهیرونو او نورو ادبي برنامو په اړه جوړېږي.

دعادي ر پوټ سره یې توپیر په دې کې دی چې په دې کې تفصیل تاریخوار خپرېږي او دپیښې یا موضوع ډېر جزیات وړاندې کوي،پېښه په ادبي کلیماتو او څه ناڅه انځوریزه بڼه اوادبي ژبه وړاندې کېږي.

ژورنالیستیک راپورتاژ:

له عادي غونډو ،کنفرانسونو ،مجالسو ،د ځینو ادارو،مرکزونو،سیمواو موضوعاتو د پیژندنې په موخه جوړېږي.

راپورتاژونه په تلویزیون کې ډېر ، په راډیو کې لږ او په ورځپاڼو کې په نشت شمار استمالیږي.

دژورنالیستیکو راپورتاژونو ژبه ساده ،روانه او عام فهمه وي.

په تلویزیون کې راپورتاژ:

فرض کړئ خبریال له ننګرهار پوهنتون نه راپورتاژ جوړوي ،که داراپورتاژ د پوهنتون دپېژندنې وي ، باید د پوهنتون لنډه

Ketabton.com

تاريخچه،پرمختګونه ،ننګونې او حل لارې پکې په ګوته شي او دا د پوهنتون د مسولينو ،استادانو او محصلينو سره د خبرو او مرکو په استناد وي .

راپورتاژ کې دسوژې په اړه کافي معلومات وړاند کېږي.

دراپورتاژ وخت د موضوع مهموالې پورې اړه لري ،له شلو دقيقو نه تر څلويښتو دقيقو پورې غځيدلی شي.خو په راډيو کې دغه وخت له ۱۵ـــ ۲۰ دقيقو زيات نه وي ،ځکه چې په راډيو کې يوازې غږونه وي،انځورونه نه وي،لږ څه خسته کن تماميږي خوتجربه کاره خبريالان د موضوع په اړه له ځينو سندرو ، تصويري کليمو ،د مرغانو خوندورو اوازونو،بوږنونکو او ځورونکو غږونو،شپيلی او د موضوع په تړاو له داسې نورو غږونو څخه کار اخلي،چې راپورتاژ ته رنګيني بخښي،په راډيو کې بايد هغه وشي چې دوړاندې کولو بڼه يې انځوريزه وي،ځکه که اوريدونکي له ځانه سره سيمې ته بونه ځي راپور تاژ به تر پايه څوک وانه وري،دغه راز د ورځپاڼو او مجلو لپاره تصويرونه هم ضروري دي،ځکه په تصويرونو سره مستند سازي کېږي او دلوستونکو توجه جلبوي.

راپورتاژونه د موضوع او محتوا له پلوه په بيلا بيلو نومونو يادولی شو.

که مونږ د يوي لوبې په اړه راپورتاژ جوړوو، کېداى شي ووايو ورزشي راپورتاژ ،که دکومې اقتصادي پروژې په اړه يې جوړوو کيداى شي اقتصادي يې ونومو،همدارنګه ساينسي،روغتيايي او داسې نور نومونه هم يادولی شو.

يعني راپورتاژ دېوې پېښې ،مسلې او ځاى په باب مفصل معلومات وړاندې کول دى.

تلويزوني او رادېوي سفرونه

دسفر کيسه هر چاته په زړه پورې وي،ځکه د ژوند تېره برخه په خپله کيسه ده او کيسه له خوږو- ترخو ډکه وي.

انساني فطرت له آدمه تر دې دمه ،خپله مينه له کيسو سره ساتلې ده خو دا لنډه کيسه ،داستان ،ناول،او رومان نه دى،نه دهغو چوکاټونو تابع دي، چې په ذکر شو و ادبي ژانرونو کې په پام کې نيول کېږي.

تلويزوني اوراډيوي سفرونه او اخباري سفرنامې يا يونليکونه دا دبياتو او ژورناليزم ګډ ژانر دى.

که څه هم په نورو خبري ژورناليستيکي ژانرونو کې ټينګار د ژبې پر ساده والى کېږي،خو په دې ژانرونو کې ادبي ژبه هم کارېدلى شي.

داژانر راپورتاژ ته ورته دى،توپير يې په دې کې دى چې په دې ژانر کې خبريال د سفر له پيله دلارې په اوږدوکې د ستونزو او ،ننګونو ،يا تحولاتو په هکله هم ليدونکواو اوريدونکو ته معلومات ورکوي،کله چې ټاکلې موخې ته ورسېږي ،دهغه ځاى په اقتصادي ،امنيتي ،کلتوري ،ټولنيزوچارو ،حکومتوالى،د خلکو ژوند پر څرنګوالي او هر هغه څه چې خلکو ته په زړه پورې وي، رڼا اچوي او خلکوته د مرکو پر بنسټ مالومات وړاندې کوي ،نرى موزيک اوږد سفر لنډوي او د موضوع په تراو له نورو غړونو نه هم ګټه اخيستل کېږي.

د تلويزوني او راډيوي سفر په پيل کې خبريال انونس ورکوي او خپل مينه وال له ځانه سره د تلويزون د پردې او يا هم راډيو د څپوله لارې ملګري کوي او ګام پر ګام معلومات وړاندې کوي.

تجربه کاره خبريالان چې کله له راډيوي او تلويزيوني سفرنه راستانه شي ،د سفر د مهمو معلوماتو په هکله ليکنه کوي او بيا وروسته هغه ليکنه په سټوډيو کې ثبتوي او د ايډيټ له لارې د تلويزوني او راډيوي سفر د تصويرونو او مرکو سره يوځاي کوي ،دسيمې دودونه اوسيمه ايزه موسيقي دغسې سفرونه ډير ښکلي کوي،طلوع تلويزون د (هې ميدان طې ميدان ) په نوم دا لړى پيل کړې وه چې ډير زيات ليدونکي او مينه وال يې لاره ،زه هم د دې خپروني مينه وال وم،د خپروني د چلوونکي مهارت په دې کې وو،چې ددلچسپى ځايونه يې په ښه ډول پيژندلى شو او د هماغو ځايونو په اړه يې معلومات

وړاندې کول،ددودونو ترڅنګ د تاريخي سيمو پيژندل هم دا ژانر ډير جالبه کوي.

ددغسې سفرونو د خپرېدو وخت هم د راپورتاژ په اندازه وي ،خو سفرونه ډير اوږد او د ډيرو برخو لرونکي وي چې په تلويزون او راډيو کې ورته ځانګړی وخت او ځای ورته ټاکل کېږي اوپه منظم ډول خپريږي ،په ياد ولری چې په راډيو او ټلويزون کې وخت او ځاي ډير مهم وي،که په دې اړه مسولين له پاملرنې کاروانخلي نو خپل مينه وال له لاسه ورکوي .

نن سبا دمطبوعاتو په دې آزاده سيالی کې سيالي کول مسلک، ژوره پوهه ، مطالعه او له بازارنه اګاهي غواړي له دې پرته دسيالی په ډګر کې وروسته پاتې کېږي لکه اوسمهال چې په سلګونو راډيوي او تلويزوني چينلونو کې يوازې د ګوتو په شمار يې سيالي کوي او پاتې نور يې هسې شپې سبا کوي.

د تلويزوني اوراډيوي سفرونو ژورنالستان بايد دغو ټکو ته پاملرنه وکړي :

1. دسفر لپاره کافي امکانات وسايط او لوازم درلودل
2. دتخنيکي وسايلو لکه کمرې،ټايپ،ميک لپاره اضافي بطرۍ، چارجر، انټرنيټي وسايل ،کمپيوټر...نور.
3. دسفر لپاره پلان او نقشه
4. د هدف وړ خلک په نښه کول او له هغو څخه د همکارۍ غوښتنه
5. دسيمې او لارې په اړه کافي معلوماتو ترلاسه کول چې په لاره کې د کوم خطر سره مخ نه شي .
6. دانتقال وسيلې له خونديتوب نه ځان ډاډه کول.
7. د يخې او ګرمې هوا په وړاندې د تودولو او سړولو وسيلې درلودل.
8. د آدارې سره پرله پسې اړيکې.
9. دسيمې خلکو دباورونو ،عقايدو او دودونو په اړه د معلوماتو ترلاسه کول.
10. دسيمې د چارواکو په جريان کې اچول او دهغوي د همکارۍ غوښتنه.
11. د سفر لپاره هغه ځايونه ټاکل چې په اړه يې خلکوته مالومات په زړه پورې وي.

یونلیکونه او سفرنامې

که څه هم دایو ادبي ژانردی ،خو اوس په چاپي مطبوعاتو کې ترې ډیر کار اخیستل کېږي،دایونلیکونه د تلویزوني او راډیوي هغوسره ډیر توپیر لري.

په دې ژانر کې لیکوال خپل مشاهدات او خاطرې لیکې او په برخو برخو یې ویشي،لیکنه انځوریزه بڼه لري،دسفرنامو لیکوال د عادي خبریال په پرتله ډیر حساس وي،معمولا هغو مسایلو ته پکې نغوته کېږي  چې د نورو خلکو له سترګو پناه وي ،لیکوال هڅه کوي د هرې برخې د لوستلو لپاره جلا جلا تلوسې وزیږوي.

که څه هم یونلیکونه په کتابي بڼه چاپیږي خو په زړه پورې یونلیکونه په اخبارونو او مجلو کې په برخو برخو چاپیږي ا و خپل مینه وال لري.

د یونلیک یو کمال به داوي چې لوستونکي  هم له ځانه سره په دې سفر کې ملګري کړي ،هماغه څه، چې دی ګوري په لوستونکو یې هم وګوري.

تکراري خبرې او جملې یونلیک بې خونده کوي د لندون په موخه په همدومره مالوماتو بسنه کوم.

سرمقاله

په پښتو کې ورته سرلیکنه وایې،دا هغه ډول لیکنه ده چې درسنۍ پالیسي او د موضوعاتو په اړه د آدارې دریځ او نظر څرګندوي سرمقاله بې طرفه نه وي ،داژانر په چاپي رسنیو کې ډیره کارول کېږي.

په افغانستان کې هره چاپي خپر ونه په هره  ګڼه کې سرمقاله لري ،په ځینو راډیو ګانو او ټلویزونو کي هم سرمقاله  وي لکه : امریکا غږ .

سرمقاله پیل منځ او پاي لري،داد لیکوال ذوق او استعداد پورې اړه لري چې د سرمقالې پیل څنګه کوي چې کشش او تلوسه

پیدا کړي څنګه یې وغزوي چې لوستونکي ورسره مل پاتې شي .
څنګه یې پای ته ورسوي چې د لوستونکي قناعت پرې حاصل شي.

په هره عادي موضوع سرمقاله نه لیکل کېږي،اکثرا په غیرګوني حالت کې لیکل کېږي اویاهم دډېرو مهمو قضیاوو په هکله پرې بحث کېږي،دولتي چاپي رسنۍ د معمول سره سم د قضیاوو په مقابل کې دولتي دریځ وړاندې کوي یا دولتي پالیسي په نظر کې نیسي،دبېلګې په ډول دننګرهار ورځپاڼې ۱۳۹۴ کال په (۲۵) مه ګڼه سرمقاله دلته رانقلوو:

مبارکه میاشت او دجګړې دوام

ــــ متن ــــ

او ملي حکومت به هم د تېل شوي جنګ ځواب په جنګ ووایې خو دسولې دروازې به هم خلاصې پرېږدي اوپه سترو بریاوو به له پیاوړي دریځ نه سوله کوي ،نه له کمزوري دریځ نه .

یادونه:

سرمقاله د چاپي او نورو رسنیو د مدیرانو یا کوم تجربه لرونکي لیکوال لخوا لیکل کېږي چې داړوندې اداري پالیسي ساز هم وي ،عام خبریالان یې نه لیکي.

(تبصره) Comment

دا هغه ژورنالیستیک او ادبي ګډ ژانر دی چې په چاپي، انځوریزو او غږیزو رسنیو کې کارول کېږي ،په چاپي رسنیو کې په لیکلي بڼه ډېره زیاته ،په غږیزو رسنیو کې د غږ په بڼه او په تصویري رسنیو کې پر یوه موضوع د بحث په بڼه تبصره کېږي او وړاندې کېږي.

تبصره یوه عربي کلیمه ده د بصر او بصیرت نه اخیستل شوې، د بیناکولو روښانه کولو او دپوهې په مانا ده.

تبصره هغه لنډه لیکنه ده ،چې پیل ،منځ او پای لري.

تبصره لیکوال د پراخې مطالعې او موضوعاتو په اړه کافي پوهې لرونکي وي.

د سرمقالې سره یې توپیر په دې کې دی چې په هره موضوع تبصره لیکل کېدلی شي ،مشخص دریځ نه څرګندوي بلکې درپوټ شویو پېښو او مسایلو د ښه روښانه کولو لپاره د نظر څرګندونه کېږي.

درپوټ سره یې توپیر په دې کې دی چې په رپوټ کې معلومات اوحقایق له نظر پرته وړاندې کېږي، یعني څه چې پېښ شوي وي خبریال هماغه حقایق وړاندې کوي ،خو په تبصره کې دپېښواو مسایلود لا روښانه کولو لپاره خپل نظر هم څرګندوي .

په تبصره کې د بې طرفۍ اصل په پام کې نیول اړین دی .
تبصره لیکوال په چاپي رسنیو کې د تبصرې پیل په داسې کلیماتو سره کوي چې دموضوع تشې خواوې بیان کړي او بیایې د رڼا وي اوپوهاوي پر ارزښت رڼا واچوي وروسته د موضوع هره برخه روښان کړي،ژوره کتنه پرې وکړي ،او نتیجه یې هم وړاندې کړي.

د تبصرې لیکوال له دغو ښېګڼو باید برخمن وي :

1. خاصه علاقمندي
2. فطري استعداد ډیر مهم دی،هر څوک د تبصرې ځواک او استعداد نه لري ،طبعي علاقه او استعداد ورته مهم دی.
3. پر ژبې او وینا برلاسي:
4. فصاحت او بلاغت د تبصره لیکوال لپاره ډیر مهم دي،که دغه فنون یې زده نه وي په شواړه ژبه څوک ورسره نه قانع کېږي ،نو باید پر ژبې برلاسی ولري .
5. پراخه مطالعه او د قضایاوو په اړه پوهه:
هغه څه چې پیښ شوي او یا پیښیږي ،که تبصره لیکوال یې په اړه کافي معلومات ونه لري،نشي کولای نظر پرې څرګند کړي اویایې هم نا څرګندې خواوې روښانه کړي اویا پرې کره کتنه وکړي.



Ketabton.com

6. بې طرفي :
که تبصره ليکوال بې طرفه نه وي، اويا دقضاياو په باب دده قضاوت مغرضانه وي ،دده پر تبصرې خلک باور نه کوي،د بې طرفۍ اصل ساتل د تبصره ليکوال لپاره يو اړين اصل دی.
7. له قوانينونه خبرتيا:
له قوانينو ناخبري پخپله جرم دی،خو دتبصره ليکوال لپاره په قوانينو پوهېدل ډير اړين دي،ځکه مدني قوانين، الهي قوانيېن او بشري قوانين ټول دانسانانو د نيکمرغۍ او حقونو څخه ددفاع په موخه جوړشوي او ټول يې په عملي کولواو منلو مکلفيت لري .
8. د قانون په رڼا کې پريوه چاره نيوکه کول استدلال قوي کوي او هم تبصره ليکوال که له قوانينو ناخبره وي ،کيدای شي په خپلو تبصرو ځان د ستونزو او خپله اداره له مشکلاتو سره مخ کړي.
9. توازن ساتل:
تبصره ليکوال ته ښايي په خپلو تبصرو کې له اعتدال نه کار واخلي اوتوازن مراعات کړي ،که دچا قول اخلي او پرې تبصره کوي بايد بيطرفانه يې وکړي او ډيرپه دقت سره ټولو خواوته په يو نظر وګوري.
10. اسلامي او ټولنيز ارزښتونو په پام کې نيول:
که تبصره ليکوال د خپلې ټولنې اخلاقي ،ټولنيز او اسلامي ارزښتونه په پام کې ونه ساتي ،دټولنې دکرکې سره مخ کېږي دی بايد د خلکو باورونواو عقايدو ته درناوی ولري.

**Colum (کالم)**

کالم انګليسي کليمه ده،او په دري ژبه کې د ستون په مانا ده . په پښتو کې يې کتار بولي ځينې يې د پاڼې يوه برخه ګڼي په انګريزۍ کې هم دالغت د فوځ سره اړيکه پيداکوي ، د فوځ منظم ودريدويا تللو ته هم کالم وايي.

په ژورناليستيکه اصطلاح کې هغه ژانر ته وايي ،چې په چاپي ژورناليزم، په ځانګړي ډول ورځپاڼو کې د يو عمومي هميشني سرليک لاندې ،په هره ګڼه کې بيلا بيل تازه موضوعات پکې رانغاړل کېږي او دليکوال له نوم سره يو ځاي خپريږي ،دکالم چوکاټ د محتواله پلوه ډير ارت دی ،له طنزه نيولې ترسياست، اخلاق،ټولنيز مسايل ،روغتيا او هر ډول موضوعات پکې وړاندې کيدلی شي،دژورناليزم ځيني پوهان کالم مضمون او



Ketabton.com

فيچرګڼي خو ځيني وايي ، دکالم مضمون او فيچر ترمنځ توپيرشته.

) ليکوال وايې،کالم فيچردی.(Exploring journalism)د

( (Essay) ګڼم ،کالم هم د (Essay)ابن انشا وايې: زه کالم مضمون په څېرډېر پراخ شی دی .

خو کالم د مضمون او فيچرسره ځيني توپيرونه هم لري مثلا کالم سل زرو کليمو پورې جواز شته چې وليکل شي خو مضمون حد نه لري کيداي شي اوږد شي .

کالم دليکوال دنوم سره يوځاي چاپېږي ،خو په مضمون کې کيداي شي ليکوال د هويت پرته او هم په مستعار نوم هغه چاپ کړي.

کالم په مشخص وخت،مشخص ځاى او مشخص شخص لخوا په هره ګڼه کې چاپيږي خو په مضمون او فيچرکې دغه اصل په پام کې نه نيول کېږي.

مضمون د صفحې په هره برخه کې چې ورته اړتيا وي ،چاپيدلی شي.

کالم ليکنه منظم وي،مانا داچې خاص لوستونکي لري،او په هره ګڼه کې يې غواړي .

مضمون کله کله ،دهر چا لخوا ليکل کيدلی شي.

دېته ورته نور توپيرونه هم شته خو د لنډون په موخه به همدومره بس وي.

په کالم ليکنه کې دوه لارې تعقيبيږي .

۱.ژورناليستيکه لاره:

چې مضمون خبري موضوعات په ساده ،روانه او عام فهمه ژبه رانغاړي.

۲.ادبي لاره:

چې ادبـي ژبـه ،كنـايـي او استعـارې پـه كې كـارول كېږي.دغه ډول
تـه يـې د ژورنـالـيستيک ادب كـليمـه هم كـارول شوې مـا نـا داچې
كـالـم ژورنـالـيستيک او هم ادبـي ژانـرګـڼلی شو.

ولـې پـه ورځپـاڼـو كې كـالـم لـيكنـه دود ده؟

كـالـم دبيلابيـلو موخو د تعقيبولـو لـپاره لـيكل كېږي ،او
دورځپـاڼـواداري ورتـه پـه ډيـر ارزښت قـايـل دي،كـر چې پـه
افغـانـستـان كې كـالـم لـيكنـه ډيـره دود نـه ده خو پـه پـاكستـان او
غرب كې كـالـم لـيكنـه لـكه د خبرونـو پـه څېر مهم دي او مينـه
وال لـري.

كـالـم دلانـدې موخو لـپاره لـيكل كېږي:

- دلـوستونكو دبوختيـاوو لـپاره
- د لـوستونكوسره دملګرتيـا پـه خاطر،مـانـا داچې پـه كـالـم كې داسي دلـچسپـه موضوعات وړانـدې كېږي، چې لـوستونكي دورځپـاڼـې تـل لـوستنې تـه اړ بـاسي.
- داخلاقـي ارزښتونـو ددودونـې پـه موخه
- دعـامه فكرونـو د روزنـې پـه موخه
- دورځپـاڼـې ،تـيـراژ زيـاتولـو پـه موخه،يعني چې لـوستونكي يـې زيـاتـيږي ،تـيـراژ يـې هم لـوړيږي.

Ketabton.com

دخبريـال د ستركو لـيدلی حال

پـه نوي ژورنـالـيزم كې پـه داسې ژانـر هم كـار شوی چې د خبر لـه
( دا ژانـر كلـه كلـه B.B.C پـولـو اوري،ځينې راډيـوګـانې لـكه (
كـاروي .

دخبريـال دستركو لـيدلی حال دبـوي پـه زړه پوري او بـوږنـوونـكې
پـېښې كيسه كوي،داكيسه پـه داسې انـداز كې كېږي چې نـه خبر وي
نـه مركه ،نـه رپـوټ،نـه پـكيج،نـه فـيـچر،بـلـكې د پـېښې لـه پـېښېدو
وروستـه خبريـال د خپلو ستركو لـيدلی حال بـيـانـوي ،چې
اوريدونـكو لـپاره پـه زړه پوري وي لـكه د عدلـيـې پـروزارت چې
) خبريـال همـاغه مهال پـه هغه B.B.Cځان مرګی بـريـد شوی وو، د(
لـه خبر او رپـوټ وروستـه ،خبريـال خپل د ستركو ودانـی كې وو

لیدلی حال لیکلی و ،پیښه یې داسې انځور کړې وه چې کله برید کر ودانۍ ته ننوتل ،هر چا مرګ څنګه په خپلو سترګو لیده،دا مهال د مامورینو څه حال او احساس وو،دوی څنګه وکولای شول چې له ودانۍ ووځي، دا کیسه د یو اورېدونکي په توګه زما دومره خوښه شوه، چې زړه مې غوښت بیا بیا یې واورم ،ما فکر کاوه چې هرڅه زه پخپلو سترګو ګورم . د خلکو احساسات ګورم،دمرګ ویره محسوسوم.

خو خبریال دهر څه په باب د سترګو لیدلی حال نه بیانوي بلکې داسې پېښې چې په اورېدونکو کې داورېدو تلوسه زیږوي د ) د راډیو د خبریال دسترګو لیدلي حال بله کیسه ، د B.B.C ( برما دمسلمانو ـــ روهنګیانو وه، په دې وروستیو کې په ټولیزو رسنیو کې ډیر بوګنونکي تصویرونه خپریدل چې د ټولو مسلمانانو احساسات یې پارول،په دې برخه کې له مبالغې ) خبریال چې برما ته تللی B.B.Cنه ډیر کار اخیستل کیده،د ( و ، کیسه کوله چې روهنګیان په برماکې څه ډول ژوند لري،دوی د څومره ستونزو سره مخ دي،او کله چې د کشتیو په واسطه له برما څخه نورو هېوادونوته دوی تبعیدېږي، په سمندرکې د څه ډول ستونزو او ان دمرګ سره مخ کېږي،دا یوه کیسه وه ،خو ژورنالیستیکه کیسه.

که څه هم کیسه پخپله ادبي ژانر دی،خو په ادبي کیسه کې خیال ،مبالغه،منظر کشي اود دمبالغې احتمال موجودوي مګر په ژورنالیستیکه کیسه کې ددروغ او مبالغې امکان نشته،خبریال هغه څه وایي چې رښتیا پرې تېر شوي وي لکه یو څوک چې د خپل تیر ژوند خاطره چاته بیانوي،ادبي کیسې تر ډیره خیالي بڼه لري خو ژورنالیستیکه کیسه واقعي.

مطبوعاتي کنفرانس :

په پښتو کې ورته مطبوعاتي یا خبري ناسته وایي،هغه ادبي ژانر دی چې د چارواکو،دادارو دمسولینو، د ادارو د ویاندویانو یا دمدني ټولنو دمسولینو ،غړو،وکیلانو او هر مسول شخص لخوا پکې خپل فعالیتونه یا داړوندې پېښې په اړه خبریالانو ته په یووار معلومات ورکول کېږي،خبریالان د پېښې

يا اړوندې موضوع په هکله د پوښتنو په واسطه معلومات بشپړوي او بيا يې دخبر او رپوټ په بڼه خپروي.

داچې مطبوعاتي کنفرانسونه څومره ډولونه لري ،څنګه جوړېږي ،کوم فعاليتونه ورته ترسره کېږي،دا په خبريالانو پورې اړه نه لري ځکه دلته پرې بحث نه کوم،دعامه اړيکو په بحث کې چې هغه دچارواکو او مسولينو لپاره مطبوعاتي لارښود کتاب دی،انشاء الله ډېر ژر به پرې وغږېږو دلته غواړم په هغو ادابو او نزاکتونو رڼا واچوم چې د مطبوعاتي کنفرارنس پر مهال خبريالانوته اړين دي:

- تاسوته دمسولو ادارو لخوا دخبري ناستې لپاره ، د مسيج ،تيليفون يا ايميل له لارې خبر ورکول کېږي،هڅه وکړی له ټاکلي وخته، لس دقيقې دمخه خبرې ناستې ته ورسيږئ.
- کله چې خبري ناستې ته ورځئ،کيدای شي په لاره کې د امنيتي مسولينو او پوليسو لخوا وپلټل شئ ،په پلټنې خوا مه بدوئ،ځکه دا دهغوي مسوليت او وظيفه ده.

خبريالان کله کله په دې غره وي چې زه خو مشهور سړی يم،دېوې معتبرې رسنۍ سره کار کوم،زه ولې وپلټل شم،همدا علت دی چې دعسکرو سره بې ځايه بحث کوي اوبيا دتحدېد سره مخ کېږي،او هم دعسکرو لخوا ورسره بد چلند کېږي،چې وروسته خبره بيا په جرګو او مرکو خلاصه شي،د پلټنې پرمهال له ځانه شکېبايي ښودل،حوصله کول،ستاسو دلوړو ژورناليستيکي اخلاقو استازيتوب کوي ، له جنجالونو مو ساتي،او پر وخت خپلو چاروته رسيدګي کولی شئ.

خپل تخنيکي او دثبت وسايل چک او اماده کړئ،ميک او لوګو مو ولګوئ،د کنفرانس پرمهال د ميک او لوګو لګول کنفرانس اخلالوي او تاسې تمبل او بې مسوليته معرفي کوي. يو وخت مطبوعاتي کنفرانس وو،د خبرو په منځ کې يو خبريال نوی راغی،غوښتل يې چې خپل ميک پر ميز کيږدي ،وارخطا شو ،دخپل ميک سره يې ټول ميکونه لاندې خطا کړل او دخلکو دخندا شو،دغه راز په غونډو کې هم خبريالان بايددغه نزاکت مراعات کړي.

Ketabton.com

- دکنفرانس پرمهال د موضوع په تړاو پوښتنې له ځان سره نوټ کړئ.
- دثبت دکمه ووهئ، کله چې ثبت پیل شو په خپل ځای کې ارام کینئ.
- دخبرو پرمهال که کومه خبره درته واضحه او څرګنده نه شوه،هغه یادداشت کړئ.
- د خبرو مهم پاینټونه په کتابچه کې له ځان سره یادداشت کړئ.دا کار دخبریال سره دکلیپ ( غږ ) په انتخاب او متن لیکلو کې د سره مرسته کوي.
- کله چې دپوښتنو وخت شو،که پوښتنه درسره وي ،لاس جګ کړئ،اجازه واخلئ او خپله پوښتنه په لنډه توګه مطرح کړئ. کله کله له خبریالانو پوښتنې دومره اوږده شي چې کنفرانس ورکونکی پرې پوه نه شي ،هغه بیا ترې وپوښتي. هڅه وکړئ چې پوښتنه لنډه وکړئ،او له تکراري پوښتنو ډډه وکړئ.
- په مطبوعاتي کنفرانس کې زیا ت شمېر خبریالان موجود وي ،چې ټولوته د پوښتنې نوبت نه رسېږي،ځیني خبریالان ددې لپاره تکراري پوښتنې کوي چې ځان ښودنه وکړي ،دا کار ستاسې ژورنالیستیکې اخلاق تر پوښتنې راولي،که دبل خبریال او یا نورو خبریالانوپه پوښتنو کې مو پوښتنه حل شوه، لطفا له تکراري پوښتنو ډډه وکړئ، خو که مو پوښتنه نه وه ځواب شوې ،هڅه وکړئ چې د پوښتنې ځواب ومومئ.
ځیني خبریالان داسې پوښتنې هم کوي چې په رپوټ کې ترې استفاده نه کېږي،بې ځایه پوښتنې کول هم وخت ضایع کوي او هم دنورو خبریالانو د پوښتنو مخه نیسي.

له کنفرانس نه وروسته:

1. دکنفرانس ورکوونکي بشپړه پیژندنه او د موضوع په باب که لیکلي مواد لکه بروشرې یا نورې معلوماتي پاڼې ،انځورونه او C.D ګانې موجودې وي،هغه ترلاسه کړئ،دغه راز د کنفرانس ورکونکي د تیلیفون شمیره ،ایمیل ادرس او فیسبوک هم واخلئ،خپله شمیره او پته هم ورکړئ،او ددوستۍ یوه عادي اړیکه جوړه کړئ چې د خبریالۍ په راتلونکې چارو کې له تاسو سره همکار پاتې شي.
2. کله چې خپل دفتر ته لاړئ ،مواد مو ایډیټ او دنشر لپاره یې آماده کړئ.د رپوټ د لیکلو پر مهال د رپوټ او خبر لیکلو اصول مراعات او قانون پرې تطبیق کړئ،خبر ترې جوړ کړئ نه تشریفاتي متن.

# پـنځم څپرکی

ژورنـالـیستیکي ویـیونـه:

مبـتدي ژورنـالـيسـتان چې کـلـه د ژورنـالـيزم ډګـر تـه راځي ،د ژورنـالـيستيکي لـغـتونـو ،نـومونـو او اصطلاح ګـانـو سره بـلـد نـه وي، او نـه پـوهيږي چې کـومـه اصطلاح يـا لـغـت چيرتـه او څنګه وکـاروي.

زه پـه خپـلـه کـلـه چې پـه لـومړي ځل د ننـګرهـار پـه راډيـو ټـلـويـزيـون ريـاسـت کې مـقـرريـدلـم ،داداريې مـشر راتـه وويـل، عريـضه ولـيکه چې څه غـواړې؟

زه حيـران وم ،چې څه غـواړم ،څه ولـيـکم،چيرتـه دڅه شي پـه صفت مـقـرر شم،ځکه زه پـه دې نـه پـوهيـدم چې پـه کـومـه بـرخه کې چاتـه اړتـيـا شتـه چې زه هغـه وغـواړم ،لـکه خبـريـال، ژورنـالـيـست، نـطاق، پـروډيـوسر، تـخنيک ګـر، ارشيف مـامـور،کـه ايـډيـټريـا مـنـتـاژور،داهغـه نـومـونـه وو چې زه ورسره اشنـا نـه وم.

مـا پـه عريـضه کې ولـيکل چې زه د ادبـيـاتـو لـه پـوهنځي نـه پـه ښو نـمرو فـارغ شوی يـم،غـواړم پـه راډيـو ټـلـويـزيـون ريـاسـت کې د کـمبـود پـه بـست کې درسمي مـامـور پـه تـوګه پـه دنـده وګمارل شم،هيـلـه ده،زمـا دمـقـرري امـر پـراړونـدې ځانـګې ورکړئ.

رئـيس چې زمـا عريـضه ولـوستلـه مـوسکي شو،ويـل ښه هوښيـار يې کـه ځای دې مشخص کړی وای ،کيـدای شي درتـه مې ويـلـي وای ،چې کـمبـود نـشتـه،ډاډه اوسه ،مـقـرريـږې.

پـه هر حال کـلـه چې تـاسې پـه رسنيـو، پـه ځانـګړې ډول پـه راډيـو، ټـلـويـزيـون کې مـقـرريـږئ،دغـو ويـونـو سره مخ کيـږئ چې دغـه مـانـاوې لـري.

1. خبـريـال: داهغه مسلـکي شخص تـه ويـل کيـږي ،چې داداريې لـه خوا د خبـرونـو د راټـولـولـوپـه مـوخه تـوظيـفـيـږي،د پـېښو ،غـونډو ، کـنفـرانسونـو اونـورو خبـري مسايـلـو نـه خبـر جوړوي او خبـري سرويـس تـه يـې سپـاري.

2. ریپوړټر: د خبریال او ریپوړټر دندې تقریبا سره ورته دي،ریپوړټر خبرونه او پېښې رپوټ کوي او په خپل غږ یې په خبري سرویسونو کې وړاندې کوي.
3. ژورنالیست: هغه مسلکي شخص دی چې هم خبري مسایل رانغاړلی شي اوهم تلویزوني خپرونې وړاندې کولی شي.
4. پروډیوسر: تولیدونکي ته وایې،هغه مسلکي شخص دی چې د راډیوي یا ټلویزوني خپرونو لپاره متن لیکي،په مختلفو برخو یې ویشي،برنامه ډیزاینوي، تولیدوي او د ځانګړي مهارت له مخې پروګرام داسې جوړوي چې لیدونکواو اوریدونکو ته خسته کن نه وي،کله کله پروډیوسر د پروګرام وړاندې کوونکې هم وي،خو کله کله پروګرام نطاق یا ویاند ته سپاري،د هغه په غږ کې وړاندې کېږي.
5. نطاق: د ښکلي غږ او فصیحې لهجې لرونکې مسلکي شخص ته وایې چې مطالب او خبرونه وړاند ې کوي،البته دغه مواد دپروډیوسرانو ا و ،خبریالانو لخوا چمتوکېږي او دنطاق په غږ وړاندې کېږي،په اوسني ژورنالیزم کې مسلکي ژورنالیست هغه څوک وي،چې هم خبریال وي هم تخنیکګر او هم ایډیټر.

Ketabton.com

منتاژور :

منتاژور ته په انګلیسي کې ایډیټر ا و په پښتو کې سمونکی وایې،رسنی فرق کوي،په ځینو رسنیو کې ایډیټران بېل وي خو په ځینو کې هر پروډیوسر او هر خبریال په خپله ایډیټر هم وي.

هلته چې پروډیوسر په مستقل ډول کارکوي ،پروډیوسر دبرنامې لپاره مواد برابروي،لیکنه وربانډې کوي،په سټډیو کې یې ثبتوي،پخپله هم دایډیټر سره کیني،دمتن مطابق سموونه پکې کوي،د کټ او پسټ په واسطه تلویزیوني یا راډیویي برنامې جوړوي او دنشر لپاره یې د نشراتو مدیر ته سپاري.

همدارنګه ،کله چې خبریال سیمې ته د خبر پسې لاړ شي،مواد راټول کړي ،رپوټ ولیکي،په سټډیو کې یې ثبت کړي،ایډیټر د هغه غلطی اصلاح کوي ،انځورونه او غږونه پکې ځای پر ځای کوي او په خبري سرویس کې یې نشر ته سپارل کېږي.

په چاپي رسنيوکې ايډيټر ته د تصحيح مدير وايې،کله چې دورځپاڼې يا مجلې مطالب د مسول مدير لخوا راټول او کمپوز شي،پروف يې د تصحيح مدېر ته سپارل کېږي،هغه يې له سمونې وروسته بيرته مسول مدېر ته سپاري او هغه يې بيا د کمپيوټر کار يا کمپوزر په مرسته چاپ ته اماده او مطبعې ته يې د چاپ لپاره ورکوي.

تخنيک ګر: په غږيزو او انځوريزو رسنيو کې دوه ډوله تخنيک ګران موجود وي ،يوه ډله د تخنيکي وسايلو لکه ويډيو ،کمره ، ډي وي ډي او نورې کمرې ترميموي د يوماتيک چې د ثبت او ايډيټ ماشينونه دي،چارې پرمخ بيايې او کله چې تخنيکي عوارض رامنځته شي ،هغه رفع کوي.

دوهمه ډله تخنيکګران دليږدونکي ( فرستنده) دستګاوو وي،ددې انجينرانو سروکار د څپو او ليږد چارو سره وي ،په انګليسي کې ورته برودکاسټنګ او چلونکي ته يې بروډکاسټر وايې،کله چې نشراتي مواد د نشر لپاره چمتوشي ،ددغو تخنيک ګرانو لخوا د هوا څپوته ورکول کېږي او خلک يې په خپلو تلويزونو کې ګوري او د راډيو له لارې يې اوري.

يعني په هره راډيو او تلويزيون کې څلور څانګې فعالې وي.

1. آداري څانګه:دا څانګه اداري ،مالي ،تدارکاتي او لوجستيکي چارې پرمخ وړي، تقرر، انفکاک، ترفيع، د کارکونکو امتيازات له دې لارې ترسره کېږي.
2. د نشراتو څانګه: ټول نشراتي مواد له دې لارې تنظيميږي، د مارکيټنګ يا اعلاناتو برخه په اصل کې ددې څانګې اړوند وي خو اداري څانګه يې چارې سمبالوي.
3. تخنيک څانګه : د تخنيکي وسايلو دترتيب ،تنظيم،جوړولو او فعالولو مسوليت پرغاړه لري.
4. ليږدونکې څانګه : دپورته دريو اړو څانګو په ځانګړې ډول نشراتو د فعاليتونو د نشر وړ مواد د هوا څپو ته ورکوي.
5. ماډريټر : ماډريټر دغږيزواو نځوريزو رسنيو ورځنۍ نوکريوال ته وايي، رسنۍ دوه شفټه اوکله کله درې شفټه نوکريوالان ټاکي ،دا نوکريوالان په ژوندۍ بڼه په رسنۍ کې خپرونې وړاندې کوي، ثبتي خپرونو ته يو له بل سره لنک يا ارتباط ورکوي يعني هغه مواد چې د رسنۍ د ورځني مهال وېش سره سم وي،دهغه په رڼا کې خپرونې وړاندې کوي،په دغسې

نوكريواليو كې معمولن جندر مراعاتيږي. يعني يو تن نارينه او يوتن ښځينه نوكريواله موجود وي،له سهاره تر غرمې يو شفټ او له غرمې تر ماښام بل شفټ كاركوي،دا د اداري په امكاناتو پورې اړه لري چې څو شفټه ماډريټران ټاكي،خو ماډريټران تجربه كاره ژورناليستان وي،ځكه دوى دخپرونو ترمنځ د تشو ډكوونكي هم وي ،كه تجربه ونه لري ،نشي كولى خپرونو ته ښه لنک وركړي.

كپچر: داهغه عمليه ده،چې دايډيټر او پروډيوسرانو لخوا ترسره كيږي.

كله چې كمره مين خام مواد راوړي،هغه كمپيوټر ته دايډيټ په موخه وركوي دغې عملې ته كپچر وايې،چې پرمت يې ايډيټ يا سموونه صورت نيسي.

ايډيټينګ روم: دسمونې خونې ته وايې ،هلته چې څو ايډيټران ناست وي او د پروډيوسرانو سره په ګډه خام مواد په پخو موادو بدلوي او نشرته يې چمتو كوي.

بروټكاسټنګ روم: هغې خونې ته وايي،چې ليږدونكې دستګاه پكې ايښودل شوې وي،له دې لارې عملا خپرونې كيږي او خلک يې پخپلو راډيوګانو كې اوري او په خپلو ټلويزيونوكې يې ګوري.

نيوز روم: دې ته د خبرونو خونه وايې،كله چې خبريالان دكار له ساحې څخه راځې هريو،خپل كمپيوټر ته كيني يا خبرونه چمتو كوي ،يا خام مواد،يو تن تجربه كاره خبريال ته وركوي،هغه ترې خبر او رپوټ جوړوي.

سټديو: په راډيو او تلويزون كې تر ټولو محرم او محفوظ ځاي وي.چې عملا ثبت پكې صورت نيسي.دا خونه سونډ پروف يعني د غږ خونډې كوونكى ځاى وي ،په دوه ډوله دي:

1. ثبتي سټډيوګانې: هغه چې تلويزوني ،راډيوي برنامې ،ګردي ميزونه اوخبرونه پكې ثبتيږي.
2. لايف سټډيوګانې: هغه چې تلويزوني اوراډيويې برنامې خبرونه او ګردي ميزونه په ژوندۍ بڼه ثبت او خپريږي.سټډيوګاني په مسلكي ډول رڼا شوي وي او د رڼا بيلا بيل سپين ګروپونه او لايټونه پكې لګيدلي وي.

i. لايټ: رڼا ته وايې ،داسې برقي تم او ګرځنده رڼا ګانې وي چې د ثبت پر مهال له هغه نه استفاده كيږي.

ii. لايټ مين: هغه مسول شخص چې د اړتيا پر اساس نور يارڼا ويشي او لايټ استعمالوي.

iii. كمره مين: هغه مسول مسلكي شخص چې دكمرو په واسطه ،برنامې،مركې ،خپرونې او نورې خپرونې ثبتوي.

iv. ميک:د غږ ثبتونې هغې الې ته وايې چې پر مټ يې غږ شكلى او صفا ثبتيږي او د اضافي غږونو دثبتونې مخنيوى كوي.

Ketabton.com

v. سونډ ريکارډر: دادغږ ثبتوني او خوندي کوني ماشين يا بکس يا آلې ته وايي،چې مختلف ډولونه لري ،پخوا به ټيپ ريکارډر و،ساده بڼه يې لرله او فيته به يې خوړله، وروسته په ميني ډسک بدل شو ،ډسک به يې خوړه او د ايډيټ سيسټم پکې موجود وو،اوس د مرنتز په نوم واړه ماشينونه راوتلي چې ډير پروفيشنل دي چې د غږ ثبتونې، خوندې کونې ،ايډيټ ،ميکس اونورو ښه سيستمونه لري.

vi. کول ايډيت:دا هغه کمپيوټري پروګرام دی چې د غږ ثبتونې د ماشين پواسطه ثبت شوي مواد پکې ايډيټ کېږي،اضافي غږونه ،موزيک ،متن اونور پکې جوړېږي او خپرونې پکې بشپړيږي او نشر لپاره آماده کېږي.

vii. اکچويلتي: په ريپورټ کې داستفاده شوي غږ يا ويډيو برخې ته وايي.يعني کله چې خبريال د چا سره لس دقيقې مرکه وکړي،په رپوټ کې دهغه غږ (۳۰ــــ۴۰) ثانيو نه استفاده کوي،دغږ دغې ټوټې ته اکچويلټي وايې .

viii. ذګنال: هغه کليشه يې آهنګين او سندريزې برخې ته وايې چې پر مټ يې رسنۍ او خپرونه پيژندل کېږي.

ix. ارم: دخپروني لنډې پيژندنې ته ويل کېږي.

x. دخپرونو مهالويش : هغه زماني جدول ته وايي،چې د خپرونو مدير د رسنۍ لپاره ورځني مواد او خپروني د خپريدو او ثبتيدو وخت په شوداني سره پکې ځای پر ځای کوي او دليږدونکي دستګاه نوکريوال ته يې ورکوي او هره رسنۍ د همدې زمانې جدول په رڼا کې خپرونې وړاندې کوي.

له دې مهال ويش نه دباندې هر ډول خپرونې خپرول له اداری اصولو سر غړاوی دی چې د ادارې دمسئول لخوا تر پوښتنې لاندې راځي،البته فوق العاده مواد د ادارې د مشر په خوښه مستثنا دي.

xi. آرشيف: د خپرنيزو موادو خوندې کولو خونې ته وايې ،ټول هغه مواد چې په يوه رسنۍ کې خپريږي ،هغه ارشيف ته سپارل کېږي او هلته ساتل کېږي ،دارشيف کارکونکي د ځانګړې تجربې او پوهې لرونکي وي ،که څه هم کمپيوټر اوس دغه چاره ډيره اسانه کړيده .

دآرشيف نه دموادو ويستل دآدارې له اصولو نه سرغړونه او د مجازاتو وړ ده.

دآرشيف هوا د ترماميتر پواسطه نورمال ساتل کېږي ،چې مواد ته پکې زيان ونه رسيږي،درسنيو د قانون په رڼا کې ټول ثبت

شوي مواد حداقل تر نهه مياشتوپورې بايد په ارشيف کې وساتل شي،اوساتنه يې د ادارې په خوښه ده.

داهغه نومونه او مسلکي ويونه وو چې مبتدې ژورناليستان ورسره مخ کېږي،خو په مفهوم يې نه پوهيږي،زما ذهن ته همدومره راغلل کيداى شي نور نومونه هم وي،خو زما ذهن ته به نه وي راغلي،ګران زده کوونکي کولی شي ،په ګرځنده شميره چې په کتاب کې موجوده ده،داړتيا پرمهال پوښتنه وکړي او په ژورناليستيکي ويونو ،نومونو او اصطلاح ګانو ځان پوه کړي.

سرچينې


1. احمدزى ، اميرجان وحيد. ژباړن (۱۳۸۹ ل . کال) .کالم،فيچراو تبصره .دانش خپرندويه ټولنه - پيښور.
2. ايتول ، بروس دى.(۱۳۸۷ ل. کال) .تود خبر او سوړ خبر.ژباړن ببرک مياخيل . مومند خپرندويه ټولنه - ننګرهار.
3. توکلي،احمد.(۱۳۸۹ل.کال).مرکه.ژباړن: محمد آصف شينوارى .دانش خپرندويه ټولنه - پيښور.
4. حليم ،صفيه.(۱۳۹۱ل.کال).ژورناليزم.مومند خپرندويه ټولنه -ننګرهار.
5. شاهد،ايس ايم.(۱۳۸۷ل.کال).رسنيزه څيړنه.ژباړن :نذيراحمد سهار.دختيځې سيمې ليکوالو او ژورناليستانو خپلواکه ټولنه - ننګرهار.
6. علي ،ارشد.(۱۳۸۷ل.کال).راډيويي ژورناليزم .ژباړن : اميرجان وحيد احمدزى .دختيځې سيمې ليکوالو اوژورناليستانو خپلواکه ټولنه- ننګرهار.
7. مور،جف پريد.(۱۳۸۷ل.کال).په رسنيو کې د کار الفباء،درې ژباړن :بې تاغفاري.پښتو ژباړن : محمد آصف شينواري .دختيځې سيمې ليکوالو او ژورناليستانو خپلواکه ټولنه -ننګرهار.
8. مومن،مسعود.(۱۳۹۱ل.کال).دسولې ژورناليزم .ميديوتيک افغانستان -کابل.


Ketabton.com

9. مومن ،مسعود.(۱۳۹۲.کال).انتخاباتي ژورناليزم .میدیوتیک افغانستان - کابل.

10. وفا ،محمد داود .(۱۳۸۸ل.کال.)د نوي ژورناليزم بنسټونه .دننگرهار د رسنیو کور(دمیدیوتیک ټولنیز مرکزونه).

11. نوري بیلابیلې رسنۍ...

12.

Ketabton.com

Ketabton.com